

# قرآن پوهنه

## (مختصر علوم القرآن)

**(د ټولو علومو بنیاد او بنسټ)**

لیکوال : حمدالله شاکري

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿رَبَّنَا ٱغۡفِرۡ لَنَا وَلِإِخۡوَٰنِنَا
ٱلَّذِينَ سَبَقُونَا بِٱلۡإِيمَٰنِ
وَلَا تَجۡعَلۡ فِي قُلُوبِنَا غِلّٗا لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ
رَبَّنَآ إِنَّكَ رَءُوفٞ رَّحِيمٌ ١٠﴾

# دمطالبو لړلیک

## لـومړی فـصل

## علـوم الـقـرآن


د علوم القرآن تعریف او هدف: ............................................... 11
د علوم القرآن د حاصولو اهمیت :............................................. 12
د علوم القرآن موضوعات : ................................................... 13
علوم القرآن کله مینځته راغی ؟................................................ 13
د علوم القرآن د تدوین پیل : ................................................. 16
د قرآنکریم تعریف:............................................................. 17
د قرآنکریم او حدیث قدسي تر مینځ ځینې فرقونه : ......................... 18
د قرآنکریم فضیلت : ............................................................ 18
د قرآنکریم د فضیلت څو مثالونه د قرآن په ژبه : ........................... 19
د قرآن د زده کړي او نورو ته د ور زده کولو فضیلت :.................. 20
د قرآنکریم د تلاوت فضائل :.................................................. 21
د ماهر قرآن مقام او منزلت :.................................................. 22
د قرآنکریم شفاعت : ............................................................ 22
درى ډلي به بې حسابه جنت ته داخلیږي :.................................... 24
د قرآنکریم تلاوت کوونکي په غافلینو کي نه شمیرل کیږي :............ 24
د قرآنکریم په تلاوت کوونکو د سکنې نزول : ............................. 25
د قرآنکریم د ځینو سورتونو او آیتونو فضیلت او بې شمیره ګټې : ..... 25
د البقرې او آل عمران سورتونو فضیلت :..................................... 26
د آیت الکرسي تلاوت کول : ................................................... 26
د سورة الکهف فضیلت : ...................................................... 27
د سوره اخلاص (قل هو الله) د تلاوت فضیلت :............................ 28
د معوذتینو (قل اغوذ برب الفلق او قل اغوذ برب الناس) تلاوت فضیلت: ..................................................................................... 29
د قرآنکریم د تلاوت آداب ...................................................... 29


## دوهم فـصل

## د وحې پـیـل


د وحی تعریف :.................................................................. 34
د وحي تقسیم :.................................................................. 35
۱- په خوب کې وحی : ........................................................ 37
۲- په زړه کې وراچول : ...................................................... 37

۳- د الله تعالی کلام له خپل نبي سره د پردې تر شا : ...................... 38
ب): د ملائکې په وسیله وحی : ................................................. 38
۱- د ملائکې په اصلي شکل راتلل : ........................................... 38
۲- د سړي په شکل راتلل : ..................................................... 39
۳- د زنگ د کړنگار په شکل راتلل : ........................................... 39
وحی ته د امت اړتیا : ........................................................ 40
د قرآن نزول.................................................................. 41
بیت العزت ته د یو ځل نزول حکمت : ........................................ 41

## دریـیـم فـصل

## عـلـم اسـبـاب نـزول

د اسباب نزول د پیژندلو فوائد : ............................................. 44
لومړۍ فائده: د شرعي حکم د تطبیق او عملي کولو د حکمت پیژندل.. 44
دوهمه فائده: د نزول د تعین پیژندل : ....................................... 45
دریمه فائده: د آیتونو په فهم او پوهېدو کې مرسته : .......................... 46
څلورمه فائده: د حفظ او یادولو آسانتیا : .................................... 47
د اسباب نزول پیژندلو طریقه : ............................................... 48
۱- د اسباب نزول د پیژندلو طریقه روایت دی : .............................. 48
۲- د اسباب نزول په باره کې د علماؤ مواظبت : .............................. 48
۳- په علوم القرآن کې د اسباب نزول مستقل باب : ............................ 48
۴- په تفاسیرو کې د اسباب نزول ذکر :......................................... 49
۵- مستقل تألیفات : ............................................................ 49

## څـلـورم فـصل

## تـاریـخ الـقـرآن (عـلـم مـکـي ومـدنـي)

د مکي او مدني تعریف :...................................................... 50
د مکي او مدني تر مینځ فرق :................................................. 50
مکي سورتونه :................................................................ 50
مدني سورتونه : .............................................................. 50
د مکي او مدني سورتونو پیژندل : ............................................. 51
د مکي سورتونو د پیژندلو ضوابط :............................................ 51
د مدني سورتونو د پیژندلو ضوابط :............................................ 52
د مکي او مدني سورتونو پیژندلو فوائد :....................................... 52

## پـنـځم فـصل

## دقـرآن کـریـم تـرتـیـب او جمع

د جمع القرآن معنى :........................................................................ 54
د قرآنكريم د حفظ حكم :................................................................ 54
په سينو كې د قرآن د يادولو تاريخ :........................................... 54
٢- د قرآنكريم كتابت:.................................................................... 55
د قرآنكريم د كتابت مراحل :.......................................................... 55
اول – په دور نبوي صلى الله عليه وسلم كې د قرآن كتابت :............ 55
دوهم – دور ابوبكر صديق رضى الله عنه :........................................ 57
دريم –دوره عثمان رضى الله عنه :................................................ 57
٣- د قرآن كريم صوتي ثبت :.......................................................... 58
د آيت تعريف :................................................................................ 59
د قرآنكريم د آيتونو ترتيب :.......................................................... 59
د سورت تعريف :........................................................................... 59
د سورتونو ترتيب :......................................................................... 59
د قرآنكريم د سورتونو، آيتونو او نورو شمير :................................. 59

شپږم فصل

علم التفسير

تعريف علم تفسير :........................................................................ 61
تأويل :......................................................................................... 61
د تفسير او تأويل فرق :.................................................................. 61
د علم تفسير حكم :........................................................................ 61
د علم تفسير پيدايښ:...................................................................... 61
مثال د قرآن تفسير په قرآن سره :.................................................. 62
مفاتح الغيب څه دي ؟...................................................................... 63
د صحابه كرامو په عهد كې تفسير :................................................ 63
د علم تفسير مدارس :...................................................................... 64
د علم تفسير منابع.......................................................................... 64
د علم تفسير ډولونه :...................................................................... 65
اول – تفسير بالمأثور (بالروايه):................................................... 66
د تفسير بالمأثور مشهور كتابونه :................................................... 66
دوهم – تفسير بالرأى (بادرايه):...................................................... 67
د تفسير بالرأى مشهور تصنيفات :................................................... 67

اوم فصل

علم اصول التفسير

تعریف : ........................................................... 69
د علم اصول التفسیر موضوعات : ........................................... 70
د علم اصول تفسیر مشهور کتابونه......................................... 70
د مفسر شرطونه : ......................................................... 70
د مفسر آداب : ........................................................... 76

آتم فصل

علم الناسخ والمنسوخ

د ناسخ او منسوخ تعریف : ................................................ 77
د النسخ د ثبوت دلائل : .................................................. 77
د نسخ حکمت :........................................................... 78
د منسوخ شویو آیتونو ډولونه :............................................. 79
مثال، قیام لیل :........................................................... 79
د نفس محاسبه :.......................................................... 80
حق تقوی : .............................................................. 80
د قرانکریم د ناسخ او منسوخ آیتونه :..................................... 81
۱- د خمر (شرابو) تدرجي حرمت :.......................................... 81
د النسخ د علم مشهور کتابونه : ........................................... 82

نهم فصل

علم اعجاز القران

تعریف اعجاز : .......................................................... 83
د قرآنکریم اعجاز : ...................................................... 84
د قرآنکریم د اعجاز څو مثالونه :.......................................... 86
اول- عبارتي او لفظي اعجاز : ............................................ 86
دوهم- علمي اعجاز : .................................................... 91
۱- د روم د فتحې خبر ..................................................... 92
موقع الأرقام لیکي : ...................................................... 92
۲- د بحرونو د طبقو خبر : ................................................ 93
۳- د لمر، ځمکې او سپوږمۍ ګردش :....................................... 94
۴- د مور په رحم کې د انسان د پیدایش خبر:................................ 94
۵- د فرعون د غرق کېدو خبر :............................................ 96
څلورم- د نړیوالتوب اعجاز : ............................................. 97

لسم فصل

علم المحکم والمتشابه

تعريف المُحكم : ........................................................ 98
المُتشابه (المُشتبة) :................................................... 98
د متشابهاتو حکمت څه دی ؟ ................................... 99

يــوولــسم فـصل

عـلـم الـقـراآت

تعريف :........................................................................ 100
د قرآئت د اختلاف حکمت : ............................................... 101
د صحابه کرامو مشهور قاريان :.......................................... 102
د قرآنکريم تعليم او حفظ : ................................................. 105
د قرآنکريم د زدکړې درې لارې :.......................................... 106
د قرآن لوستلو او نالوستلو ته لنډ پيغام : .......................... 107
د قرآنکريم د حفظ د پاره څو قاعدې:.................................. 108
د قرآنکريم د حفظ وخت او زمان: ........................................ 110

دولــسم فـصل

اعـراب الـقـران الـكـريـم

د اعراب اهميت :.............................................................. 111
د علم اعراب القرآن پيدايښت :............................................ 112
د علم اعراب ګټې :............................................................ 112
د اعراب القرآن ضوابط :..................................................... 112
د إعراب القرآن مشهور کتابونه :........................................... 113

ديـارلـسم فـصل

دقـران کـريـم پـه اړه څـو مـهـم احـکـام

ديارلسم فصل................................................................ 113
د قرآنکريم په اړه څو مهم احکام ....................................... 113
د قرآنکريم د عربي متن پرته ژباړه : .................................... 113
د کمپيوټر، موبايل له مخې د قرآنکريم اورېدل څه حکم لري ؟........ 115
د کمپيوټر له مخې تلاوت د اوداسه څخه بغير جايز دی ؟ ............. 116
د کمپيوټر او موبايل نه د قرآنکريم په اوريدلو سجده تلاوت واجبيږي ؟
117 .....................................................................
د قرآنکريم په تلاوت کې د خشوع اسباب څه دي ؟...................... 119
د زړه د کلکوالي اسباب : .................................................. 120
د قرآن تلاوت د معنی نه پوهيدو په صورت کې ثواب لري ؟ ......... 122
په شريکه سره د قرآنکريم ختم کول څه حکم لري ؟ ................... 124

مأخذونه.............................................................. 136

## سـريـزه

الحمدلله رب العالمين والصلاة والسلام على سيدنا محمد صلى الله عليه وسلم ،وعلى آله وأصحابه و التابعين ... وبعد.

قرآنكريم د الله تعالى د جانبه ټول بشريت ته رحمت، هدايت او لارښوونه ده، قرآنكريم د اسلامي شريعت قانون دى.

هر چا چې د قرآن لاره تعقيب كړه هغه د الله تعالى رضا حاصله كړه، او هر چا چې قرآن پرېښود هغه د طاغوت لاره اختيارهٔ كړه او ګمراه شو.

څوک چې د الله تعالى رضا، هدايت، شرعي قانون او نظام، د عذاب څخه نجات او سعادت غواړي هغوى دې په قرآن منګولې و نيښلوي او څوک چې د قرآن څخه پرته بله لاره او بل قانون غواړي د هغه لپاره هدايت او سعادت نشته.

څرنګه چې قرآن د اسلامي شريعت او ټولو شرعي علومو مصدر دى ، د قرآن پوهنې لپاره علوم القرآن ضروري علم دى .

كله مې چې دغه علم او مضمون ولوست نو د هغه په اهميت پوه شوم چې دا ډير اهم او ضروري علم دى نو د لاندې اهدافو په لرلو سره مې د دغه كتاب په ليكلو پيل وكړ :

١- د جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم متابعت كول دا چې ماته الله تعالى دغه لږ علم په علوم القرآن كې راكړ نو دا زما سره امانت شو زه يې نورو مسلمانانو ته رسول غواړم ، ځكه چې رسول الله صلى الله عليه مونږ ته حكم كړى دي چې :«بلغوا عني ولو آية» (صحيح البخاري ) .

ژباړه: ورسوئ زما څخه (خلكو ته دين ) كه څه هم يو آيت وي.

۲- په ملي ژبه کې مې د علوم القرآن په نوم کوم مستقل چاپ شوی کتاب نه دی لیدلی نو ځکه مې د دغه کتاب د لیکلو اقدام وکړ .

۳- علماؤ او زده کوونکو ته د دغه علم د اهمیت ور پیژندل ، ځکه چې په رسمي درسي نصاب کې د علوم القران په نوم کوم مضمون نشته او هم په خصوصي درسونو کې دې علم ته څه توجه نشته ، اکثره علماء کرام د علوم القران پرته د تفسیر زده کړه پیل کوي او یا د تفسیر د تدریس اقدام کوي چې د علم تفسیر څخه مخکې علوم القران او اصول تفسیر یا د تفسیر کولو شرعي طریقه زده کول مهم دي او ددې علم پرته به د علم تفسیر خامخا ناقص وي .

۴- د الله تعالی مهربان دربار ته هیله من یم چې الله تعالی مې د دغه وړوکې کتاب او د دین په لاره کې وړکې اقدام په وجه د قرآن او اهل قرآن د خادمان په ډله کې وشماري . او دغه هڅه د مسلمانانو لپاره دیني فائده او د مؤلف او خپرونې لپاره صدقه وګرځي .

ددې کتاب ځانګړتیاوې :

۱- دا کتاب د اسلامي شریعت د نصوصو په رڼا کې ترتیب شوی دی ، د هوا او خپل نظر یو خبره هم پکې نشته بلکي هره خبره یې په شرعي نص ثابته شوې ده .

۲- ددې کتاب په ليکلو کې ډيره استفاده د علوم القرآن د ستر امام ، امام سيوطي رحمه الله د کتاب «مختصر اتقان في علوم القرآن » او د اکادمي اسلامي د (علوم القرآن / دوکتور عبد الحكيم العجلان) کتاب څخه استفاده شوې ده ، اتفاق في علوم القرآن تر ټولو معتبر کتاب دی او د اکاديمي الاسلامي علوم القرآن ددې نړيوال ديني مرکز درسي نصاب دی.

۳- ددې کتاب مهمه ځانګرتيا دا ده چې د علوم القران د حاصلولو فائده او د ځينې مطالبو حکمت هم پکې بيان شوی دی ، مثلاً بيت عتيق ته د قرآن د يو ځل نزول حکمت څه دی ؟ ، د ناسخ او منسوخ حکمت څه دی ، د محکم او متشابح احکامو حکمت څه دی؟ او داسې نور .

۴- په دې کتاب کې د امکان تر حده کوښښ شوی دی چې مطالب يې په ساده او روانه ژبه ترتيب شوي دي او هر مطلب د ضرورت موافق تشريح شوی دی .

په آخر کې دا کتاب د توحيد او وحدانيت پرستی ټاټوبي افغان ولس ته ډالی کيږي ، هغه ولس چې هيڅ کله يې کفر او طاغوت ته سر نه دی ټيټ کړی او تل يې د طاغوت پر وړاندې کلکه مبارزه کړې او کوي يې.

او په همدې قرآنکريم يې ډيرې قربانۍ ورکړې دي نو مونږ ته ښايي چې ددې قرآن پوهه حاصله کړو .

ټولو ورونو او خويندو نه مو دا غوښتنه ده چې دغه کتاب په ډير اهتمام او دقت سره ولولئ او نورو ورونو او خويندو ته يې

ورسوئ په خاصو توګه له علمي مراكزو څخه هيله كيږي چې دغه كتاب پخپل درسي نصاب كې شامل كړي په دې كتاب كې د علوم القرآن (قرآن پوهنې ) ټول ضروري احكام او مسائل جمع شوي دي .

و ماتوفيقي الا بالله عليه توكلت و اليه انيب

حمدالله "شاكري" غفره الله و لوالديه

علم شرعي : طالب العلم الاكاديمية الاسلامية ، رياض

علم عصري : انجنيري ، كابل پوهنتون

خپرونه : قابله دعوت الى الله (آن لاين اسلامي لاربنود )

www.dawat610.com

# لـومړی فـصل
# عـلـوم الـقـرآن

### د علوم القرآن تعريف او هدف:

علوم القرآن د قرآنکريم د نزول، ترتيب، د قرآنکريم جمع، کتابت او تدوين، تفسير، اعجاز قرآن او ناسخ او منسوخ څخه بحث کوي.

علوم جمع علم دی او علم د يو شي درک کولو ته وايي، يا علم د جهل او ناپوهی ضد دی.

علوم عموماً په دوو برخو ويشل شوي علوم آله او علوم مقاصد.

علوم مقاصد کوم چې علماؤ ذکر کړي دي عبارت دي له: علم عقيده او علم فقه، يا فقه أکبر او فقه جوارح.

علوم آله عبارت دي له: علوم القرآنکريم، اصول الفقه، علوم اللغة او علم مصطلح الحديث.

دغو علومو ته علم آله ځکه وايي چې د نورو علومو د زده کړې لپاره آله، وسيله او خدمت دي، لکه: مصطلح الحديث د حديث خادم دی چې د مصطلح الحديث پرته د حديث علم څوک نشي حاصلولی مثلاً: مونږ په مصطلح الحديث يا علم الحديث کې وايو چې: شاذ حديث، منکر او د صحيح او حسن شرائط او داسې نور لولو چې ددې علم پرته د حديثو پيژندل د قبول او رد له مخې ناشوني دي.

همدارنګه اصول الفقه د فقه د زده کړې آله ده، مثلاً په اصول فقه کې وايو چې: أمر، نهی، علم، خاص، مطلق، مقيد، مجمل، مبين، ناسخ او منسوخ او داسې نور...

چې ددې شيانو د زده کړې څخه پرته د فقهې زده کول ناشوني دي چې دې ته د شريعت فرعي احکام وايي.

همدارنګه علوم القرآن د قرآن د زده کړې آله ده چې د قرآنکريم نزول، اسباب نزول، د قرآنکريم د کتابت او تدوين،

جمع قرآن ،اصول تفسير، د تفسير طريقه، ناسخ او منسوخ او نورو څخه بحث کوي چې د علوم القران پرته د قرآن پوهه ناشونې ده.

**د علوم القرآن د حاصولو اهميت :**

قرآنکريم د اسلام او اسلامي شريعت لومړی اساسي مصدر دی د قرآنکريم د صحيح زده کړې په وسيله سړي د اسلامي شريعت له احکامو او اصولو په صحيح شان پوهېدلای شي ځکه عادي کسان د عقائدو، عباداتو، معاملاتو، ميراث، عقوبات، سياست او نور کې خطا کيږي.

پس علماء د أنبياؤ وارثان دي چې دوی به عامو خلکو ته لارښوونه کوي او هغوی به له خطا څخه ژغوري.

په قرآنکريم او سنتو کې د ټولو مشکلات حل شته هغه که فرد دی، ټولنه ده او که دولت او حکومت دی.

نن ډير حکومتونه چې ځانونه مسلمان او د اسلامي حکومت داری دعوی لري قرآن او سنت يې ترک کړي دي د بشر په ساختګي قوانينو باندې عمل کوي چې دا د قرآن او ايمان سره لويه جفا ده. ترکي عالم نظام الدين إبراهيم اوغلو په خپل کتاب «علوم القرآن» کې ليکلي دي :

دا چې قرآنکريم د حق لارښوونکی دی سربيره پر هغه چې د علم او طبعيت يو علمي معجزه هم ده، د قرآنکريم تقريباً (۶۷۰) آيتونه د علم څخه بحث کوي.

الله سبحانه وتعالی پخپل فضل ټول علوم د قرآنکريم او انبياء عليهم السلام د وحي، د صالحو کسانو د کراماتو او فکر او همدارنګه د ځينو کسانو د خوب او الهام په ذريعه بيان کړي او انسان په دې باندې وتوانيد چې د نن عصر موجود علوم کشف کړي ځکه الله سبحانه وتعالی انسان ته د موجوده علومو د کشف او اختراع توان ورکړې دی چې هغه د انسان مغز دی چې په ميليونو حجرې پکې شتون لري.

همدارنگه الله سبحانه وتعالی مونږ ته د اسلامي شريعت په ذريعه د ژوند کولو طريقه بيان کړې او د هغه د پاره يې واضح احکام رالیږلي دي چې بل څوک يې د تغير هيڅ صلاحيت نلري.

مثلاً د امنيت او ټولنيز ژوند طريقه چې بل ته هر قسم ضرر رسول حرام دي او د ضرر رسولو په صورت کې د حدودو د پلې کولو قانون وضع شوی دی.

د ځمکې پر مخ چې د انسان د استفادې او کتې لپاره کوم شيان دي د هغه د استفادې او استعمال طريقه، حلال او حرام راته بيان شوي دی.

لنډ دا چې قرآن د حق او عدالت قانون او د بشر د ژوندانه لارښود دی او علوم القرآن د دغه سپيڅلي کتاب د پيژندو وسيله ده.

**د علوم القرآن موضوعات :**

۱- علم أسباب النزول، ۲- علم المکي او المدني، ۳- علم التفسير ،۴- علم اصول تفسير، ۵- علم الناسخ و المنسوخ،۶- علم القراءات،۷- علم اعجاز القرآن، ۸- علم التجويد ،۸- علم رسم المصاحف (رسم القراني)، ۹- علم غريب القرآن، ۱۰- علم محکم و المتشابه فی القرآن.

**علوم القرآن کله مينځته راغی ؟**

علوم القرآن د قرآنکريم د لومړي آيت د نزول سره سم مينځته راغی ځکه د قرآن د نزول پيل او دا چې لومړي او آخر کوم آيت نازل شوی او نور د علوم القرآن څخه دي.

لکه څنګه چې صحيح بخاري له عايشې رضی الله عنها نه روايت نقل کړی دی چې هغه وايي :

د رسول اکرم صلی الله عليه وسلم د وحې پيل له نيکو او ښو خوبونو څخه پيل شوی ؤ،هرخوب به يې چې وليد د سپين سهار په څير به ښکاريده بيا ورته ګوښه ژوند کول غوره

ښکاره او د حراء په غار کې له خلکو ليرې به يې څو شپې مسلسلې د الله تعالى عبادت کاوه د دغو ورځو مصرف به يې له کوره وړلو او چې کله به يې توښه خلاصه شوه بيا به بى بى خديجې ته ورتلو او هغومره توښه به يې نوره اخيستله ترڅو د حراء په غار کې ورته حق راغی .

ملائکه ورته راغله او ويې فرمايل ولوله!

نبی صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل :زه لوستونکی نه يم.

نبی صلی الله عليه وسلم فرمايې: بيا ملائکې زه په غيږ کې ټينګ ونيولم اوښه يې ټينګ کړم بيا يې پريښودم او ويې فرمايل ولوله!

ما وويل زه لوستونکی نه يم تر دې چې درې ځلې يې زه ټينګ کړم بيا يې خوشې کړم او ويې فرمايل:

[اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ* خَلَقَ الإِنسَانَ مِنْ عَلَقٍ* اقْرَأْ وَرَبُّكَ الأَكْرَمُ* الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ *عَلَّمَ الإِنسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ] (العلق).

که په پورته حديث کې فکر وکړو نو مونږ ته به څرګنده شي چې د علوم القرآن پيل د وحی د پيل سره سم پيل شوی دی لکه: د قرآنکريم اول نازل شوی آيت، د وحی کيفيت، همدارنګه په رسول الله صلی الله عليه وسلم باندې څنګه وحی راغله، همدارنګه د قرآن نزول د ليلة قدر په شپه.

همدارنګه امام بخاري د حضرت جابر رضی الله عنه روايت نقلوي چې د وحي د وقفې نه وروسته په رسول الله صلی الله عليه وسلم باندې لومړی د مدثر سورت نازل شو.

مګر په ځينې رواياتو کې راغلي دي چې د وحی د وقفې او ځنډ پر مهال په رسول الله صلی الله عليه وسلم باندې سخت غم او پريشاني راغله دا چې هغه غره ته پورته شو او غوښتل يې خپل ځان وغورځوي دا صحيح نه ده، دا حديث د الزهري له بلاغاتو څخه دی او د رسول الله صلی الله عليه وسلم له کلام

ځخه نه دی او نه هم دا کار د پیغمبری له شانه سره مناسب دی د علم حدیث علماء دا روایت ضعیف بللی دی.

وهو ما ورد في بعض روايات أن النبي -صلى الله عليه وسلم- كان يصعد إلى جبل، فيريد أن يُلقي نفسه، أنه لا يصح، هذا الحديث هو من بلاغات الزهري، وليس من كلام النبي -صلى الله عليه وسلم-، فلنتنبه لهذا، وهذا تجل عنه النبوة، ونبَّه عليه أهل الحديث، وبيَّنوا ضعف هذه الرواية (علوم القرآن الاكاديمية الاسلامية – دوکتور عبد حکیم العجلان).

همداسې په دور صحابه، دور خلفاء راشدینو کې علوم القرآن نشأت کړی دی، خلفاء راشدین (ابوبکر، عمر، عثمان او علی رضی الله عنهم اجمعین) ټول په قرآنکریم باندې ښه پوه وو، خو دا چې نظر ابن عباس او ابن مسعود ته د دوی مبارکانو ځخه علمي اثار کم روایت شوي دي ددې علت دا دی چې هغوی د خلافت په چارو بوخت وو.

د خلفاء راشدینو په وخت کې د اسلامي امت سرحدات پراخه شول او صحابه کرام رضی الله عنهم د اسلام د مبارک دین او علم د نشر لپاره په نړی کې تیت شول، چې په لومړي پیل کې لاندې مدارس مینځته راغلل :

**د مکې مکرمې مدرسه:** چې د حضرت ابن عباس رضی الله عنه په سرپرستی جوړه شوه او زده کوونکي يې ابن عبدالله عباس، سعید بن جبیر، عکرمه او مجاهد بن جبیر او نور وو.

**د مدینې منورې مدرسه:** چې د حضرت ابی بن کعب الأنصاري رضی الله عنه په سرپرستی جوړه شوه.

**د کوفې مدرسه:** چې د عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه په سرپرستی جوړه شوه او زده کوونکي يې ابن علقمه او نور وو.

همداسې علوم القرآن په دور تابعينو کې نشأت کړی دی او د هغه نه وروسته ددې علم تصنيفات پيل شوي دي.

**د علوم القرآن د تدوين پيل :**

علوم القرآن په عهد نبي صلى الله عليه وسلم، عهد صحابه رضى الله عنهم او عهد تابعينو کې په شفوي شکل وو، ځينو تابعينو لکه: مجاهد، عکرمه او نورو په دې علم کې څه ليکنې لرلې.

ددې نه وروسته د قرآن، حديث، تفسير او علومو تدوين د ضايع کېدو له وېرې پيل شو چې په لاندې ډول دي :

لومړی کتاب چې د علوم قرآن څخه بحث کوي " الوقف والابتداء" دی د هغه نه وروسنه کتاب د " الناسخ والمنسوخ " چې ابی عبدالله القاسم بن سلام ليکلی دی او د هغه وروسته کتاب د "غريب القرآن" دی چې عطاء بن ابی رباح تابعي ليکلی دی او د هغه څخه وروسته لاندې کتابونه تدوين شوي دي :

کتاب د "فهم القرآن" چې حارث المحاسبي ليکلی دی.

کتاب د "التنبيه على بعض علوم القرآن" چې ابن حبيب نيساپوري ليکلی دی.

کتاب د "فنون الأفنان في علوم القرآن" چې ابن جوزي ليکلی دی.

کتاب د "جمال القراء وكمال الإقراء" چې سخاوي ليکلی دی.

کتاب د "البرهان في علوم القرآن" چې لبدر الدين زرکشي ليکلی دی.

کتاب د الاتقان في علوم القرآن" چې سيوطي ليکلی دی.

او د هغه نه وروسته معاصرو علماؤ په نومړي علم کې ډير کتابونه ليکلی دي.

**د قرآنکريم تعريف:**

د قرآن لفظ مصدر دی چې د (قرأ، يقرأ، قرآءة او قرآناً) څخه اخيستل شوی دی چې لوستل شوي ته وايي او ځېنې علماء وايي قرآن د (قرنَ) له فعل څخه اخيستل شوی چې جمع شوي ته وايي.

لقوله سبحانه وتعالى :[ أَنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُ وَقُرْآنَهُ فَإِذَا قَرَأْنَاهُ فَاتَّبِعْ قُرْآنَهُ] (القيامه ١٧-١٨).

ژباړه: يقيناً پر مونږ د هغه را ټولول او پر تا تلاوت کول دي، نو کله چې مونږ (د ملائکی په واسطه) پر تا تلاوت کړو د لوستو يې پيروي وکړه.

او ځيني علماء وايي چې قرآن اسم مشتق نه دی بلکي اسم جامد دی چې په مطلق ډول د قرآن لپاره دی لکه: انجيل او تورات.

په اصطلاح کې قرآنکريم د الله تعالی کلام دی چې د جبرئل په واسطه په رسول الله صلی الله عليه وسلم باندې نازل شوی دی او مونږ ته په تواتر سره رسېدلی دی.

او ځېنې علماء کرام يې داسې تعريفوي: کلام الله حقيقة المنزل على محمد صلى الله عليه وسلم المتعبد بتلاوته.

کلام الله: يعنې قرآن يوازې د الله تعالی کلام دی نه د بل هيچا، حديث، شرعي خطبه او نور ته قرآن نه ويل کيږي.

حقيقة: يعنې قرآن په حقيقت سره د الله سبحانه وتعالی کلام دی څنګه چې د ده د بلا کيف شان سره ښايي.

المنزل على محمد: يعنې دغه قرآن هغه کتاب دی چې پر محمد صلی الله عليه وسلم نازل شوی دی، او کوم کتاب چې محمد صلی الله عليه وسلم نه وي نازل شوی هغه ته قرآن نه ويل کيږي.

المتعبد بلاوته: يعنې د تلاوت وړ، مثلاً حديث قدسي غير متعبد بلاوته دی يعنې: تلاوت يې په لمانځه او نورو نه کيږي.

**د قرآنکریم او حدیث قدسي تر مینځ ځینې فرقونه :**

۱- قرآنکریم د الله تعالی کلام دی چې لفظ او منعی یې د الله تعالی له طرفه ده او د حدیث قدسي معنی د وحی په وسیله د الله تعالی د طرفه ده مګر لفظ یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له خوا تړاکل شوی وي.

۲- قرآنکریم د الله تعالی معجز کلام دی د عبادت په ډول تلاوت کیږي (د هر حرف په تلاوت باندې لس نیکۍ لیکل کیږي) مګر حدیث د عبادت په ډول نه تلاوت کیږي.

۳- د قرآنکریم د معنی روایت کول بدون له لفظ څخه حرام دي همدارنګه د قرآنکریم مسح کول د بې اودسه او جنوب د پاره جایز نه دي.

۴- قرآنکریم په تواتر مونږ ته را رسیدلی که څوک د قرآن حتی په یو حرف کې شک وکړي او له هغه څخه منکر شي کافر دی مګر په حدیث قدسي کې صحیح، حسن او ضعیف شته.

(علوم القرآن – الاكاديمية الاسلامية).

**د قرآنکریم فضیلت :**

قرآنکریم د الله تعالی د جانبه ټول بشریت ته رحمت، هدایت او لارښوونه ده، قرآنکریم د اسلامي شریعت قانون دی، قرآنکریم د ټول طاغوت، باطل، رزائلو او منکراتو پر وړاندې د حقې او رښتنې الهې لارې لارښود کتاب دی، قرآنکریم د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم د رسالت میراث دی، نن زمونږ په عصر کې نه وحی شته او نه هم پیغمبر بلکې د الله تعالی او د هغه د مخلوق تر مینځ د ارتباط وسیله یوازې قرآن دی، د قرآن په نزول سره د وحی او رسالت سلسله ختم شوی دی.

هر چا چې د قرآن لاره تعقيب کړه هغه د الله تعالى رضا حاصله کړه، او هر چا چې قرآن پرېښود هغه د طاغوت لاره اختياره کړه او ګمراه شو.

څوک چې د الله تعالى رضا، هدايت، شرعي قانون او نظام، د عذاب څخه نجات او سعادت غواړي هغوی دې په قرآن منګولې و نيبلوي او څوک چې د قرآن څخه پرته بله لاره او بل قانون غواړي د هغه لپاره هدايت او سعادت نشته.

**د قرآنکريم د فضيلت څو مثالونه د قرآن په ژبه :**

١- د الله تعالى رښتنى بر حق کلام دى:

ذَلِكَ الكِتَابُ لَا رَيْبَ فِيهِ هُدًى لِلْمُتَّقِينَ (البقرة ٢).

ژباړه: دا د الله کتاب دی هيڅ شک پکې نشته د پرهيزګارانو لپاره لارښوونکی دی.

٢- د ټولو خلکو د پاره هدايت دی :

كِتَابٌ أَنْزَلْنَاهُ إِلَيْكَ لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ (ابراهيم ١).

ژباړه: (ای پيغمبره !) دا کتاب مونږ تاته نازل کړی دی چې پرې خلک د هغوی د رب په مرسته له تيارو نه د رڼا په لور را وباسې.

د [الناس] کلمه عامه ده ، د ټولو خلکو لپاره .

٣- قرآنکريم د پرهيزکارانو لپاره پند او هدايت دی.

وَهُدًى وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِينَ (المائده :۴۶).

ژباړه: او هدايت او پند دی لپاره د پرهيزګارانو.

(للمتقين] نه مراد رجوع کوونکي او حق ته غاړه اېښودونکي دي .

هَـذَا بَيَانٌ لِّلنَّاسِ وَهُدًى وَمَوْعِظَةٌ لِّلْمُتَّقِينَ (آل عمران)

ژباړه :دا قرآن د عامو خلکو لپاره بيان او پرهيزګارانو لپاره هدايت او پند دی.

۴- د مؤمنانو د پاره شفاء، رحمت او زيری دی.

وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْآنِ مَا هُوَ شِفَاء وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ (اسراء ۸۲)
ژباړه :او مونږ تاته هغه قرآن نازلوو چې د مؤمنانو لپاره شفا او رحمت دی.
۵- قرآنکریم د رحمت د نزول سبب دی، الله تعالی فرمايي:
وَإِذَا قُرِىءَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُواْ لَهُ وَأَنصِتُواْ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ (اعراف ۲۰۴).
ژباړه: او چې کله قرآن ولوستل شي نو ورته غوږ او چپ شئ ښايي چې پر تاسې رحم وشي.
۶- قرآنکريم د زړه او روح سکون او اطمينان دی :
الله تعالی فرمايي : الَّذِينَ آمَنُواْ وَتَطْمَئِنُّ قُلُوبُهُم بِذِكْرِ اللّهِ أَلاَ بِذِكْرِ اللّهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ (رعد:۱۸).
ژباړه: هغه کسان چې ايمان يي راوړی او زړونه يي د الله (جل جلا له) په ياد آراميږي، خبر شئ چې د الله پاکه په يادښت زړونه ډاډمن کيږي.
۷- قرآن د هدايت سيده لاره ده :
رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: وهو حبل الله المتين، وهو الذكر الحكيم، وهو الصراط المستقيم (الترمذي).
او دا (قرآن) د الله تعالی کلکه رسۍ ده، او دا (قرآن) د حکيم ذات (جل جلاله) ذکر دی او دا (قرآن) د هدايت سيده او مسقيمه لاره ده

**د قرآن د زده کړي او نورو ته د ور زده کولو فضيلت :**

حضرت عثمان رضی الله عنه روايت کوي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي:«خير كم من تعلم القرآن و علمه» (رواه البخاری).
ژباړه: په تاسو کې د ټولو نه بهتر او افضل هغه کس دی کوم چه د قرآن علم حاصل کړي او نورو ته يي هم وښايي.
رسول الله صلی الله عليه وسلم ابوذر ته وويل :

«يا أبا ذر! لأن تغدو فتعلَمْ آيةَ من كتاب اللَّه، خير لك من أَن تصلي مائة ركعة. ولأن تغدو فتعلَمْ بابا من العلَمْ، عمل بِهِ أَوْ لَمْ يعمل، خير من أَن تصلي ألف ركعة» (سنن ابن ماجه :ضعيف).

ژباړه: اى ابوذره ! کچيرې ته سحر لاړ شي او يو آيت د قرآن پاک زده کړې نو د سل رکعته نفلو نه بهتره دى، او کچيرې يو باب د علم زده کړې که دغه وخت دې عمل پرې کړى وي يا نه نو د زرو رکعتونو نفلو کولو نه بهتر دى.

همدارنګه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:«مَن قرأ القرآن وعمل به ألبس والداه تاجاً يوم القيامة ضوءه أحسن من ضوء الشّمس في بيوت الدنيا فمَا ظنُّكم بالّذي عمل بهذا» (رواه أبو داود والحاكم، وقال: صحيح الإسناد).

ژباړه: چا چې قرآن ولوستو او په قرآن يې عمل وکړ نو د قيامت په ورځ به د هغه د والدينو په سر باندې داسې تاج ور په سر شي چې د هغې رڼا به د لمر د رڼا نه کوم چې د دنيا په کورونو کې وي ډيره ښايسته وي ددې وروسته رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: نو تاسې څه ګمان کوئ د هغه چا په باره کې چا چه خپله دا عمل کړى وي.

**د قرآنکريم د تلاوت فضائل :**

ابن مسعود رضى الله عنه روايت کړى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي :« مَنْ قَرَأَ حَرْفًا مِنْ كِتَابِ اللَّهِ فَلَهُ بِهِ حَسَنَةٌ، وَالحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا، لَا أَقُولُ الم حَرْفٌ، وَلَكِنْ أَلِفٌ حَرْفٌ وَلَامٌ حَرْفٌ وَمِيمٌ حَرْفٌ ». (رواه الترمذي والدارمى و سلسلة صحيحة).

ژباړه: چا چې د قرآن يو حرف ولوستلو، نو هغه لره يوه نيکي ده او د يوې نيکۍ لس چنده بدله ده (د وضاحت لپاره فرمايي :) زه دا نه وايم (يعني زما مطلب دا نه دى) چه الم يو حرف دى، بلکه الف يو حرف دى لام يو حرف دى او ميم يو حرف دى.

ابی سعيد خدري رضی الله عنه وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: « يقول الرب عز وجل من شغله القرآن عن ذكري وعن مسألتي أعطيته أفضل ما أعطي السائلين وفضل كلام الله على سائر الكلام كفضل الله على خلقه ». (رواه الترمذی والدارمی و البيهقی فی شعب الا يمان).

ژباړه: د الله تبارک وتعالی ارشاد دی چه کوم سړي قرآن مجيد مشغول وساتلو زما په ذکر سره او زما نه په سوال او دعا کولو سره زه به هغه ته د هغې نه غوره ورکړم کوم چه سوال کوونکو او دعا کوونکو ته يې ورکوم او د نورو خبرو په پرتله د الله تعالی کلام يا خبرې ته داسې عظمت او فضيلت حاصل دی لکه د خپل مخلوق په مقابله کې چه الله تعالی ته فضيلت حاصل دی.

**د ماهر قرآن مقام او منزلت :**

عن عايشه قالت رسول الله صلی الله عليه وسلم :«الماهر بالقرآن مع السفرة الكرام البررة، والذي يقرأ القرآن ويتتعتع فيه وهو عليه شاق له أجران» (رواه مسلم).

ژباړه: د حضرت عايشه رضی الله عنها نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: چا چې په قرآن کې مهارت حاصل کړی وي او هغه د ياد نه يا د مخې نه په بهتره طريقې سره او بې تکليفه روان لولي هغه به د معزز وفا دارو او فرمانبردارو فرښتو سره وي او کوم بنده چه قرآن پاک د ښه نه يادولو يا د نه روانېدو په وجه سره په زحمت او مشقت سره داسې وايي چه په هغی کې نښلي نو هغه ته به دوه اجرونه ورکول کيږي (يو دتلاوت او بل د زحت او مشقت).

**د قرآنکريم شفاعت :**

عن ابی اُمامة قال سمعت رسول الله صلی الله عله وسلم يقول:«اقرأوا القرآن فإنه يأتي يوم القيامة شفيعاً لأصحابه ،اقرَؤوا الزَّهرَاوَين: البقرةَ وسورةَ آلِ عمرانَ. فإنهما تأتِيان يومَ

القيامةِ كأنهما غَمامتانِ. أو كأنهما غَيايتانِ. أو كأنهما فِرْقانِ من طيرٍ صوافَّ. تُحاجّان عن أصحابهما. اقرَؤوا سورةَ البقرةِ. فإنَّ أَخْذَها بركةٌ. وتركَها حسرةٌ. ولا يستطيعُها البَطَلَةُ». (رواه مسلم).

ژباړه: د حضرت امامه رضی الله عنه نه روايت دی چې هغه وايي: د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه مې اورېدل چې ويل يې: قرآن لوله قرآن د قيامت په ورځ د خپلو لوستونکو شفيع جوړيږی، را ځی به خاصتاً (الزهروين) يعني دا دوه اهم سورتونه (البقره ـ ال عمران) لوله هغه به د قيامت په ورځ داسې راځي لکه چه د وريځی ټوټه وي يا سايبان وي يا د مرغيو د سيل په شان به وي. دا دواړه سورتونه به د قيامت په ورځ د خپلو لوستونکو څخه دفاع کوي ،او ويې فرمايل چه لوله سوره بقره ځکه چه ددې حاصلول ډېر برکت لري، ترک يې پښېمانتيا ده او اهل بطالت ددی طاقت نه لری.

د اهل بطالت نه مراد ساحران او ګوډګر دي يعنې څوک چې سورت البقرة وايي د هغه تلاوت زيات برکت لري او د هغه په لوستونکي باندې سحر او جادو کوم اثر نه کوي.

همدارنګه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي :«الصيام والقران يشفعان المعبد يقول الصيام ای رب انی منعته الطعام والشهوات بالنهار فشفعنی فيه ويقول القران منعته النوم بالليل فشفعنی فيه فيشفعان» (رواه البيهقي، احمد و حاکم).

ژباړه: روژه او قران دواړه د بنده شفاعت کوي ،روژه به وايي: ای پروردګاره ! ما دا بنده د ورځې د خوړلو،څښلو او نفسی خواهش پوره کولو نه منع کړی ؤ – نن زما شفاعت دده په حق کې قبول کړه، او قران به وايي ما دی د شپې له خوب او آرام نه منع کړی ؤ الهی ! نن دده په حق کې زما شفاعت قبول کړه، د روژې او قران دواړو شفاعت به ددې بنده په حق کې قبول شي (ددی بنده سره به د مهربانی او مغفرت معامله

وشي او دده د پاره به د جنت فيصله وشي او په خاصو رحمتونو سره به وپالل شي).

**درى ډلې به بې حسابه جنت ته داخلیږي :**

«رجلٌ قرأَ القُرآنَ ابْتغاءَ وجْهِ اللهِ وأَمَّ به قومًا وهُمْ به راضُونَ، وداعٍ يَدعُو إلى الصلواتِ ابْتغاءَ وجهِ اللهِ، ورجلٌ أَحْسنَ فِيما بينهُ وبينَ ربِّهِ، وفِيما بينهُ وبينَ موالِيهِ» (رواه الطبرانى و الترغيب و الترهيب للمنذري).

ژباړه: يو هغه سړى چې د الله تعالى لپاره يې قرآن ولوستلو او داسې امامت يې وکړ چې مقتديان ترې راضى وو، دوهم هغه سړى چې صرف د الله تعالى د رضا لپاره خلک لمانځونو ته بولي ،دريم هغه سړى چې د خپل رب (جل جلاله) سره هم ښه معامله ساتي او د خپلو ماتحتو(تر لاس لاندې خلک) سره هم.

**د قرآن تلاوت د غفلت څخه نجات دى :**

ابى هريرة رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي :«من قرء عشر ايات في ليلة لم يكتب من الغافلين» (رواه حاكم ،حديث صحيح).

ژباړه: څوک چې لس آيتونه د شپې تلاوت کړي هغه به د غافلينو نه شمارل کيږي.

بلکي د قرآنكريم خاص حق دى، په حديث شريف كې راغلى دى چې :

«يا أهل القرآن لا تتوسدوا القرآن واتلوه حق تلاوته من آناء الليل والنهار، وأفشوه وتغنوه وتدبروا ما فيه لعلكم تفلحون، ولا تعجلوا ثوابه فإن له ثوابا» (رواه البيهقي و مشكاة المصابيح) .

ژباړه: اى قرآن والاؤ ! قرآن خپله تكيه او سهارا مه جوړوئ بلکه د ورځې او دشپې په وختونو كې ددې تلاوت كوئ لكه څنګه چه دده حق دى او دا خوروئ او دا په دلچسپۍ سره او په مزه مزه سره لولئ او په دې كې تدبر كوئ او هيله

ساتئ چه په دې سره به تاسې کامیابي مومئ او ددې د عاجلې معاوضې اخستلو فکر مه کوئ. د الله تعالی د طرف نه ددې عظیم الشان ثواب او معاوضه پخپل وخت باندې ورکونکې ده.

**د قرآنکریم په تلاوت کوونکو د سکنې نزول :**

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:«مَا اجْتَمَعَ قَوْمٌ فِي بَيْتٍ مِنْ بُيُوتِ اللَّهِ يَتْلُونَ كِتَابَ اللَّهِ وَيَتَدَارَسُونَهُ بَيْنَهُمْ إِلَّا نَزَلَتْ عَلَيْهِمْ السَّكِينَةُ وَغَشِيَتْهُمْ الرَّحْمَةُ وَحَفَّتْهُمْ الْمَلَائِكَةُ وَذَكَرَهُمْ اللَّهُ فِيمَنْ عِنْدَهُ» (رواه المسلم).

ژباړه: هیڅ ډله په یوه کور کې د الله تعالی له کورونو څخه د قران د تلاوت او درس او تعلیم د پاره نه جمع کیږي مګر دا چې په هغوی باندې سکون نازلیږي او له هغوی نه رحمت احاطه کیږي او پریښتي هغوی احاطه کوي او الله تعالی هغوی د هغه چا په مجلس کې یادوي چې له ده سره دي.

**د قرآنکریم د ځینو سورتونو او آیتونو فضیلت:**

**د البقرې آخري آیتونه :**

د البقره سورت ورستني دوه آیتونو (آمن الرسول ... آخر د سورت پوري) تلاوت کول د بنده د حفاظت سبب ګرځي :

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :«من قرأ بالآيتين من آخر سورة البقرة في ليلة كفتاه» (البخاري – ٥٠٠٨)

ژباړه: څوک چې د سورت بقرې ورستي دوه ایته د شپې تلاوت کړي ده لره کافي دي (د هر شر او بلا دافع ګرځي)

عن أبي هريرة أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال :«لا تجعلوا بيوتكم مقابر إن الشيطان ينفِر من البيت الذي تقرأ فيه سورة البقرة» (رواه مسلم ٧٨٠).

ژباړه: له ابی هريره رضی الله عنه نه روايت دی چه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :تاسې د خپلو کورونو نه قبرونه مه جوړوئ يقيناً په هغه کور کې چې د البقرې سورت لوستل کيږي شيطان له هغې کور نه تښتي.

**د البقرې او آل عمران سورتونو فضيلت :**

«...اقرَؤوا الزَّهرَاوَين: البقرةَ وسورةَ آلِ عمرانَ. فإنهما تأتِيان يومَ القيامةِ كأنهما غَمامتانِ. أو كأنهما غَيايتانِ. أو كأنهما فِرْقانِ من طيرٍ صوافَّ. تُحاجّان عن أصحابهما. اقرَؤوا سورةَ البقرةِ. فإنَّ أَخْذَها بركةٌ. وتركَها حسرةٌ. ولا يستطيعُها البَطَلَةُ».(رواه مسلم).

ژباړه: د الزهروين: البقره ـ ال عمران سورتونه لوله هغه به د قيامت په ورځ خپل لوستونکی پخپل سوري کې اخستی داسې به راځی لکه چه د وريځی ټوټه وي يا سايبان وي يا د مرغيو د سيل په شان به وي. دا دواړه سورتونه به د قيامت په ورځ د خپلو لوستونکو څخه دفاع کوي ،او ويې فرمايل چه لوله سوره بقره ځکه چه ددې حاصلول ډېر برکت لري، ترک يې پښېمانتيا ده او اهل بطالت ددی طاقت نه لری.

**د آيت الکرسي تلاوت کول :**

له ابی امامة رضی الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: «من قرأ آية الكرسي دبر كل صلاة مكتوبة، لم يمنعه من دخول الجنة إلا أن يموت» (رواه النسائي وصححه ابن حبان او صحيح الجامع).

يعنې: څوک چې د فرض لمانځه څخه وروسته آيت کرسي ولولي، هغه به جنت ته د تلو نه منع نشي مګر مرګ (کله چې وفات شي جنت ته به ځي).

په بخاري شريف کې د ابی هريرة په روايت سره په يوه اوږد حديث شريف کې راغلي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ابي هريرة رضی الله عنه الله عنه ته وويل :

«إِذَا أَوَيْتَ إِلَى فِرَاشِكَ فَاقْرَأْ آيَةَ الْكُرْسِيِّ مِنْ أَوَّلِهَا حَتَّى تَخْتِمَ الآيَةَ (اللَّهُ لا إِلَهَ إِلاَّ هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ) وَقَالَ لِي: لَنْ يَزَالَ عَلَيْكَ مِنَ اللَّهِ حَافِظٌ، وَلا يَقْرَبَكَ شَيْطَانٌ حَتَّى تُصْبِحَ، .... » (البخاري)

ژباړه :کله چې بسترې ته (د خوب لپاره ځې) نو لوله آيت کرسي له آيت (اللَّهُ لا إِلَهَ إِلاَّ هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ ... تر آخر د آيت پورې، او ما ته يې فرمايلي: ته به ټوله شپه د الله په ساتنه کې وې او تر سبا پورې به تا ته شيطان نه نږدې کيږي.

**د سورة الكهف فضيلت :**

عن أبي الدرداء أن النبي صلى الله عليه وسلم قال: «من حفظ عشر آيات من أول سورة الكهف عُصم من الدجال وفي رواية ـ من آخر سورة الكهف » (رواه مسلم).

له ابي درداء نه روايت دى چې نبى صلى الله عليه وسلم فرمايي: چا چې د سورت کهف لس لومړني آيتونه ياد کړل د دجال د فتنې څخه به په امن شي او په بل روايت کې دي چې آخر د سورت کهف.

همدارنګه فرمايي: «من قرأ سورة (الكهف) ليلة الجمعة، أضاء له من النور ما بينه وبين البيت العتيق» (صحيح الترغيب والترهيب / ٧٣٦).

ژباړه: چا چې د جمعې په شپه سورت الکهف تلاوت کړ د ده کور څخه تر بيت العتيق پورې به نور وي او په بل روايت کې د دواړو جمعو تر مينځ به نور وي.

**د تبارک الذي تلاوت :**

د شپې لخوا د تبارک الذي تلاوت کول (د قبر د عذاب نه د نجات وسيله ده) :

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: إن سورة في القرآن ثلاثون آية شفعت لصاحبها حتى غفر له هى: تبارك الذي بيده **الملك** (صحيح الماجه ـ ٣٠٦٨).

ژباړه: په قرآن کې دېرش ايته دي چې د تلاوت کوونکي د پاره تر هغه پورې شفاعت کوي تر څو هغه وبخښل شي دا تبارک الذي (سورة الملک) دی.

بل حديث شريف کې راځي: عن ابن مسعود رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم «سورة تبارك هي المانعه من عذاب القبر» (صحيح الجامع ۴۷۲۷ – سلسلة صحيحية ۱۱۴۰).

ژباړه: ابن مسعود رضى الله عنه وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: سورت تبارک الذی د قبر د عذاب مانع ګرځي.

عن عبد الله بن مسعود قال: «من قرأ تبارك الذي بيده الملك كل ليلة منعه الله بها من عذاب القبر، وكنا في عهد رسول الله صلى الله عليه وسلم نسميها المانعة » (رواه النسائي ۶/۱۷۹، و صحيح الترغيب والترهيب ۱۴۷۵).

ژباړه:عبدالله بن مسعود رضى الله عنه وايي: چا چې هره شپه تبارک الذی تلاوت کړ الله (جل جلاله) به دی د قبر له عذاب څخه وساتي، او مونږ به د رسول الله صلى الله عليه وسلم په زمانه کې تبارک الذی سورت ته المانعه ويلو (د قبر د عذاب مانع).

**د سوره اخلاص (قل هو الله) د تلاوت فضيلت :**

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي :«(قل هو الله أحد) تعدل ثلث القرآن، و (قل يا أيها الكافرون) تعدل ربع القرآن» (صحيح الجامع ۱۴۷۷).

ژباړه: قل هوالله احد د قرآنکريم د دريمې حصې سره برابر دی او قل يا ايها الکافرون د قران د څلورمې حصې سره برابر دی (د تلاوت کولو ثواب).

د ابن عباس رضى الله عنه څخه روايت چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:« أيعجز أحدكم أن يقرأ في ليلة ثلث القرآن ؟، قالوا وكيف يقرأ ثلث القرآن؟ قال صلى الله عليه وسلم " قل هو الله أحد " تعدل ثلث القرآن » (رواه مسلم).

ژباړه: آيا د تاسې څخه څوک په دې عاجز دي چې په يوه شپه کې درى ځل قرآن تلاوت کړي؟ مونږ وويل څنګه به څوک درى ځله تلاوت وکړاى شي؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: د «قل هو الله» تلاوت د قرآنکريم د تلاوت له دريمې حصې سره برابر دى.

**د معوذتينو تلاوت :**

**د معوذتينو (قل اعوذ برب الفلق او قل اعوذ برب الناس) د تلاوت فضيلت:**

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ الله عَنْهَا: «أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم إِلَى فِرَاشِهِ كُلَّ لَيْلَةٍ، جَمَعَ كَفَّيْهِ ثُمَّ نَفَثَ فِيهِمَا، فَقَرَأَ فِيهِمَا:(قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ) وَ (قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ) وَ (قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ) ثُمَّ يَمْسَحُ بِهِمَا مَا اسْتَطَاعَ مِنْ جَسَدِهِ، يَبْدَأُ بِهِمَا عَلَى رَأْسِهِ وَوَجْهِهِ، وَمَا أَقْبَلَ مِنْ جَسَدِهِ، يَفْعَلُ ذَلِكَ ثَلاثَ مَرَّاتٍ. (البخارى:۵۰۱۷)

ژباړه: د بې بې عايشې رضى الله عنها نه روايت دى چه رسول الله صلى الله عليه وسلم دا عادت ؤ چه هر شپه به چه کله د آرام د پاره خپلې بسترې ته تللو نو خپل دواړه لاسونه به يې يو ځاى کړل او قل هو الله، قل اعوذ برب الفلق او قل اعوذ برب الناس به يې لوستل بيا به يې په لاسونو باندې وپوکل بيا د کوم ځاى پورې چه کيده په خپل مبارک بدن به يې راکشول دا عمل به يې درى ځله تکرارولو.

**د قرآنکريم د تلاوت آداب :**

۱- له بې اودسۍ او جنابت څخه د بدن پاکوالى.

۲- مستحب ده چې د تلاوت په وخت کې سړى د قبلى په لوري ناست وي.

۳- د تلاوت په شروع کې د «اعوذ بالله من الشيطان الرجيم» ويل واجب دي لقوله تعالى :

[فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ فَاسْتَعِذْ بِاللّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ] (النحل:۹۸).

ژباړه: او کله چې د قرآن په ویلو پیل وکړې، نو د الله په نوم له رټل شوی شیطان نه پناه وغواړه.
۴- هر سورت په « بِسْمِ اللهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ» پیل کول په خاص توګه د فاتحی سورة په شروع کې.
۵- قرآن په ترتیل سره لوستل [ورتل القرآن ترتیلا ] د ترتیل په باره کې شا عبدالعزیز رحمه الله په خپل تفسیر کې لیکی دي چه ترتیل په لغت کې صفا او واضح لوستلو ته وایې او په شریعت کې د څو څیزونو لحاظ ساتلو سره تلاوت کولو ته وایې چه هغه څیزونه په لاندې ډول دي :
الف – د حروفو صحیح ادا کول یعنی د خپل مخرج څخه چه د ضا پر ځای دال یا ظا تلفظ نشي.
ب – د وقف پر ځای په ښه شان سره دریدل چه وصل او قطع یعنی یو ځای کول او جلا کول د کلام بې ځایه نشي.
ج – حرکتونه سره کډوډ نشي زور،زیر او پیښ په ښه شان ښکاره ادا شي.
د – آواز لږ اوچتول چې د قرآن الفاظ له ژبې اوزي او عوږونه یې واوري.
ه – قرآن په ښه آواز دردونکې غږ تلاوت کول چې په زړه اثر وکړي دردناک آواز په زړه ژر اثر کوي.
و – شد او مد ښه ښکاره کول چې ددی په ښکاره کولو سره د قرآن لوی شان ښکاره کیږي او له اثر سره مدد کوي.
ذ – د رحمت او غذاب د آیتونو حق ادا کول.
۶- د تلاوت پر مهال حاضرین ته واجب دی چې چوپ وي (خبرې به نه کوي) او قرآن ته به غوږ وي ،لقوله تعالى :[ وَإِذَا قُرِىءَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُواْ لَهُ وَأَنصِتُواْ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ](اعراف ۲۰۴). ژباړه: او چې کله قرآن ولوستل شي نو ورته غوږ او چپ شئ ښایې چې پر تاسې رحم وشي.

۷- قاري او اوريدونکی ته په کار ده چې په خشوع او ادب سره خپل زړه او حواس د قرآن تلاوت ته متوجه کړي چې دا د سکوت له غوښتنی څخه ده لکه په مخکې آيت کې. مګر د قرائت پر مهال فرياد، چيغی او شور ما شور جوړل د کافرانو او مشرکانو صفت دی ځکه کله به چې قرآن لوستل کيده نو مشرکانو به يوله بله سره خبرې چيغې او شورماشور جوړولو چې قرآنکريم ورته داسې اشاره کړي ده.

[وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لاَ تَسْمَعُوا لِهَذَا الْقُرْآنِ وَالْغَوْا فِيهِ] (فصلت: ۲۶). ژباړه: او کافرانو ويل دغه قرآن ته غوږ مه نيسئ او **هغه** (مهال) بيهوده خبرې کوئ.

۸- قاري بايد تر خپله وسه قرآنکريم په ښه صوت سره تلاوت کړي ځکه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايې :«ليس منا من لم يتغن بالقرآن » (البخاري).

ژباړه: هغه له مونږ څخه نه دی چه قرآن په ښه آواز نه لولی. په پورته حديث شريف کې «**يتغن بالقرآن**» څخه مطلب دا دی چې د قرآنکريم لوستونکی به قرآن په ښه صوت او حد اقل دومره جهر او زوره سره وايي چې خپله يې واوري، قرآن به په تجويد او خشوع سره وايي او په هغه کې به تدبر کوي تر څو په زړه باندې اثر وکړي. او دعلم حديث شارحين وايي چې د «**ليس منا**» څخه مطلب دا نه دی چې څوک په ښه صوت او تدبر او خشوع سره قرآن نه وايي نو هغه د امت اهل دين څخه نه دی، بلکي د هغه مطلب دا دی چې زمونږ په سنتو برابر نه دی يعنې داسې کول د سنتو خلاف دي، څوک چې قرآن په تجويد، تدبر او ښه صوت سره نه وايي نو داسې کول ګناه ده.

۹- قاري بايد خپل صوت د سندرو ويونکو،فاسقانو يا يهودو او نصاراؤ د دينی آوازونو سره تشبح نه کړي او د ښه صوت په کوښښ کې د بې ځايه تکلف نه ځان وساتي.

۱۰- قاري او اوريدونکی به د قرآن په آيتونو کې تدبر او فکر کوي او د هغه د معنی او مقاصدو په پيداکولو کي به فکرکوي.[أَفَلاَ يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ] (النساء: ۸۲) ژباړه: ايا په قرآن کې تدبر او فکر نه کوي.

۱۱- د قرائت په وخت کې په خشوع کې مبالغه کول او قصداً د ژړا کولو کوښښ مستحب دی تر څو د الله تعالی عظمت او لويې په ياد راوړل شي چې قرآن د هغه کلام دی.

۱۲- د قرآنکريم د اوامرو اطاعت کول او دهغه له مخالفت څخه ځان ساتل ځکه قرآن به د قيامت پر ورځ هغه چا ته حجت ،نور او شفاعت وي چې عمل يې ورباندې کړی وي.

مګر هغه څوک چې قرآن تلاوت کوي خو په قرآن عمل نه کوي او اوامرو څخه يې سرغړونه کوي نو قرآن به د قيامت په ورځ پر داسې کس لعنت وايې.

۱۳- يو مسلمان ته پکار ده چې حد اقل په څلويښتو ورځو کې يو ځل قرآن ختم کړي او سنت ده چې هره ورځ يو جزء تلاوت کړي يا حد اقل د ورځې لس آيته تلاوت کړي ترڅو د غافلان په ډله کې حساب نه شي.

۱۴- مستحب ده چې قاري د قرآن په ختم کې دعا وکړي نور هم حاضر کړي چې په دعا کې ګډون وکړي ځکه چې دا د دعا د استجابت او د الله تعالی د رحمت د نزول وخت دی.

۱۵- بايد د قرآن تلاوت خاص د الله تعالی د رضا لپاره وي ځکه چې د قرآن تلاوت له لويو عباداتو څخه دی نو عبادت د غيرالله لپاره نه وي.

۱۶- د قرآنکريم په تلاوت باندې اجرت اخيستل حرام دي، مګر په تعليم باندې اجرت د متأخرينو په نزد جايز دي.

و بعض مشائخنا رحمهم الله تعالى استحسنوا الاستئجار علي تعليم القرآن لظهور التوالي في الامور الدنية فهذا ما افتى به

المتاخرين مخالفين ما ذهب اليه امام وصاحباه بالضرورة فى عدم جواز الاستئجار على تلاوة (ردالمختار كتاب الاجارة ۶/۵۵،۵۶..)

وقـال في ‘‘الهداية’’: الأصل أن كل طاعـة يخـتص بهـا المسلم، لا يجوز الاستئجـار عليها عندنا لقوله -عليه السلام :- (اقرؤوا القرآن ولا تأكلوا به).

۱۷- د تلاوت د سجدې په اوريدو سره د تلاوت سجده كول.

## دوهم فصل
## د وحی پیل

نبی کریم صلی الله علیه وسلم په مکه مکرمه کې پیدا شوی چې یو شریف او امین سړی وو چې د رسالت څخه پخوا په خپل قوم کې په امین باندې مشهور ؤ، رسول الله صلی الله علیه وسلم د قریشو له شریف قوم څخه دی او په قریشو کې د شریفې کورنۍ څخه دی چې پلار یې عبدالله زوی د عبدالمطلب زوی د هاشم دی او دوی ټول د خپل قوم شریف خلک وو.

مخکې مو وویل چې د وحی پیل د رسول الله صلی الله علیه وسلم له رښتني خوبونو څخه پیل شو، بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د خلکو څخه لرې ګوښه ژوند کول غوره ښکارېده او د حراء په غار کې به د خلکو څخه لرې د حنفي ملت موافق عبادت کولو، او بلاخره د رمضان د لیلة القدر په شپه ده ته جبرئل علیه السلام راغی او وحی نازله شوه.

لقوله سبحانه وتعالى :[إِنَّآ أَنزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةٍ مُّبَارَكَةٍ إِنَّا كُنَّا مُنذِرِينَ] (الدخان: ٣).

ژباړه :مونږ قرآن په یوه مبارکه شپه کې نازل کړی یقیناً چې مونږ وېروونکې یو (په رالیږلو د دغه قرآن).

او د سوره العلق لومړي پنځه آیتونه ورباندې نازل شول.

**د وحی تعریف :**

د وحی لغوي معنی ده اشاره لکه دغه قول د الله تعالی :[فَخَرَجَ عَلَى قَوْمِهِ مِنَ الْمِحْرَابِ فَأَوْحَى إِلَيْهِمْ أَن سَبِّحُوا بُكْرَةً وَعَشِيًّا] (مریم: ١١).

ژباړه :نو هغه له عبادت ځای نه را ووت او په اشارو سره یې خپل قوم ته وویل چې :سهار او ماښام د الله پاک تسبیح وایئ.

همدارنګه وحی په معنی د الهام ده.

لکه انسان ته په فطري الهام سره لکه دغه قول د الله تعالى :[وَأَوْحَيْنَا إِلَى أُمِّ مُوسَى أَنْ أَرْضِعِيهِ ] (القصص: ۷).

ژباړه: او مونږ د موسى مور ته وحی وکړه چې خپل زوی ته دې تی ورکړه.

او یا حیوان ته په غریزي الهام سره لکه دغه قول د الله تعالى [وَأَوْحَى رَبُّكَ إِلَى النَّحْلِ] (النحل: ۶۸).

او همدارنګه وحی په معنې د بیان او اعلام ده په پټه او تیزې سره.

**وحی په اصطلاح کې په ددو معناوو راځي :**

۱- وحی عبارت ده له قرآن او سنتو. د قرآن لفظ او معنی دواړه د الله تعالى له طرفه دي، مګر د سنتو معنی د الله تعالى د طرفه او لفظ یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم لخوا ټاکل شوی دی.

۲- وحی عبارت ده له اعلام او بیان د الله تعالى لپاره د نبي له انبیاؤ څخه په وسیله د جبریل علیه السلام او یا په کومه بله وسیله.

**د وحي تقسیم :**

وحی په عمومي توګه په دوه ډوله تقسیم شوې :

الف): په لفظ او معنی دواړو سره وحی: چې عبارت له قرآن څخه ده، الله تعالى فرمایي وَ:[كَذَلِكَ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ قُرْآنًا عَرَبِيًّا] (الشورى:۷).

ژباړه: او په همدې توګه مونږ تاته عربي قرآن وحی کړ.

چې الله تعالى مونږ ته د هغه په تلاوت کولو او همدارنګه د هغه په معنی کې د تدبر کولو حکم کړی دی :

[كِتَابٌ أَنزَلْنَاهُ إِلَيْكَ مُبَارَكٌ لِّيَدَّبَّرُوا آيَاتِهِ وَلِيَتَذَكَّرَ أُوْلُوا الأَلْبَابِ] (سوره ص :۲۹).

ژباړه: دا کتاب چې مونږ تاته نازل کړی مبارک (کتاب دی) تر څو هغوی يې په آياتونو کې فکر وکړي او د عقل څښتنان ترې پند واخلي.

ب): په معنی سره وحی پرته له لفظ څخه: چې دا وحی عبارت له سنتو د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه لکه چې الله تعالی فرمايي :[وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوَى، إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَى] (النجم ٣-۴) ژباړه: او خبرې نه کوي (محمد) له هوا (خپلې) نه، نه دی دغه (قرآن) مګر وحی ده چې ورته ليږل شوی ده.

تفسير انوار القرآن ددې آيتونو په تفسير کې ليکي: په حديث شريف له عبدالله بن عمرو نه روايت چې وايي:ما به هر څه چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه اوريدل هغه مې يادول او ساتل پس قريشو زه له دغه کار څخه منع کړلم او ويې ويل: ته هر څه چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه آورې هغه ليکې حال دا چې هغه هم بشر دی او کله د غصې په وخت کې څه وايي. همغه وو چې له ليکلو مې لاس واخيست او دغه موضوع مې له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره شريکه کړه: جناب رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:«اکتب، فوالذي نفسي بيده ما خرج مني إلا الحق» وليکه ځکه قسم پر هغه ذات چې زما روح د هغه په واک کې دی، زما د ژبې څخه د حق څخه بغير څه نه دي وتلي.همدارنګه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: «زه بغير له حق څخه بل څه نه وايم».

دغه مهال ځنو صحابه کرامو عرض وکړ يا رسول الله ! تاسې کله مزاج هم کوې؟ و يې فرمايل حتی که مزاخ وکړم هم بغير له حق څخه بل څه نه وايم (تفسير انوارالقرآن – فتح الباري ).

او الله تعالی مونږ ته یې د هغه د (سنتو) د اخیستلو او په هغه باندې د عمل کولو حکم کړی دی :

[وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانتَهُوا وَاتَّقُوا اللَّهَ ] (الحشر ۷).

ژباړه: او هغه څه چې رسول یې تاسې درکوئ واخلئ او له هغه څه نه چې تاسې منع کوي ډډه وکړئ او له الله څخه ووېرېږئ.

**د نزول له مخې وحی :**

د الله (جل جلاله) د طرفه نه خپل رسول کریم محمد صلی الله علیه وسلم او نورو رسولانو ته وحی په دوه قسمه ده :

**الف) د واسطې پرته وحی:** چې دری ډوله ده :

خوب لېدل، په زړه کې وراچول او د پردې تر شا د الله تعالی کلام له خپل نبی سره.

**۱ـ په خوب کې وحی :**

د انبیاء علیه السلام خوب د الله تعالی د طرفه وحی وي، لکه د رسول الله صلی الله علیه وسلم چې لومړنۍ وحی صالح او رښتنې خوبونه وو .

عایشه رضی الله عنها وایي :« د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د وحې پیل له نیکو او ښو خوبونو څخه پیل شوی ؤ،هرخوب به یې چې ولید د سپین سهار په څیر به ښکاریده »

او همدارنګه ابراهیم علیه السلام ته په خوب کې د خپل زوی اسماعیل علیه السلام د ذبحې کولو وحی شوی وه.

**۲ـ په زړه کې وراچول :**

بې له دې چې ملایکه ووینی الله سبحانه و تعالی د خپل رسول الله صلی الله علیه وسلم په زړه کې وحی واچوي لکه چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایې :«إن روح القدس نفث في روعي إن نفسا لن تموت حتى تستكمل رزقها وأجلها

فاتقوا الله وأجملوا في الطلب. خذوا ما حل ودعوا ما حرم» (تفسير القرطبي سورة الشورى).

يعنې: روح القدس مې په زړه کې دا واچول چې تر هغه پورې يو نفس نه مري څو پورې چې خپل اجل او رزق پوره نه کړي، پس د الله تعالی څخه ووېرېږئ د زرق په طلب کولو کې نيک عمل اختيار کړئ، هغه څه په لاس راوړئ چې حلال او هغه څه پرېږدئ چې حرام وي.

**۳- د الله تعالی کلام له خپل نبي سره د پردې تر شا :**

د الله تعالی خبرې د خپل نبي سره د پردې تر شا چې دا ډول وحې د قرآن کريم دصريح نص په بنسټ حضرت موسی عليه السلام ته شوې وه او رسول اکرم صلی الله عليه وسلم ته دا ډول وحې د معراج د حديث په رڼا کې ثابته ده لکه د معراج په شپه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته د پنځو لمونځونو د فرضيت وحی شوې ده.

لقوله سبحانه وتعالی :[وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ أَن يُكَلِّمَهُ اللَّهُ إِلَّا وَحْيًا أَوْ مِن وَرَاء حِجَابٍ أَوْ يُرْسِلَ رَسُولًا فَيُوحِيَ بِإِذْنِهِ مَا يَشَاء] (الشورى: ۵۱).

ژباړه: هيڅ بشر ددې توان نلري چې الله تعالی ورسره مخامخ خبرې وکړي. مګر په وحی يا د پردې تر شا او يا به يو رسول ورليږي نو په خپل حکم به هغه څه وحی کوي چې خوښه يې وي. په رښتيا چې هغه له هر څه پورته او د حکمت څښتن دی.

**ب): د ملائکې په وسيله وحی :**

د ملائکې په وسيله وحې په لاندې قسمونو ده :

**۱- د ملائکې په اصلي شکل راتلل :**

د ملائکې په اصلی څيره نزول چې په کومې پيدا شوې ده د سورت النجم مطابق دا ډول وحې يوازې دوه ځله راغلې ده.

**۲ـ د سړي په شکل راتلل :**

ملائکه به د يو سړی په شکل راتله ،خبرې به يې ورسره کولې او رسول اکرم صلی الله عليه وسلم به يې خبرې يادولې ،په دې صورت کې به کله کله صحابه وو هم جبرائيل عليه السلام ليده.

حضرت عمر فاروق رضی الله عنه روايت کوي چې :«بَيْنَمَا نَحْنُ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم ذَاتَ يَوْمٍ ؛ إِذْ طَلَعَ عَلَيْنَا رَجُلٌ شَدِيدُ بَيَاضِ الثِّيَابِ, شَدِيدُ سَوَادِ الشَّعَرِ, لا يُرَى عَلَيْهِ أَثَرُ السَّفَرِ , ولا يَعْرِفُهُ مِنَّا أَحَدٌ؛ حَتَّى جَلَسَ إِلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم, فَأَسْنَدَ رُكْبَتَيْهِ إِلَى رُكْبَتَيْهِ, وَوَضَعَ كَفَّيْهِ عَلَى فَخِذَيْهِ... الحديث»

يعني: مونږ د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره يو ورځ ناست وو چې يو سړی را ښکاره شو چې تک سپينې جامې په تن وې، تک تور ويښتان يې وو، په هغه باندې د سفر هيڅ اثر نه معلوميده، او د مونږ څخه هيچا نه پيژندلو، تر دې چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره کيناست، ورنونه يې د هغه د ورنو سره ولګول او دواړه لاسونه يې د هغه په ورونو کيښول..

**۳ـ د زنګ د کړنګار په شکل راتلل :**

د زنګ دکړنګار په شکل به راتله له ټولو وحيو څخه دا سخته وه په دې وحې کې که څه هم په سخت ژمی کې به وه د نبی صلی الله عليه وسلم تندی به له خولو ډک وو،او که په ځاروي به سپور وو نو ځاروی به يې په ځمکه پريوت، دا وحې يوه ورځ هغه وخت په نبی صلی الله عليه وسلم باندې راغله چې د نبی صلی الله عليه وسلم ورون مبارک د زيد بن ثابت په ورانه د پاسه وو په زيد بن ثابت رضی الله عنه د ده ورون هومره دروند پيتی وو چې ګومان يې کاوه چې ژر به يې پښه ماته شی.

**وحی ته د امت اړتیا :**

وحی ته د امت ضرورت او اړتیا یوه فطري غوښتنه ده، ځکه الله تعالی انسان د توحید په فطرت پیدا کړی دی او د توحید څخه انحراف اصلاً د فطرت څخه انحراف دی، لقوله رسول الله صلی الله علیه وسلم :«ما من مولود إلا یولد علی الفطرة, لإابواه یهودانه أو یمجسانه أو ینصرانه» (البخاري)

ژباړه: هر نوی طفل د (اسلام) په سالم فطرت سره پیدا کیږي مګر والدین یې هغه یهودي، نصراني او یا مجوسي ګرځوي.

نو هر ډول انحراف که یهودي وي، مجوسی، نصاراني او بل وي هغه اصلاً د فطرت نه انحراف دی.

او د الله تعالی د طرفه هر هدایت او تعلیم د فطرت موافق دی لکه زمونږ سره چې د الله تعالی رالیږلی وحی (قرآن او سنت) دي.

مګر د فطري توحید لوري ته بلل په علم سره کیږي نه په عقل ځکه چې ډیر شیان په عقل نه پیژندل کیږي مثلاً: د وحی نزول، د قیامت ورځ، جنت او دوزخ نو ځکه د دغو شیانو تفصیلي لارښوونه مونږ ته الله تعالی د وحی په رالیږلو او د پیغمبر په رسالت سره کړې ده.

ځکه چې په هر څه باندې یوازې الله تعالی پوهیږي ځکه چې هغه (جل جلاله) پیدا کوونکی دی.

لقوله سبحانه وتعالی:[ أَلَا يَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ] (الملك: ۱۴).

ژباړه: آیا هغه څوک نه پوهیږي چې پیدابنت یې کړی؟ او هغه له ډیرو پټو او باریکو شیانو څخه ښه خبر دی.

پس ویلای شو چې وحی د بشر د فطرت او روح داسې ضرورت دی لکه غذا ته چې د انسان د جسم ضرورت دی، نو

ځوک چې په اسلام کې داخل شوی دي او په وحی ایمان لري هغوی یو نوي ژوند ته داخل شوي دي.

**مثال:**

تاسې ډیر ځله هغه کسان لیدلي چې کله نوي اسلام ته داخلیږي او د شهادتین کلمه وایي ژاړي دا ځکه چې فطرت یې د اصلي مقصد سره وصل شو چې توحید دی، همدارنګه تاسې به ځینې داسې کسان لیدلي وي چې د مسجد الحرام، کعبې شریفې او د زم زم د اوبو په لیدل سره ژاړي او یا د قرآن په اورېدلو سره ژاړي دا ځکه چې دا د اسلامي فطرت په نعمت باندې خوشحالی ده او دا اصلاً د فطرت او روح غذا ده .

**د قرآن نزول**

قرآنکریم په دوو مرحلو کې نازل شوی دی.

**اول مرحله:** په یو ځل د دنیا په آسمان کې بیت العزت ته نازل شوی دی.

**دوهمه مرحله:** په (۲۳) کلونو کې جلا جلا رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې نازل شوی دی.

**بیت العزت ته د یو ځل نزول حکمت :**

**لومړۍ فائده:** دا چې قرآنکریم د مسلمانانو په نزد سپیڅلی کتاب دی، او د رسول الله صلی الله علیه وسلم معجزه ده، نو د اسلامي امت د تعظیم لپاره بیت العزت ته نازل شوی دی.

**دوهمه فائده:** خپل د قرآنکریم د شان تعظیم.

**دریمه فائده:** د رسول الله صلی الله علیه وسلم د شان تعظیم تر څو د آسمانونو ملائکې پوه شي چې الله پاک هغه ته څومره لوړ شان ورکړی دی چې په ده باندې نازل شوی کتاب په یو ځل بیت العزت ته نازلیږي.

**څلورمه فائده:** د اوو آسمانونو اهل ته دا اعلان چې قرآن ورستی آسماني کتاب دی.

**پنځمه فائده:** دا چې قرآن په یو ځل د یوې جملې په توګه بیت العزت ته نازل شوی دې ته اشاره ده چې الله سبحانه وتعالی عالم الغیب دی، په ټولو حوادثو د واقع کېدو څخه مخکې پوه دی.
مثلاً: دغه آیت: ﴿قَدْ سَمِعَ اللَّهُ قَوْلَ الَّتِي تُجَادِلُكَ فِي زَوْجِهَا﴾ [المجادلة: 1].
دا آیت کریمه د حادثې د واقع کېدو څخه مخکې د دنیا په آسمان کې بیت الغزت کې وو.
**شپږمه فائده:** نظر ټولو آسماني کتابونو ته دا د قرآن خصوصیت دی چې د یوې جملې او جلا جلا دواړه مرحلو سره نازل شوی دی.

# دريـم فـصل
# عـلـم أسـبـاب نـزول

علم اسباب نزول يا شأنزول هغه علم دى چې د سورتونو او آيتونو د نزول د سبب، وخت او ځاى څخه بحث كوي.

د قرآنكريم نزول دوه قسمه شوى دى: اول قسم ابتداء، او دوهم قسم د واقعې او سوال څخه وروسته نزول.

علم أسباب نزول خاص اهميت لري لكه: د شرعي حكم د حكمت او سبب پېژندل، د حكم صحي تشخيص، په معنى كې د اشكال لرې كول، ځكه تفسير پرته د نزول د سبب له پېژندلو څخه ممكن نه دى، علم اسباب نزول د قرآن د معنى د پوهېدو لپاره ډير مهم دى.

د شأنزول يا اسباب نزول له مخكې د آيتونو اقسام :

**اول** – قسم د كوم سبب پرته د قرآن نزول، چې اكثراً قران همداسې نازل شوى دى.

**دوهم** – د يو سبب، واقعې يا سوال په ارتباط نزول چې ځېنې اسباب يې په لاندې ډول دي :

د يوې واقعې مينځته راتلو وروسته لكه : [وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ] آيت نازل شو (صحيح البخاري).

رسول الله صلى الله عليه وسلم چې كله د صفا غوندۍ ته وخوت قريشو ته يې نارې كړې هغوى يې د الله تعالى د عذاب څخه ووېرول ابولهب د رسول الله صلى الله عليه وسلم مقابل كې ګوستاخې وكړه او بيا دا ايت نازل شو [تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ مَا أَغْنَى عَنْهُ مَالُهُ وَمَا كَسَبَ] (صحيح البخاري ۴۷۷۰).

همدارنګه يوې ښځې د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه د ظهار د حكم په باره كې سوال وكړ، د هغه سوال په ځواب كې دا آيتونه نازل شول [قَدْ سَمِعَ اللَّهُ قَوْلَ الَّتِي تُجَادِلُكَ فِي زَوْجِهَا وَتَشْتَكِي إِلَى اللَّهِ وَاللَّهُ يَسْمَعُ تَحَاوُرَكُمَا إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ بَصِيرٌ ](المجادله).

ژباړه: بې شکه الله د هغې میرمنې وینا واوریده چې د خپل میړه په هکله ستا سره بیا بیا ږغیږي او الله پاک ته فریاد کوي او الله پاک تاسې دواړو پوښتنه او ځواب اروي. بې شکه الله پاک اوریدونکی او لیدونکی دی.

همدارنګه د بدر په غزا کې یو صحابي د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د غنائمو په باره کې پوښتنه وکړه چې بیا دا آیت نازل شو: [يَسْأَلُونَكَ عَنِ الأَنفَالِ قُلِ الأَنفَالُ لِلَّهِ وَالرَّسُولِ فَاتَّقُواْ اللَّهَ وَأَصْلِحُواْ ذَاتَ بَيْنِكُمْ] (الأنفال :۱).

ژباړه: (ای محمده!) له تا څخه د غنیمتونو په هکله پوښتنه کوي. ووایه چې غنیمتونه د الله او د هغه د رسول دي. نو باید چې له الله نه وډار شئ، خپلې داخلي اړیکې مو سره روغې او د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړئ که تاسې مؤمنان یاست.

او بیا د غنمت د ویش د سوال په ځواب کې دا آیت نازل شو :[ وَاعْلَمُواْ أَنَّمَا غَنِمْتُم مِّن شَيْءٍ فَأَنَّ لِلّهِ خُمُسَهُ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي الْقُرْبَى..] (الأنفال :۴۱).

ژباړه: پوه شئ (ای مسلمانانو!) چې څه مو غنیمت کړل نو پنځمه برخه یې د الله، رسول، د رسول د خپلوانو، یتیمانو، مسکینان...

**د اسباب نزول د پیژندلو فوائد :**

**لومړۍ فائده:** د شرعي حکم د تطبیق او عملي کولو د حکمت پیژندل.

مثال: په قرآنکریم کې د خمر (شرابو) د حرمت حکم په څو مراحلو سره په تدریجي ډول نازل شوی دی

**لومړۍ مرحله:** لومړی آیت چې د شرابو تحریم ته اشاره کوي دا آیت دی :[ وَمِنْ ثَمَرَاتِ النَّخِيلِ وَالأَعْنَابِ تَتَّخِذُونَ مِنْهُ سَكَرًا وَرِزْقًا حَسَنًا](النحل :۶۷).

ژباړه: او په همدې توګه د خرما او انګورو له ونو نه هم تاسې نشه لرونکي او نور ښه خوراکونه جوړوئ.

په قول د [تَتَّخِذُونَ مِنْهُ سَكَرًا وَرِزْقًا حَسَنًا] د سکر (نيشې) په اړه سکوت او د رزق صفت بيانوي، نو خلک يې و پوهول چې سکر (نشه) ښه شی نده.

**دوهمه مرحله:** الله سبحانه وتعالی فرمايي :

[يَسْأَلُونَكَ عَنِ الخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ قُلْ فِيهِمَا إِثْمٌ كَبِيرٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَإِثْمُهُمَا أَكْبَرُ مِن نَّفْعِهِمَا](البقرة: ٢١٩)

ژباړه: دوی له تا څخه د شرابو او جواري (قمار) په هکله پوښتنه کوي، ورته ووايه چې په دې دواړو کې لويه ګناه ده او د خلکو لپاره څه ګټه هم شته خو ګناه يې تر ګټې خورا لويه ده.

**دريمه مرحله:**

الله سبحانه وتعالی فرمايي :[يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تَقْرَبُواْ الصَّلاَةَ وَأَنْتُمْ سُكَارَى حَتَّى تَعْلَمُواْ مَا تَقُولُونَ] (النساء: ٤٣).

ژباړه: ای مؤمنانو ! د نشې په حالت کې لمانځه ته مه نږدې کيږئ. تر څو په هغه څه پوه شئ چې تاسې يې وايئ.

**آخري مرحله:**

الله سبحانه وتعالی فرمايي :[ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالأَنصَابُ وَالأَزْلاَمُ رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ] (المائدة: ٩٠).

ژباړه: ای مؤمنانو ! په دې کې هيڅ شک نشته چې شراب او جواري او بتان او د فال غيشي ناپاک او د شيطان کړنې دي نو ځان ترې وژغورئ.

پس ﴿فَاجْتَنِبُوهُ﴾ امر دی په مطلق تحريم باندې

**دوهمه فائده: د نزول د تعين پيژندل :**

مثال: د الله تعالی دا قول: [قَدْ سَمِعَ اللَّهُ قَوْلَ الَّتِي تُجَادِلُكَ]

دا آيتونه د خولة بنت ثعلبة رضی الله عنها او د هغې خاوند اوس بن صامت په شأن کې نازل شوی وو، چې صحيح حديث کې راغلي چې خوله رضی الله عنها رسول الله صلی الله عليه

وسلم ته راغله او ويې ويل: چې ماته مې خاوند ظهار راکړ، داسې کلمه يې وويله چې په تحريم دلالت کوي.

چې بيا دا آيتونه نازل شول :

﴿قَدْ سَمِعَ اللَّهُ قَوْلَ الَّتِي تُجَادِلُكَ فِي زَوْجِهَا وَتَشْتَكِي إِلَى اللَّهِ وَاللَّهُ يَسْمَعُ تَحَاوُرَكُمَا﴾[المجادلة: 1] وقوله ﴿وَالَّذِينَ يُظَاهِرُونَ مِن نِّسَائِهِمْ ثُمَّ يَعُودُونَ لِمَا قَالُوا فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ﴾ [المجادلة: 3]

شرح: فهذا الحكم عام, يشمل خولة ويشمل أوس ويشمل كل مَن وقع في هذا الحكم, والقاعدة "العبرة في عموم اللفظ وليست بخصوص السبب". لكن لا شك أن السبب الذي نزلت من أجله الآيات يدخل دخولاً أوليًا, لأنه هو السبب المباشر,

پس دا حکم عام دی چې شامل دی خوله، اوس بن صامت او ټولو ته، نو قاعده داسې ده چې « العبرة في عموم اللفظ وليست بخصوص السبب»

**دريمه فائده: د آيتونو په فهم او پوهېدو کې مرسته :**

مثال: الله تعالى فرمايي :[إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِن شَعَآئِرِ اللّهِ فَمَنْ حَجَّ الْبَيْتَ أَوِ اعْتَمَرَ فَلاَ جُنَاحَ عَلَيْهِ أَن يَطَّوَّفَ بِهِمَا وَمَن تَطَوَّعَ خَيْرًا فَإِنَّ اللّهَ شَاكِرٌ عَلِيمٌ] (البقرة: 158).

ژباړه :يقيناً چې صفا او مروه د الله تعالى له نښانو څخه دي. نو څوک چې د بيت الله د حج او عمرې تکل وکړي هيڅ باک نلري چې د دواړو په مينځ کې منډې را منډې وکړي او څوک چې نيک او ښه کارونه په خوښه وکړي نو الله پاک ښه شکر منونکی او عالم دی.

ظاهر د آيت خو دا دی چې هغه کسان چې حج او عمرې ته ځي په هغوی باندې ګناه نشته چې د صفا او مروه تر مينځ سعی وکړي.

مګر سبب د نزول ددې آيت شريف دا دی چې: د جاهليت په وخت د صفا او مروه دواړو ځايونو باندې د مشرکانو بتان وو، نو مسلمانانو ته پخپلو نفسونو کې حرج ښکارېدو نو دا آيت

نازل شو چې صفا او مروه د الله تعالی شعائر دي، د بتانو څخه پخوا هم مقدس ځايونه وو.

او فائده دا شوه چې د اسلامي شريعت لخوا ټاکلی مقدس ځای د محرمات په وسيله نه خرابيږي.

همدارنګه د الله تعالی دا قول چې فرمايي: [وَ لَيْسَ الْبِرُّ بِأَنْ تَأْتُوا الْبُيُوتَ مِنْ ظُهُورِهَا وَلَكِنَّ الْبِرَّ مَنِ اتَّقَى وَأْتُوا الْبُيُوتَ مِنْ أَبْوَابِهَا] (البقرة: ۱۸۹).

ژباړه :او دا کومه نيکي نه ده چې تاسې کورونو ته د شا له لوري راځئ. بلکي اصلي نيکي د هغه چا ده چې له الله څخه وډار شي. او تاسې کورونو ته د دروازې له لارې ولاړ شئ.

مفسرين وايي چې د جاهليت په زمانه کې ځيني عرب داسې وو چې کله به يې حج آدا کړ نو خپلو کورونو ته به د دروازو لیارې نه ننوتل بلکي د شا د طرف څخه به ننوتل او دوی به ويل: چې د ګناهونو سره حج ته تللی وو او اوس پاک کور ته راځو نو بايد په يو نوې لاره داخل شو، او دا عقيده لرل صحيح نه وو په پورته آيت شريف کې رد شو.

**څلورمه فائده: د حفظ او يادولو آسانتيا :**

کله چې مونږ يو قصه ذکر کوو لکه د صفا په غونډې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم خطبه وويله او دا آيت نازل شو [تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ] او همدارنګه د انفال او د هغه د تقسيم په باره کې پوښتنه او د هغه په ځواب کې د آيتونو نزول او نور زمونږ په ذهن کې ثابت ځای نيسي او د قرآن يادول را ته آسانه کيږي. (علوم القرآن – الأکاديمية الاسلامية).

**د اسباب نزول پیژندلو طریقه :**

د اسباب نزول د پیژندلو لپاره لاندې صورتونه دي:

**۱ـ د اسباب نزول د پیژندلو طریقه روایت دی :**

لکه بی بی عایشه رضی الله عنها چې د خوله د قصې روایت کوي چې زه په کور کې ومه چې خوله راغله او ژړل یې، د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه یې ظهار په باره پوښتنه وکړه چې بیا دا آیت شریف نازل شو [قَدْ سَمِعَ اللَّهُ قَوْلَ الَّتِي تُجَادِلُكَ] .

**۲ـ د اسباب نزول په باره کې د علماؤ مواظبت :**

لکه عبدالله ابن معسود رضی الله عنه وایي: «والله ما من آية في كتاب الله إلا وأعلم أين نزلت ـالمكان- ومتى نزلت ـالزمان- وفيمن نزلت ـسبب النزول» .

یعنې: و الله چې د الله تعالی په کتاب کې داسې آیت نشته مګر دا چې زه د هغه د نزول پر ځای، او دا چې کله نازل شوی او سبب د نزول یې څه دی عالم او پوه یم.

د حضرت عمر رضی الله عنه په دور خلافت کې عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه کوفې ته واستول شو تر څو خلکو ته د قرآن تعلیم ورکړي هغه رضی الله عنه د وفات تر وخته پورې په کوفه کې خلکو ته د دین تعلیم ورکولو، امام ابی حنیفه رحمه الله د ابن مسعود رضی الله عنه د شاګرد شاګرد دی او د کوفې د مدرسې زده کوونکی دی.

**۳ـ په علوم القرآن کې د اسباب نزول مستقل باب :**

د علوم القرآن په ځینو کتابونو کې د اسباب نزول لپاره ځانته فصل او باب ټاکل شوی دی لکه :

"الإتقان في علوم القرآن", "البرهان في علوم القرآن", "الزيادة والإحسان في علوم القرآن", "فنون الأفنان في علوم القرآن" چې د مستقل باب ټاکل د هغه په اهمیت او اهتمام دلالت کوي.

**۴- په تفاسيرو کې د اسباب نزول ذکر :**

اکثرو مفسرينو د سورتونو او آيتونو سبب نزول ذکر کړی وي.

**۵- مستقل تأليفات :**

په اسباب نزول کې ځيني ځانګړي کتابونه هم ليکل شوی دي چې په لاندې ډول دي :

لباب النقول في أسباب النزول – جلال الدين السيوطي
أسباب النزول – الواحدي
أسباب النزول – النيساپوری
العجاب في البيان الأسباب – ابن حجر العسقلانی
تنزيل القرآن – ابن شهاب الزهری

# څلورم فصل
# تاريخ القرآن
# (علم مكي والمدني)

قرآنكريم په يو ځل نه دی نازل شوی بلكي په څو ځله په ۲۳ كلونو كې نازل شوی دی چې څه د هجرت څخه مخكې په مكه او څه د هجرت څخه وروسته په مدينه كې او څه د سورتونو پشان او څه د آيتونو په ډول، څه په غزواتو كې، څه د ورځې او څه د شپې نازل شوی دی.

**د مكي او مدني تعريف :**

د مكي او مدني په تعريف كې راحج قول دا دی چې: هغه سورتونه چې د هجرت څخه مخكې په مكه كې نازل شوي مكي او هغه سورتونه چې د هجرت څخه وروسته په مدينه كې نازل شوي مدني بلل كيږي.

**د مكي او مدني تر مينځ فرق :**

**اول ـ مكي سورتونه :**

۱ـ د انبياء قصې ډيرې پكې بيان شوې وي.
۲ـ آيتونه يې لنډ لنډ وي.
۳ـ په هغه كې كفار په وعيد باندې تهديد شوي دي.
۴ـ د عقيدې او ايمان د اركانو څخه بحث كوي.
۵ـ د احكامو لكه: لمونځ، زكات، حج، روژې او جهاد څخه بحث نه كوي.
۶ـ د عباداتو، معاملاتو او آدابو د تطبيق له اصولو څخه بحث كوي.
۷ـ قسم ډير پكې ياد شوی وي.

**مدني سورتونه :**

۱ـ آيتونه يې اوږه وي.
۲ـ زيات د اهل كتابو څخه بحث كوي ځكه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د يهودو تر څنګ ژوند كولو.

۳- په هغه کې قصې ډېرې کمې وي.
۴- عبادات او احکام په تفصيلي ډول بيان شوی وي.
۵- د حکومت او ټولنې د تنظيم څخه بحث کوي.
۶- د جهاد څخه بحث کوي.
۷- د شريعت د احکامو څخه بحث کوي.

**د مکي او مدني سورتونو پېژندل :**

د مکي او مدني سورتونو د پېژندلو لپاره دوې طريقې دي سماعي روايت او قياسي، سماعي دا چې مونږ ته د نزول خبر را رسيدلی يا روايت شوی دی.

او قياسي دا چې: ټول هغه سورتونه چې (يا أيَّها الناس) پکې راغلی وي، او يا پيل په حروف مقطعات شوی وي لکه: آل عمران، البقره او نور مکي سورتونه دي.

او ټول هغه سورتونه چې په هغه کې د مخکې امتونو او پيغمبرانو قصې، فرائض، احکام او حدود بيان شوي وي او يا د منافقينو بيان پکې شوی وي مدني سورتونه دي.

د قرآنکريم لومړی نازل شوی سورت، سورت علق دی: [اقرأ باسم ربک... ] تر [ما لم يعلم] پورې (رواه البخاري و مسلم). (مختصر الأتقان في علوم القرآن ص ۵۸-۵۴)

**د مکي سورتونو د پيژندلو ضوابط :**

۱- د قرآن هر سورت چې په حروف مقطعاتو (الم، کهعيص) باندې پيل شوی وي مکي دی لکه: سورة البقره او آل عمران.
۲- په هر سورت کې چې (کلا) وي مکي دی لکه: ﴿كَلَّا لَا تُطِعْهُ وَاسْجُدْ وَاقْتَرِبْ﴾[العلق: 19], ﴿كَلا بَلْ رَانَ عَلَى قُلُوبِهِمْ﴾ [المطففين: 14],
۳- په هر سورت کې چې سجده تلاوت وي مکي دی.

۴- هر سورت چې په قسم باندې پيل شوى وي مكي دى لكه: ﴿وَالذَّارِيَاتِ ذَرْوًا﴾ [الذاريات: 1], ﴿وَالطُّورِ﴾ [الطور: 1], ﴿وَاللَّيْلِ إِذَا يَغْشَى﴾ [الليل: 1].

۵- د مكي په سورتونو كې د تأكيد لپاره نون ثقيله او نون خفيفه ډير ذكر شوى وي.

۶- هر سورت چې په حمد باندې پيل شوى وي مكي دى لكه: فاتحه، الأنعام، الكهف، فاطر او سبأ.

۷- په هر صورت كې چې د انبياؤ تفصيلي قصې وي مكي دى، لكه: سوره الاعراف، هود، القصص.

**د مدني سورتونو د پيژندلو ضوابط :**

۱- په هر سورت كې چې ﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا﴾ وي او په هغه كې ﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ﴾ نه وي مدني دى.

۲- په هر سورت كې چې منافقينو بيان راغلى وي مدني دى.

۳- په هر سورت كې چې د حدود، فرائضو او احكامو بيان وي مدني دى.

**د مكي او مدني سورتونو پيژندلو فوائد :**

**اوله فائده:** د ناسخ او منسوخ پيژندل.

**دوهمه فائده:** په دعوت كې د قرآنكريم د طرزالعمل او طريقې پيژندل دا چې په مكه كې د الله تعالى لورې ته بلنه كې د قرآنكريم څګنه طريقه وه او په مدينه منوره كې يې څنګه طريقه وه.

الله سبحانه وتعالى په مكه كې څنګه خلك تربيه كول او په مدينه كې يې څنګه تربيه كول او د خلكو سره يې څه ډول تعامل كولو.

**دريمه فائده:** د شريعت د تطبيق تاريخ : لكه د خمر د حرمت بيان چې په تدريجې توګه راغلى دى.

**څلورمه فائده:** د قرآنکريم د تفسير سره مرسته. مثلاً سورت الذاريات په مکه کې نازل شوی دی او هلته رسول الله صلی الله عليه وسلم او مسلمانان ضعيف وو.

**پنځمه فائده:** د قرآن څخه د سيرت نبي را ايستل : د مکي او مدني سورتونو د پيژندلو په وسيله مونږ سيرت نبي را ايستلی شو چې په مکه مکرمه کې د رسول الله صلی الله عليه وسلم کړنلاره څه وه او په مدينه يې کړنلاره څه وه.

(علوم القرآن – الأكاديمية الاسلامية).

## پـنـځم فـصل

## د قـرآنـكريم تـرتـيب او جمع

په علوم القرآن كې د جمع القرآن موضوع ډيره مهمه موضوع ده ځكه اكثره اسلام دوښمن چې ګوتنيونه كوي هغه دغې موضوع ته ده.

**د جمع القرآن معنى :**

د جمع القرآن درى ډوله معناوې دي :

**جمع**: په سينو كې د حفظ او يادولو په معنى.

**كتابت**: په مصاحفو كې د ليكلو او جمع كولو په معنى.

**ثبت صوتي**: په صوتي آلاتو كې د قرآن ثبتول.

**۱ـ په سينو كې د قرآنكريم جمع كول :**

الله سبحانه وتعالى خپله د قرآنكريم د حفظ او ساتلو ذمه اخيستلې ده مګر د نورو آسماني كتابونو د حفظ او ساتلو ذمه واري يې د هغوى اهل ته سپارلې وه، چې همدا وجه وه چې نومړي كتابونه لكه: زبور او انجيل تحريف شوي دي.

مګر قرانكريم چې ساتنه يې د الله تعالى په ذمه ده د تحريف څخه پاک دى، لقوله سبحانه وتعالى :[ إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ] (الحجر:٩ ) .

**د قرآنكريم د حفظ حكم :**

د قرآنكريم حفظ په امت باندې فرض كفايي دى، يعنې: په امت كې به داسې يو ډله موجوده وي چې هغوى قرآن حفظ كړي.

مګر د قرآن دومره يادول چې لمونځ ورباندې صحي شي په هر مسلمان باندې فرض دى لكه: فاتحه او ځيني آسانه سورتونه او آيتونه.

**په سينو كې د قرآن د يادولو تاريخ :**

لمړى كس چې قرآن يې ياد وو جبريل عليه السلام ؤ، بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم او بيا صحابه كرام رضى الله

عنهم او بیا د امت نور حافظان چې الحمدلله تر نن پورې دا سلسله روانه ده.

**۲ـ د قرآنکریم کتابت:**

**د قرآنکریم د کتابت مراحل :**

اول: په عهد نبی صلی الله علیه وسلم کې د قرآن کریم کتابت.

دوهم: په عهد ابی بکر صدیق رضی الله عنه.

دریم: په عهد عثمان رضی الله عنه.

**اول – په دور نبوي صلی الله علیه وسلم کې د قرآن کتابت :**

د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم په حیات مبارک کې به چې کله کوم سورت او آیت نازېدو هغه به خپلو صحابه کرامو رضی الله عنهم ته د یادولو او حفظ حکم کولو، ډیرو صحابه کرامو قرآن یاد کړی وو او پخپلو سینو کې یې د الله تعالی کلام ته ځای ورکړی وو.

هغه مشهور صحابه کرام د کومو چې مکمل قرآن حفظ وو دا دي:

خلفاء الراشدین، طلحه، سعد، ابن مسعود، حذیفة بن الیمان، ابو موسی الأشعري، سالم مولی ابی حذیفه، عبدالله بن عمر ،ابن عباس، أنس، أبی بن کعب، معاذ، زید بن ثابت، أبو هریرة، ابن زبیر او ابو درداء او نور.

او همدارنګه صحابه بېبیانې لکه :ام مؤمنین عائشه، حفصه، ام سلمه او أم ورقه... چې د ځینو مکمل او د ځینو څه حصه یاد وه.

همدارنګه د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم په حیات مبارک کې د قرآنکریم سوتونه او آیتونه لیکل کېدل، رسول الله صلی الله علیه وسلم څو صحابه کرامو ته د لیکلو دنده سپارلې وه چې قرآنکریم ولیکي چې هغه صحابه کرام دا دي :

علی بن ابی طالب، معاویه بن ابی سفیان، ابوبکر، عثمان، زید بن ثابت، ابی بن کعب، عبدالله بن مسعود او نور صحابه رضی الله عنهم اجمعین.

په ځینو روایاتو کې خلفاء الراشدین، زید بن ثابت، ابی بن کعب، خالد بن ولید ،أبان، خالد ابنا سعید او نور صحابه رضی الله عنهم اجمعین.

کله به چې وحی نازله شوه رسول الله صلی الله علیه وسلم به هغوی را غوښتل او هغوی ته به یې د لیکلو حکم کولو، هغوی ته به یې د جبریل امین د لارښوونې موافق د لیکلو او ځاي پر ځای کولو او ترتیب حکم کولو.

ابن عباس رضی الله عنه روایت کوي: چې کله به کوم سورت نازل شو رسول الله صلی الله علیه وسلم به ځینې کسان را وغوښتل او هغوی ته به یې فرمایل: «ضعوا هذه السورة في الموضع الذي يذكر فيه كذا وكذا» (وروى أحمد وأصحاب السنن الثلاثة)

یعنې: کیږدې دغه سورت په هغه ځای کې (د کوم چې ماته لارښوونه شوې) او داسې، داسې.

همدارنګه زید بن ثابت رضی الله عنه وایي:«كنت جارًا للنبي ﷺ في المدينة, فكانت إذا نزلت آية أو آيات, أرسل إلي, فجئته, فأمرني بكتابة هذه الآيات التي نزلت».

په نبوي دور کې قرآنکریم د رسول الله صلی الله علیه وسلم تر څارنې لاندې داسې لیکل شوی وو چې آیتونه یې ترتیب ولی سورتونه یې ترتیب شوي نه وو او سورتونه په جلا جلا صحیفو کې لیکل شوي وو، مثلاً د ماعون سورت په یوه صحیفه کې او تین سورت په بله صحیفه کې لیکل شوي وو.

**په عهد نبوي کې د قرآنکریم د جمع کولو ځانګړتیاوې :**

په اوو تورو لیکل شوی وو.

په یو مصحف کې جمع شوی نه وو بلکې په ځانګړو صحیفو کې لیکل شوی وو.

د آیتونو په شکل ترتیب شوی وو، د سورتونو په شکل نه وو ترتیب شوی.

**دوهم – دور ابوبکر صدیق رضی الله عنه :**

د ابوبکر صدیق رضی الله عنه په دور کې قرآن کریم چې مخکې جلا جلا لیکل شوی ؤ ټول یو ځای جمع شو.

کله چې ابوبکر صدیق رضی الله عنه ته د یمامه په جګړه کې د تقریباً اویا تنو حافظانو د شهادت خبر ورسید نو حضرت عمر فاروق رضی الله عنه ابوبکر صدیق رضی الله عنه ته د قرآن د جمع کولو مشوره ورکړه.

د ابوبکر صدیق رضی الله عنه په دور کې قرآنکریم د زید بن ثابت رضی الله عنه لخوا جمع او ولیکل شو .

زید بن ثابت رضی الله عنه په عهد رسول الله صلی الله علیه وسلم کې هم د جناب تر څارنې لاندې د وحي لیکونکی ؤ، هغه ځوان، اماندار، صادق صحابي ؤ چې د انصارو څخه ؤ او د مدینې منورې اوسېدونکی وو.

په عهد ابوبکر صدیق کې د قرآنکریم د جمع کولو ځانګړتیاوې :

په اوو تورو لیکل شوی وو.

یوازې په یو مصحف کې جمع شو.

**دریم - دوره عثمان رضی الله عنه :**

د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه په دور خلافت کې همغه د ابوبکر صدیق رضی الله د دور جمع شوی قرآن ؤ.

د حضرت عمر فاروق او حضرت عثمان رضی الله عنهم په دور خلافت کې ډېر فتوحات وشول صحابه کرام د نړۍ په ګوټ ګوټ کې تیت شول، چې د ځینو صحابه کرامو سره څه لیکل شوي مصاحف او قراءات ؤ او څه به ور سره نه وو او

څه به د نورو سره وو چې په دې وجه په قراءات کې څه اختلاف را مينځته شو. چې کله ددې مسئلې خبر دار الخلافه ته ورسيد نو حضرت ذوی نورين رضی الله عنه زيد بن ثابت، عبد الله بن زبير، سعيد بن العاس، عبدالرحمن بن حارث ته د ليکلو او سورتونو په بېه د ترتيب کولو حکم وکړ.

او وروسته د قرآن ليکل شوی مصحف د اسلامي امت ټولو ښارونو ته وليږل شو تر څو ټول مسلمانانو په يو مصحف او قرائت جمع شي .

(المدخل لدراسة القرآن الكريم ـ الدكتور محمد محمد أبو شهبة).

د حضرت عثمان رضی الله عنه په عهد کې ليکل شوی مصحف همغه د ابوبکر صديق رضی الله عنه د عهد ليکل شوی مصحف ښخه وليکل شو، چې د ابوبکر صديق او عثمان رضی الله عنهم دواړو دورو کې د ليکلو سرپرستي د زيد بن ثابت رضی الله عنه پر غاړه وه.

عثمان رضی الله عنه ټولې پخوانی نسخې او مصاحف جمع کړل او د هغه پر ځای يې يوازې يو مصحف ترتيب او هغه يې د اسلامي امت ټولو برخو ته وليږلو.

**۳ـ د قرآن کريم صوتي ثبت :**

د لومړي ځل لپاره تقريباً په ۱۳۷۹ هجري کال کې په مصر کې د دوکتور لبيب سعيد لخوا نظر ورکړ شو چې بايد قرآن په صوتي بڼه ثبت کړ شي بلاخره د ازهر په تفاهم سره قرآنکريم د شيخ محمد حصري رحمه الله په غږ کې د حفص په روايت سره مکمل په صوتي آلاتو کې ثبت شو.

وروسته په کال د ۱۴۰۵ هجري کال د ملک فهد د ټولنې لخوا د عصري وسايلو په وسيله په صوتي بڼه ثبت شو.

**د آيت تعريف :**

آيت په لغت کې معجزې، علامې، دليل او عبرت ته وايي، په اصطلاح کې آيت هغه علامه ده چېرې چې خبره پوره شوې وي هلته راغلي وي.

**د قرآنکريم د آيتونو ترتيب :**

قرآنکريم چې په کوم شان سره په رسول الله صلى الله عليه وسلم باندې نازل شوی دی، هغه په همغه شان سره صحابه کرامو ته لوستلی او ښودلی دی او هغوی ته يې د آيتونو شمير او ځايونه ښودلی دي.

لقول رسول الله صلى الله عليه وسلم: أن الفاتحة سبع آيات، وسورة الملك ثلاثون آية.

يعنې : فاتحه اووه ايته ده او سورت الملک دېرش آيته دی .

**د سورت تعريف :**

سوره له «سور بلد » (د ښار څاپيره لوړ ديوال) څخه اخيستل شوی دی، ځکه هر سورت له آيتونو جوړ او احاطه شوی دی، لکه د (سور) په وسيله احاطه شوی ښار چې د کورنو څخه جوړ شوی.

همدارنګه سورت په معنی د ترکيب او منزلت دی.

په اصطلاح کې د قرآنکريم د څو آيتونو ترکيب او مجموعې ته سورت وايي.

**د سورتونو ترتيب :**

د قرآنکريم سورتونه هم د ايتونو په څير د رسول الله صلى الله عليه وسلم لخوا صحابه کرامو ته ښودل شوی دي.

**د قرآنکريم د سورتونو، آيتونو او نورو شمير :**

قرآنکريم ۱۱۴ سورتونه لري چې ۸۸ مکي او ۲۶ مدني د قرآنکريم تر ټولو لوی سورت البقره دی او تر ټولو کوچنی سورت العصر، الکوثر او النصر دي چې دری آيتونه لري.

د قرآنکريم سورتونه: ۱۱۴

د قرآنکريم رکوع: ۵۴۰
د سجده تلاوت ځايونه: ۱۴
د قرآنکريم آيتونه :۶۶۶۶
د قرآنکريم کلمات: ۷۷۹۳۴
د قرآنکريم توري يا حروف : ۳۴۰۷۴۰ يا ۳۲۳۶۷۱
په قرآنکريم کې د ټکو يا نقطو شمير : ۱۰۱۵۰۳۰
په قرآنکريم کې د زورونو شمير : ۹۳۲۴۳
په قرآنکريم کې د زېرونو شمير : ۳۹۵۸۶
په قرآنکريم کې د شدونو شمير: ۱۹۲۵۳

# شپږم فصل
# علم الـتفـسيـر

**تعريف علم تفسير :**

تفسير په لغت کې بيان او کشف ته وايي او په اصطلاح کې تفسير هغه علم دی چې په هغه کې د الله تعالی د کلام د فهم او مقصد ټاکلو څخه د بشر د توان موافق بحث کيږي.

يا په لنډ ډول تفسير عبارت دی د قرآن د معنی له بيان څخه.

**تأويل :**

تأويل په لغت کې رجوع او ګرځېدو ته وايي او په اصطلاح کې د علم او عمل سره د يوې شي څخه ګرځېدل د حقيقي مراد او مقصدي لورې ته.

**د تفسير او تأويل فرق :**

علماء کرام د تفسير او تأويل په شرعي او اصطلاحي تعريف کې مختلف اقوال لري.

ابو عبيده او ځنې علماء وايي: دواړه يو معني لري.

ځنې علماء وايي: چې تفسير په معنی د روايت او تأويل په معنی د درايت دی او دا تعريف دوکتور وهبة زحيلي غوره کړی دی.

**د علم تفسير حکم :**

د قرآنکريم د تفسير حکم فرض کفايي دي کچېرې د هغه په زده کړې باندې ځينې کسان مشغول وي نو د نورو کسانو غاړه خلاصيږي، او که هيڅ څوک د هغه زده کړه نه کوي او څوک نه وي چې خلکو ته د هغه معنی او مقاصد بيان کړي نو ټول به ګنهکار وي.

**د علم تفسير پيدايښ:**

علم تفسير د جناب رسول الله صلی الله عليه وسلم د حيات مبارک څخه پيل شوی دی په رسول الله صلی الله عليه وسلم به وحی نازلېده د هغه مقصد او مراد به يې صحابه کرامو ته

بيانولو او كه به صحابه كرامو ته څه سوال پيدا كېدو له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه به يې پوښتنه كوله.

مثال: د دغه ايت كريمه [الَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يَلْبِسُوا إِيمَانَهُمْ بِظُلْمٍ أُوْلَئِكَ لَهُمُ الأَمْنُ وَهُمْ مُهْتَدُونَ] (الانعام :٨٢).

ژباړه: هغه كسان چې ايمان يې راوړى دى او نه دى كړ كړى دوى ايمان خپل له شرک سره نو همدوى ډاډمن او همدوى لار ميندونكي دي.

د پورته آيت شريف په اړه عبد ابن مسعود رضى الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه وكړه چې دلته د ظلم څخه مطلب مطلق ظلم دى ځكه چې د ژبې د اصولي قاعدې له مخې د [لم ] حرف چې نفى ده د عموم لپاره راغلى دى.

رسول الله صلى الله عليه وسلم ابن مسعود رضى الله عنه ته وويل: چې ستا فهم او درک صحي دى (د نفي لم د عموم لپاره) ده مګر دلته د ظلم څخه مطلب مطلق (هر ډول ظلم) نه بلكې شرک دى ځكه قرآن كريم داسې بيان كړى دى :[ يَا بُنَيَّ لَا تُشْرِكْ بِاللَّهِ إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ] (لقمان).

ژباړه: اى زما بچوړيه ! له الله سره شريک مه نيسه يقيناً شرک خورا لوى ظلم دى.

او دا مثال د تفسير د قواعدو څخه مهمه عاقده ده چې دې ته تفسير د قرآن په قرآن باندې ويل كيږي.

**مثال د قرآن تفسير په قرآن سره :**

همدارنګه رسول الله صلى الله عليه وسلم د سوره انعام يو آيت د سوره لقمان په آيت سره تفسير كړى دى، الله تعالى فرمايي :[ وَعِندَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَا إِلَّا هُوَ] (الأنعام :٥٩).

ژباړه :او خاص هم دغه الله سره دي كلي ګانې (كونجيانې) د خزانې د غيب چې نه پوهيږي په هغو (بل هيڅوک) مګر (عالم دى پرې) هم دى.

**مفاتح الغيب څه دي ؟**

ځواب يې د لقمان په سورت کې دی چې الله سبحانه وتعالى فرمايي: [ ﴿إِنَّ اللَّهَ عِندَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ]، يعني: ددې څخه مراد مطلق علم غيب دی، او فرمايي: [وَينَزِّلُ الْغَيْثَ وَيعْلَمُ مَا فِي الْأَرْحَامِ وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ مَّاذَا تَكْسِبُ غَدًا وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ بِأَيِّ أَرْضٍ تَمُوتُ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ] (لقمان:۳۴)

ژباړه: باران هم يوازې هغه وروي. او هغه څه هم ورته معلوم دي چې په رحمونو کې دي او هيڅ نفس په دې نه پوهيږي چې سبا ته به څه کوي؟ او هيڅ نفس په دې نه پوهيږي چې په کومه ځمکه به مړ کيږي يوازې يو الله دی چې په هر څه پوه او د هر څه نه خبر دی.

چې پنځه مفاتح شول چې يوازې الله تعالى ورباندې پوهيږي او بس.

**د صحابه کرامو په عهد کې تفسير :**

د رسول الله صلى الله عليه وسلم د وفات وروسته د علم تفسير نشر صحابه کرامو ته پاتې شو، صحابه کرام ټول مفسرين نه وو بلکي په هغوی کې يو ډله مفسرين وو چې مشهور يې په لاندې ډول وو :

خلفاء راشدين، ابن عباس، ابن مسعود ،أُبی بن کعب، زيد بن ثابت ،ابو موسى اشعري، عبدالله بن زبير رضی الله تعالى عنهم.

لکه ابن مسعود رضی الله عنه چې فرمايي :والله ما من آية في كتاب الله إلا وأنا أعلم أين نزلت، وفيمن نزلت، ومتى نزلت، ولو كنت أعلم أحدًا أعلم مني بكتاب الله تبلغه المطي لسافرت إليه﴾ فهذا دليل على سعة علمه بكتاب الله -سبحانه وتعالى- ومعانيه.

**د علم تفسیر مدارس :**

کله چې مسلمانانو د الله تعالی په نصرت سره زیاتې سیمې فتح کړې او د اسلام پولې او قلمرو پراخه شو د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وفات وروسته د خلفاء راشدینو په دور کې صحابه کرام د دین د حفاظت او خپرولو لپاره بېلابېلو ښارونو ته د شرعي نظام د تحکیم او تعلیم او تربیې لپاره ولیږل شول.

د لومړي ځل لپاره په مکه کې د علم تفسیر او فقهي مدرسه د حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه لخوا جوړه شوه او هلته یې زیات شمیر زده کوونکي وروزل.

دوهمه د علم تفسیر او فقهي مدرسه په مدینه منوره کې أُبی بن کعب رضی الله عنه لخوا جوړه.

او دریمه مدرسه د عراق په کوفه کې د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه لخوا جوړه شوه او همدارنګه په دمشق کې د علم تفسیر مدرسه د ابی الدرداء لخوا جوړه شوه.

د صحابه کرامو وروسته تابعینو دا مسئولیت په ښه شان تر سره کړ په تابعینو کې مشور مفسرین عبارت وو له :

مجاهد، سعید بن جبیر، عکرمه، طاوس، عطاء بن رباح، سفیان بن عیینه، وکیع بن جراح، شعبه بن حجاج، یزید بن هارون او عبد بن حمید چې دې مفسیرانو ابن جریر طبري ته زمینه برابره کړه.

**د تابعینو د دور مشهور تفاسیر دا دي :**

۱- تفسیر عکرمه، ۲- تفسیر عوفی، ۳- تفسیر مجاهد، ۴- تفسیر والبی، ۵- تفسیر زید بن اسلم.

**د علم تفسیر منابع**

**۱- قرآن :**

د علم تفسیر لومړی منبع او مأخد قرآن دی ځکه الله تعالی د خپل حکمت له مخې ځنې آیتونه په مجمل شکل نازل کړي او

ځنې ایتونه یې په مفصل شان نازل کړي چې خپل یې قرآن تفسیر کوي.

**۲ـ احادیث :**

د علم تفسیر دوهمه منبع د رسول الله صلی الله علیه وسلم احادیث دي ځکه قرآن په رسول الله صلی الله علیه وسلم نازل شوی دی الله تعالی په ډیرو آیتونو کې د بعثت مقصد تبیین (بیان) د آیایتونو ذکر کړی چې فرمایي:[وَأَنزَلْنَا إِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ] (النحل :۴۴ ) .

ژباړه: او نازل کړی دی مونږ تا ته قرآن لپاره ددې چې ته یې بیان کړې خلکو ته ، هغه چې نازل شوي دي (په دغه قرآن ) کې دوی ته ( او بل لپاره ددې ) چې ښایي دوی (په دغه قرآن کې ) فکر او غور وکړي .

**۳ـ صحابه کرام :**

د علم تفسیر دریمه منبع د صحابه کرامو اقوال او د قرآن څخه د هغوی اخذ او فهم دی ځکه چې هغوی پرته له واسطې د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په ارتباط کې وو.

**۴ـ تابعین :**

د علم تفسیر څلورم مأخد د تابعینو اقوال دي ځکه چې هغوی د صحابه کرامو شاگردان دي.

**۵ـ عربي ژبه :**

د علم تفسیر پنځم منبع عربي ژبه ده ځکه چې قرآنکریم په عربي باندې نازل شوی دی د قرآن په مقصد پوهېدل پرته له عربي څخه ناممکن دي.

**د علم تفسیر ډولونه :**

تفسیر په دوه ډوله دی تفسیر بالمأثور او تفسیر بالرأی.

**اول – تفسير بالمأثور (بالروايه):**

د قرآنکريم هغه تفسير دی چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم، صحابي او تابعي د اثر او روايت له مخې ترتيب شوی وي لکه: د کوم آيت شريف په تفسير کې د رسول الله صلی الله عليه وسلم قول چې په دې ايت کې د هغه قول داسې دی، او يا په دې باره د ابن عباس او يا ابن مسعود قول داسې دی او يا د مجاهد قول داسې دی، د دغو دريو طبقاتو د اقوالو په رڼا کې ترتيب شوي تفسير ته بالمأثور وايي.

**تفسير مأثور څلور قسمه دی :**

١- **تفسير د قرآن په قرآن سره:** او دا د تفسير غوره ډول دی، چې د قران په يو ځای کې يو مطلب مجمل ذکر شوی او په بل ځای کې په تفصيلي ټوګه راغلی وي.

٢- **د قرآن تفسير په سنتو سره:** دا چې قرآنکريم په سنتو سره تفسير شوی وي لکه: د لمانځه، حج او نورو احکامو تفصيل کوم چې په سنتو کې راغلی دي.

٣- **د صحابه کرامو تفسير:** صحابه کرام رضی الله عنهم د رسول الله صلی الله عليه وسلم د مدرسې زده کوونکي وو دوی تر ټولو زيات د قرآن په معنی او مقصد پوهېدل نو په تفسير کې د صحابي قول حجت بلل کيږي.

۴- **د تابعينو تفسير:** تابعين رحمهم الله د صحابه کرام رضی الله عنهم د مدرسې زده کوونکو وو.

**د تفسير بالمأثور مشهور کتابونه :**

د امام الطبري رحمه الله ليکل شوی تفسير "جامع البيان عن تأويل آي القرآن".

د ابن کثير رحمه الله "تفسير القرآن العظيم" چې مشهور په تفسير ابن کثير دی. د امام السيوطي تفسير "الدر المنثور في التفسير بالمأثور" تفسير ابن ابی حاتم

**دوهم – تفسیر بالرأی (بادرایه):**

د قرآنکریم هغه تفسیر دی چې خپله مفسر د اصول تفسیر له مخې تر سره کړی وي.

**تفسیر بالرأی دوه ډولونه دي :**

۱- **الرأی المذموم:** هغه تفسیر دی چې مفسر د شرعي دلیل او د اصول تفسیر پرته د خپلې رأی او هوا له مخې تفسیر وکړي داسې کول حرام او یوه خطرناکه هڅه ده، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: «من قال في القرآن بغیر علم فلیتبوء مقعده من النار» (رواه الترمذي).

یعنې: څوک چې په قرآن کې د علم پرته څه خبره وکړي نو د ځان د پاره یې په اور کې ځای وټاکلو.

۲- **الرأی المحمود:** هغه تفسیر دی چې د شرعي او علمي اصولو او ضوابطو له مخې ترتیب شوی وي، لقوله سبحانه وتعالی: {أفلا یتدبرون القرآن أم علی قلوب أقفالها }.

**د تفسیر بالرأی مشهور تصنیفات :**

د امام الطبري تفسیر چې اثر او رأی دواړه پکې جمع شوی دي.

د امام القرطبي تفسیر "الجامع لأحکام القرآن".

تفسیر ابن کثیر چې اثر او رأی دواړه پکې جمع شوی دی.

**د علم تفسیر مشهور کتابونه:**

۱- تفسیر عبدالله بن عباس، ۲- تفسیر ابن کثیر. ۳- تفسیر الطبري، ۴- تفسیر البغوي،۵- تفسیر زاد المسیر ،۶- تفسیر القرطبي ۷- تفسیر روح البیان – ۸ – تفسیر وهبة زحیلي ۹- تفسیر في ضلال القرآن ۱۰- تفسیر البیضاوي، ۱۱- تفسیر جلالین....

په پښتو ژبه :کابلی تفسیر،عزیز التفاسیر، معارف القرآن او د قرآن پلوشې .

په دري ژبه: انوارالقرآن، کابلی تفسیر، تفسیر في ضلال القرآن

# اووم فـصل
# عـلـم اصـول الـتـفـسـيـر

علم تفسير او علم اصول تفسير د ټولو علومو اشرف علم دی ځکه دا د الله تعالی د کلام علم دی، د علم اصول تفسير په وسيله د کلام الله معنی ټاکل کيږي چې د معنی او تفسير په ټاکلو سره خلکو ته د اسلامي شريعت احکام بيانيږي.

**تعريف :**

علم اصول التفسير د دوو کلمو څخه جوړ شوی (اصول) او (تفسير) د تفسير تعريف مخکې بيان شو، اصول د اصل جمع ده او اصل په لغت کې بنياد، بنسټ او آساس ته وايي.

په اصطلاح کې علم اصول تفسير هغه علم دی چې د قرآنکريم د صحي تفسير له قواعدو او طريقو څخه بحث کوي تر څو مفسير او طالب علم وکولای شي د قرآنکريم د تفسير صحي فهم تر لاسه د مفسرينو د اختلاف اسباب کشف او د اختلافي مسائلو په اخذ او رد کې د سليم او غوره منهج څخه کار واخلي (بحوث في أصول التفسير، للدكتور فهد الرومي، فصول في أصول التفسير، لمساعد الطيار ص 11).

علم اصول تفسير کې دا زده کوو چې څنګه تفسير شوی او څنګه تفسير وکړو :

څنګه تفسير شوی دا چې د مقدمينو علماؤ تفسير ته مراجع وشي چې هغوی د قرآنکريم څنګه تفسير کړی دی او بل دا چې د هغوی په اقوالو او تحقيق باندې اعتماد وشي او که د هغوی په کوم قول په اسنادو کې څه نيګړتيا وي د هغې څخه پرهيز وشي.

**د علم اصول التفسير موضوعات :**

۱- د تفسير حکم او د هغه ډولونه.
۲- تفسير د قرآن په قرآن سره، تفسير د قرآن په سنتو سره او د صحابه او تابعين د تفسير او په تفسير کې د هغوی د اقوالو فهم او پوهه.
۳- د تفسير اصول او طريقه.
۴- په تفسير کې د سلفو طريقه.
۵- په تفسير کې د اختلاف اسباب.
۶- په تفسير کې د اختلاف ډولونه.
۷- په تفسير کې اجماع.
۸- د سلفو د اقوالو توجيه.
۹- د تفسير اساليب.
۱۰- د قرآن کليات او د تفسير عام قواعد.
۱۱- په تفسير کې د ترجيح قواعد.

**د علم اصول تفسير مشهور کتابونه**

فصول في اصول التفسير – مساعد بن سليمان الطيار
الفوز الکبير فی اصول تفسير للدهلوي
دراسات فی اصول تفسير القرآن – للدکتر محسن عبد الحميد
مقدمه في اصول التفسير – للشيخ ابن تيميه

**د مفسر شرطونه :**

۱- سالمه عقيده، د مفسر عقيده به د اهل سنت و الجماعت په منهج برابره وي.
۲- د هوا نه پرهيز :
۳- د اصول تفسير علم :
د مفسر د پاره په اصول تفسير باندې پوهېدل مهم دي.
۴- علم آلات :

**علم آلات عبارت دی له :**

**علم اللغة :**

د مفسر لپاره په عربي ژبه پوهېدل مهم دي ځکه د عربي ژبې د پوهېدو پرته د قرآن په معنی نه پوهیږي.

**علم النحوه :**

علم نحو د اِعراب په لحاظ د کلمې د آخر حرکت د تغیر یا نه تغیر څخه بحث کوي.

ددې علم په وسیله د کلمې اعراف پیژندل کیږي تر څو د کلمې صحي معنی لاس ته راشي او د خطاء څخه مخه ونیول شي لکه په لاندې کلماتو کې :

- ما أحسنُ زیدٍ ؟
- ما أحسنَ زیداً
- ما أحسنَ زیدٌ

وینو چې په لومړی جمله کې مقصد د زید د غوروالی په باره کې پوښتنه ده چې کلمه د (أحسنُ) پیښ لري او کلمه د (زید) زیر لري.

او په دوهم جمله کې وینو چې د زید د غوروالی په باره کې تعجب دی چې (أحسن) په زور او (زید) په نصب سره راغلی دی.

او په آخري جمله کې وینو چې د متکلم مقصد د زید نه ښه والی او نه غوروالی دی چې (أحسن) په زور او (زید) په رفع (دوه پیښ) راغلی دی.

**علم التصریف :**

علم صرف د کلمې علم دی چې دیوې کلمې د ساختمان اوجوړښت څخه بحث کوي چې د هغه په وسیله د کلماتو جوړښت د ضبغې له مخې پیژندل کیږي.

مثلاً نَصَر (مددکول) څنګه په نصر،ینصر،اُنصر،منصور تبدیل کړو.

د علم صرف مهمه ګټه د کلمې د جوړښت او پېژندلو ځرنګوالی دی چې د هغه په وسيله کلمات پېژندلای شو تر څو د هغو مناسبه معنی په لاس راوړو.

**علم الأشتقاق :**

علم الاشتقاق اصلاً د علم اللغة فرع ده، چې ددې علم په وسيله اسم مشتق پيژندل کيږي.

مشتق هغه اسم دی چې د بلې کلمې ،فعل يا مصدر څخه اخيستل شوی وي لکه :مَطلع چې د الطلوع څخه اخيستل شوی دی.

**البلاعة، المعاني او بيان.**

د علم بلاغة، معاني او بيان په وسيله د کلام بلاغت، فصاحت او د خبرې د صحت او رد أسلوب پيژندل کيږي.

**علم قراءات :**

د مفسر لپاره علم قراءات پيژندل مهم دي، چې ددې بحث وروسته را روان دی.

**علم اصول الدين**

د علم اصول الدين په وسيله په معنی او تفسير کې هغه خطاء پيژندل کيږي چې اصول الدين مخالف وي، يعنې د قرآنکريم معنی به د دين د اصولو موافق وي.

**علم اصول فقه**

علم اصول فقه د علم آلاتو څخه ده، د اصول فقه علم د تفسير لپاره زيات مهم دی.

**علم مصطلح الحديث**

د علم مصطلح الحديث يا علم الحديث په وسيله احاديث د قبول او مردود له مخې پيژندل کيږي، چې کوم حديث صحيح، حسن او کوم ضعيف دی.

**علم فقه**

علم فقه د تفسير لپاره مهم علم دی ځکه د فقهې په وسيله د شرعي نصوصو په رڼا کې د شرعي احکامو (حلال او حرام) پيژندل کيږي.

**علم أسباب نزول و قصص**

علم أسباب نزول خاص اهميت لري لکه: د شرعي حکم د حکمت او سبب پيژندل، د حکم صحي تشخيص، په معنی کې د اشکال لرې کول، ځکه تفسير پرته د نزول د سبب له پيژندلو څخه ممکن نه دی، علم اسباب نزول د قرآن د معنی د پوهېدو لپاره ډېر مهم دی.

**علم الناسخ و المنسوخ**

د علم ناسخ او منسوخ پيژندل د مفسر لپاره شرط دی.

**علم عصري :**

د نن عصر د مفسر لپاره دا هم شرط دی چې هغه څه نا څه د عصري علومو څخه خبر وي لکه: علم احياء (بيولوژې)، علم فزيک، علم کميا، علم تاريخ، کمپيوټر او نور.

مخکې مو وويل چې: ترکي عالم نظام دين أبراهيم په علوم القرآن کې ليکلي چې: په قرآنکريم ۶۷۰ آيتونو په مختلفو علومو کې راغلی دي.

نن عصر کې د ټولنې اکثره وګړي د عصري علم سره بلتديا لري کچېرې مفسر د دغو علومو په اړه څه نا څه معلومات ونلري نو هغه به د د غو علومو په اړه عجائب او غرائب وايي ځکه په کوم شي چې سړی پوه نه وي يا د هغه څخه کرکه کوي او يا د هغه په اړه عجائب او غرائب غږوي چې دا بيا د نن عصر په ژبه د يو ديني عالم شخصيت ته توان رسوي او بل په قرآنکريم کې علمي اعجاز موجود دي چې هغه بيا د نن عصر په ژبه نشي بيانولای.

جاء في علوم القرآن الأكاديمة الاسلامية :

يُشترط في المفسر اليوم أن يكون مثقفًا عارفًا بعلوم العصر اليوم؟ نعم فهذا لا شك أنه سيكون مفيدًا جدًّا في التفسير.

يعني يأتي واحد الآن يفسر القرآن الكريم وهو ليس لديه معرفة ولو بسيطة بعلم الفيزياء، علم الأحياء، علم الجيولوجيا، علم تاريخ الأمم القديمة والحضارات القديمة، لأنك سوف تأتي وتمر عليك آيات تتحدث عن خلق الجنين في بطن أمه، وأن الله -سبحانه وتعالى- خلقكم من نطفة، ثم جعل النطفة علقة، ثم جعل العلقة مضغة، ثم جعلنا المضغة عظامًا، ثم كسونا العظام لحمًا، هذه الحقيقة مسألة في علم أحياء. نحن الآن أحوج ما نكون إلى بيان إعجاز القرآن العلمي للناس.

ژباړه: د مفسر لپاره دا شرط چې هغه د نن عصر له علومو خبر وي، هو، پس په دې کې شک نشته چې دا علوم په تفسير کې ډير ګټور تماميږي.

يعنې: يو کس د قرآن تفسير کوي خو هغه په علم بيولوژۍ، فزيک، جيولوژۍ او د پخوانيو امتونو په تاريخ حتى لږ هم نه پوهيږي او په دې اړه څه علم نلري ځکه چې په قرآنکريم کې ددغو علومو مربوط بحثونه دي لکه: د مور په رحم کې د جنين د پيدايښت مراحل چې په علم بيولوژي پورې اړه لري.

او زياتوي مونږ په نن عصر کې خلکو ته د د قرآن د علمي اعجاز بيانولو ته ضرورت لرو.

معاصر علماء د عصري عمومو زده کړه د امت يو ضرورت ګڼي، مفسر بايد د هغه په مقاصدو پوه وي او د ټولنې وګړي د شرعي علم، شرعي اخلاقو، تقوى او دينداری په زېور سره چمتو کړي.

موقع الألوكة ليکي :

العلوم (غير العلوم الشرعية) أي من استخراج المعادن وشؤون الزراعة والفلاحة وسائر العلوم النافعة، قد يجب منها ما

يحتاجه المسلمون، ويكون فرض كفاية، ولولي الأمر فيها أن يأمر بما يحتاجه المسلمون، ويساعد أهلها في ذلك، أي بما يعينهم على نفع المسلمين، والإعداد لعدوهم، وعلى حسب نية العبد تكون أعماله: عبادة لله عز وجل متى صلحت النية، وخلصت لله، وإذا فعلها بدون نية تكون من المباحات: أعني أنواع الصناعات المباحة، واستخراج المعادن والزراعة والفلاحة، وغير ذلك. (موقع الألوكة / دوكتور خاليد بن عبدالرحمن الجريسي).

ژباړه: علوم غير شرعي لکه د معدنونو د اختراخ، زراعت، او نور کتور علوم کوم مسلمانان هغو ته ضرورت لري زده کړه يې فرض کفايي ده، د مسلمانانو مشر به د هغه د زده کړې امر او انتظام کوي کومو ته چې مسلمانان ضرورت لري او د مسلمانانو په ګټه وي. او د دوښمنانو مقابله به وربانديې کوي، او اعمال په نيت پورې اړه لري، که نيت خاص د الله تعالى رضا وي عبادت دی مګر که د نيت پرته وي په مباحاتو کې راځي لکه: د مباح شيانو جوړول او توليد، د معدنونو را ايستل، زراعت، او نور.

شبکة الاسلامية ليکي :

فإن العلوم الدنيوية التي تقوم عليها مصالح الناس وبنية المجتمع تعتبر فرض كفاية، وصاحبها في عبادة إذا نوى بعمله القيام بهذا الفرض وخدمة المجتمع... ولا شك أن أجره عظيم في هذه الحالة لأنه قائم بفرض من فروض الكفاية (شبكة اسلامية).

کوم دينيوي علوم چې په هغه بانديې د خلکو مصالح ولاړ دي او د ټولنې بنسټ دی، فرض کفايي دي، صاحب يې په عبادت کې دی کچيرې د ده نيت د فرضو قيام او د ټولنې خدمت وي... او شک نشته چې په دې حالت کې ستر اجر لري، ځکه چې ددې کار تر سره کوونکي د فرض کفايي تر سره کوونکی دی.

امام شافعي رحمه الله وايي :

لا أعلم علماً بعد الحلال والحرام أنبل من الطب، إلا أن أهل الكتاب قد غلبونا عليه.

زه د حلالو او حرامو د علم وروسته له طب څخه ښه علم نه پيژنم، ځکه چې اهل کتابو د هغه په وسيله پر مونږ باندې غلبه موندلې ده.

**د مفسر آداب :**

د مفسر او هر ديني عالم لپاره لاندې آداب په نظر کې نيول پکار دي :

١- اخلاص:

٢- په خپل علم باندې عمل

٣- د الله تعالی څخه وېره او د تقوی اختيارول .

# آتـم فـصل
# علـم الـنـاسخ و الـمـنسوخ

**د ناسخ او منسوخ تعريف :**

النسخ په لغت کې پورته کولو ته وايي، لقوله سبحانه وتعالى: [فَيَنْسَخُ اللَّهُ ما يُلْقِي الشَّيْطانُ ثُمَّ يُحْكِمُ اللَّهُ آياتِهِ] (الحج: ٥٢).

همدارنګه نسخ د بدلولو، اړولو او تحويل په معنی ده، لکه په دغه قول د الله تعالى کې چې اشاره ورته شوې ده [وَإِذا بَدَّلْنا آيَةً مَكانَ آيَةٍ] (النحل :١١٠).

په اصطلاح کې د شرعي حکم پورته کېدل په شرعي دليل سره (رفع الحکم الشرعي بدليل شرعي).

**المنسوخ**: د نسخ اسم مفعول دی.

منسوخ عبارت له هغه شرعي حکم څخه دی چې په شرعي دليل سره پورته شوی وي.

**د النسخ د ثبوت دلائل :**

[مَا نَنْسَخْ مِنْ آيَةٍ أَوْ نُنْسِهَا نَأْتِ بِخَيْرٍ مِنْهَا أَوْ مِثْلِهَا أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ] (البقرة: ١٠٦).

ژباړه: مونږ چې کوم آيت منسوخ کوو او يا يې هيروو (د مؤمنانو له زړونو څخه) نو په ځای يې له هغې څخه غوره او يا په مثل د هغه راوړو، آيا تاسې په دې نه پوهيږئ چې الله پاک په هر څه توان لري.

[وَإِذَا بَدَّلْنَا آيَةً مَكَانَ آيَةٍ وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا يُنَزِّلُ قَالُوا إِنَّمَا أَنْتَ مُفْتَرٍ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ] (النحل: ١٠١).

ژباړه: او کله چې مونږ يو آيت د بل آيت پر ځای بدل کړو، او الله ښه پوهيږي چې څه يې نازل کړي نو (کافران) وايي: چې (محمده!) دا تا له ځانه جوړ کړي دي نه بلکې د دوی ډير خلک نه پوهيږي.

**د نسخ حکمت :**

۱- د شرعي احکامو په تطبيق کې تدريج، د انسان فطري عادت همداسې وي چې په تدرجي توګه لوييږي (بدن يې په تدرجي توګه) کمال ته رسيږي، په تدرجي توګه علم حاصلوي، لومړي په ډيرو شيانو نه پوهيږي او وروسته په تدريج سره په ډيرو شيانو پوه شي نو اسلامي شريعت د انسان ټول مصالح په نظر کې نيولې دي.

۲- **تخفيف او آساني:** د نسخ دوهم حکمت دا دی چې الله تعالی پر خپلو بندګانو باندې تخفيف او آسانې کړې ده، مثال: صحابه کرامو ته الله تعالی حکم کړی وو چې يو کس د تاسې به د لسو کافرانو په مقابل کې ثبات کوي، لقوله سبحانه وتعالی :[ إِنْ يَكُنْ مِنْكُمْ عِشْرُونَ صَابِرُونَ يَغْلِبُوا مِائَتَيْنِ] (الانفال :۶۵)

(او ستاسې شل صبر کوونکي وي نو پر دوه سوو به بر لاسه شي)

او وروسته دا حکم نسخ شو په دغه آيت سره: [الآنَ خَفَّفَ اللَّهُ عَنكُمْ وَعَلِمَ أَنَّ فِيكُمْ ضَعْفًا فَإِنْ يَكُنْ مِنْكُمْ مِائَةٌ صَابِرَةٌ يَغْلِبُوا مِائَتَيْنِ] (الانفال :۶۶).

ژباړه: اوس الله پاک پر تاسې آسنتيا راوستله او معلومه يې کړه چې پر تاسې کې سستي او ناتواني ده، نو که ستاسې سل ګونې صبر کوونکی ډله وه نو بايد پر دوو سوو برلاسي شي.

واضح ده چې په حکم کې تخفيف او آساني راغلی ده.

۳- د خپلو بنده ګانو د مصالح مراعوتول.

۴- څلورم حکمت د نسخې امتحان او ابتلاء ده .

**د منسوخ شویو آیتونو ډولونه :**

۱- هغه آیتونه چې حکم او لفظ یې دواړه منسوخ شوي دي.
۲- هغه آیتونه چې لفظ یې نسخ او حکم یې باقي دی لکه: ﴿والشیخ والشیخة إذا زنیا فارجموهما البتة نکالًا من الله والله عزیز حکیم﴾.

د (الشیخ والشیخة): نه مقصد محصن او محصنه (هغه نارینه او ښځینه چې واده شوي وي) دي نو ددې آیت شریف حکم باقي دی مګر لفظ یې منسوخ دی چې مونږ یې اوس نه تلاوت کوو.

۳- هغه آیتونه چې حکم یې منسوخ شوی خو لفظ او تلاوت یې باقي دی.

**مثال، قیام لیل :**

المنسوخ: قوله تعالی:[يَا أَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ * قُمْ اللَّيْلَ إِلا قَلِيلا * نِصْفَهُ أَوْ انْقُصْ مِنْهُ قَلِيلا] (المزمل: ۱- ۳).

ژباړه:ای ځان نغښتونکیه ! شپه په (عبادت تیره کړه) پرته له لږ یې، نیمایي شپه (عبادت وکړه) او یا له نیمایي څخه لږ کم.

الناسخ: قوله تعالی:[إِنَّ رَبَّكَ يَعْلَمُ أَنَّكَ تَقُومُ أَدْنَى مِنْ ثُلُثَيِ اللَّيْلِ وَنِصْفَهُ وَثُلُثَهُ وَطَائِفَةٌ مِنْ الَّذِينَ مَعَكَ وَاللَّهُ يُقَدِّرُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ عَلِمَ أَنْ لَنْ تُحْصُوهُ فَتَابَ عَلَيْكُمْ فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنْ الْقُرْآنِ](المزمل:۲۰).

ژباړه: بیشکه ستا رب پوه دی چې د شپې له دوه برخو څخه کم ودریږي او نیمایي شپه، او دریمه برخه یې هم ودریږې او ستا د ملګریو یو ډله هم ستا په شان عبادت کوي. الله پاک شپه او ورځ ښه اندازه کوي، او الله پوه دی چې تاسې ګرده شپه نشئ ګڼلئ (چې په عبادت یې تیره کړئ) نو پر تاسې یې مهرباني وکړه نو د قرآن څومره چې درته آسان وي ویې لولئ.

**د نفس محاسبه :**

المنسوخ: قوله تعالى:[وَإِنْ تُبْدُوا مَا فِي أَنفُسِكُمْ أَوْ تُخْفُوهُ يُحَاسِبْكُمْ بِهِ اللَّهُ](البقرة: ۲۸۴).

ژباړه: او که تاسې د خپلو زړونو (پټ) څیزونه ښکاره کړئ او یایې پټ، الله پاک به در سره پرې حساب وکړي.

الناسخ: قوله تعالى:[لا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلا وُسْعَهَا] (البقرة:۲۸۶).

ژباړه: نه کوي تکلیف الله پر هیچا باندې مګر د هغه د توان او طاقت (په اندازه).

**حق تقوی :**

المنسوخ: قوله تعالى:[يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ] (آل عمران: 102). ژباړه: ای مؤمنانو! له الله تعالی څخه د هغه د شان په پرتله ووېرېږئ.

الناسخ: قوله تعالى:[فَاتَّقُوا اللَّهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ] (التغابن: 16).

ژباړه: نو وډار شئ له الله هومره چې توان وي ستاسې.

**د نسخ ډولونه :**

اول – نسخ القرآن بالقرآن: د قرآن نسخ په قرآن سره متفق علیه ده.

دوهم – د قرآن نسخ په متواتر سنتو :

امام ابی حنیفه، امام مالک او ځینو حنابله رحمهم الله جواز ورکړی دی، چې په دې قول د الله تعالی استدلال کوي: [كُتِبَ عَلَيْكُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمْ الْمَوْتُ إِنْ تَرَكَ خَيْرًا الْوَصِيَّةُ لِلْوَالِدَيْنِ وَالأَقْرَبِينَ](البقرة: 180) ژباړه: پر تاسې فرض شوې دي چې که د یو چا آخرنی سلګی وي او مال یې پرېښی ؤ چې: د مور او پلار او خپلوانو لپاره په ښه شان وصیت وکړي.

پس دغه آیت په دغه حدیث سره نسخ شوی دی« ألا لا وصية لوارث».

دریم – د سنتو نسخ په قرآن سره: او دا نسخ د جمهورو په نزد جایز ده.

**د قرانكريم د ناسخ او منسوخ آيتونه :**

په قرآنكريم كې ځينې آيتونه د ځينو نورو ايتونو په نزول سره منسوخ شوی دي چې ځينې په لاندې ډول دی :

**۱ـ د خمر (شرابو) تدرجي حرمت :**

اول دغه مكې آيت نازل شوی دی چې:[ وَمِنْ ثَمَرَاتِ النَّخِيلِ وَالأَعْنَابِ تَتَّخِذُونَ مِنْهُ سَكَرًا وَرِزْقًا حَسَنًا](النحل :۶۷).

په قول د [تَتَّخِذُونَ مِنْهُ سَكَرًا وَرِزْقًا حَسَنًا] د سكر (نيشې) په اړه سكوت او د رزق صفت بيانوي، نو خلک يې و پوهول چې نشه ښه شی نده.

كله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم مدينې ته هجرت وكړ نو الله تعالى دغه حكم نازل كړ

[يَسْأَلُونَكَ عَنِ الخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ قُلْ فِيهِمَا إِثْمٌ كَبِيرٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَإِثْمُهُمَا أَكْبَرُ مِن نَّفْعِهِمَا](البقرة: ۲۱۹).

چې په پورته آيت شريف كې د خمر گناه، زيان او بدوالي ته اشاره شوې ده، وروسته بيا دا آيت شريف نازل شوی دی: [يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تَقْرَبُواْ الصَّلاَةَ وَأَنْتُمْ سُكَارَى حَتَّى تَعْلَمُواْ مَا تَقُولُونَ] (النساء: 43).

چې بلاخره پورته آيت شريف په دغه آيت سره منسوخ شوی دی: ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالأَنصَابُ وَالأَزْلاَمُ رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ﴾(المائدة: ۹۰).

پس ﴿فَاجْتَنِبُوهُ﴾ امر په مطلق تحريم باندې.

۲ـ د قبلې د جهت د تغير آيت: [سيقول السّفهاء من النّاس ما ولاّهم عن قِبلتهم الّتي كانوا عليها قُل لله المشرقُ والمغرب يهدي من يشاء إلى صراطٍ مُستقيم]، چې دا آيت په دغه ايت سره منسوخ شوی دی :

[قَدْ نَرَىٰ تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَاءِ ۖ فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبْلَةً تَرْضَاهَا ۚ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ] (البقره ۱۴۴).

ژباړه: مونږ همیش ستا مخ لیدلو چې د آسمان په لور به دې اړاو (چې قبله دې بدله شي). ډیر ژر به مونږ تا هغې قبلې ته واړوو چې ستا خوښه ده، نو مخ د مسجد الحرام په لور وګرځوه.

۳- یو کس ته د لسو کسانو پر وړاندې د ثبات حکم:[إِن يَكُن مِّنكُمْ عِشْرُونَ صَابِرُونَ يَغْلِبُوا مِائَتَيْنِ] (الانفال ۶۵).

ژباړه: که ستاسې شل صبر کوونکي وي نو پر دوه سوو به برلاسي شي. چې بیا په دغه آیت منسوخ شوی:[الْآنَ خَفَّفَ اللَّهُ عَنكُمْ وَعَلِمَ أَنَّ فِيكُمْ ضَعْفًا ۚ فَإِن يَكُن مِّنكُم مِّائَةٌ صَابِرَةٌ يَغْلِبُوا مِائَتَيْنِ] (الانفال ۶۶).

ژباړه: اوس الله پاک پر تاسې آسنتیا راوستله او معلومه یې کړه چې تاسې کې سستي او ناتواني ده. نو که ستاسې څخه سل ګونې صبر کوونکی ډله وه نو باید پر دوو سوو برلاسي شي.

**د النسخ د علم مشهور کتابونه :**

"الناسخ والمنسوخ في كتاب الله" کتاب د شیخ ابی عبید القاسیم بن سلام.

"النّاسخ والمنسوخ" کتاب د ابن حزم الأندلسي.

"نواسخ القرآن" کتاب د ابن جوزي.

"النسخ في القرآن الكريم" کتاب د دوکتور مصطفی زید.

# نـهم فـصل
# علـم إعجـازُ الـقُـرآن

**تعريف اعجاز :**

اعجاز په لغت کې عاجز کولو او ناتوانه کولو ته وايي او په اصطلاح کې د قرآنکريم اثبات او د خلکو عاجز کول د هغه د مقابلې او يا د هغه د مثل په راوړلو سره.

**معجزه:** خارق للعادة (د عادت خلاف) کار ته وايي چې د الله تعالی د طرفه نه د پيغمبر په لاس باندې د هغه د پيغمبرۍ د اثبات لپاره مينځه راغلې وي .

لکه قرآنکريم د الله تعالی معجز کلام دی، اثبات او دليل دی چې په رسول الله صلی الله عليه وسلم باندې د الله تعالی د طرفه نازل شوی، د بشر او بل چا کلام نه دی بلکي داسې معجز کلام دی چې هيڅ څوک د هغه مقابله او مثل نشي جوړولای.

قرآن مجيد خپله ادعا کوي چې هغه يو معجز کتاب دی چې د الله سبحانه وتعالی له طرفه نازل شوی دی شکمنو کسانو ته د مبارزې او مقابلې کولو دعوت او چلنج ورکوي.

لقوله سبحانه وتعالی:[وَإِن كُنتُمْ فِي رَيْبٍ مِّمَّا نَزَّلْنَا عَلَى عَبْدِنَا فَأْتُواْ بِسُورَةٍ مِّن مِّثْلِهِ وَادْعُواْ شُهَدَاءكُم مِّن دُونِ اللّهِ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ، فَإِن لَّمْ تَفْعَلُواْ وَلَن تَفْعَلُواْ فَاتَّقُواْ النَّارَ الَّتِي وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ أُعِدَّتْ لِلْكَافِرِينَ] (البقره ٢٣-٢٤).

ژباړه :او که چېرې تاسې په هغه قرآن کې چې مونږ پخپل بنده (محمد صلی الله عليه وسلم) نازل کړی شک من ياست؟ نو هغه ته ورته يو سورت جوړ کړئ. که تاسې رښتنې ياست نو پرته له الله چې څومره ملاتړي لرئ ټول را وغواړئ. نو که دا مو په توان نه وه او هيڅکله به يې توان تر لاسه نکړئ نو له هغه اور څخه ځانونه وژغورئ چې خلک او ډبرې يې سونګ وي چې د کافرانو لپاره تيار شوی دی.

او فرمايي :[أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَاهُ قُلْ فَأْتُوا بِسُورَةٍ مِّثْلِهِ وَادْعُوا مَنِ اسْتَطَعْتُم مِّن دُونِ اللَّهِ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ] (يونس ٣٨).

**ژباړه :**آيا هغوی وايي چې قرآن محمد له ځانه جوړ کړی دی. نو تاسې هم دده پشان يو سورت جوړ کړئ او پرته له الله چېرته مو چې لاس رسي کومک ترې وغواړئ که تاسې رښتنې ياست.

**د قرآنکريم اعجاز :**

قرآنکريم د فصاحت، بلاغت، نظم او ترتيب، اسلوب، عباراتو او الفاظو له نظره د هيڅ کلام او هيڅ کتاب سره هيڅ ډول شباهت نلري ځکه چې قرآنکريم د شعر په شان نه دی، قرآنکريم د خطبې په شان نه دی، قرآنکريم د عادي خبرو په شان نه دی بلکي د ټولو څخه مختلف دی، قرآن داسې الهي معجز کتاب دی چې د عربو ټول شاعران، د ژبې د بلاغت او فحاصت ماهرين يې ټول عاجز او حيران کړل.

وليد بن مغيرة چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره يې سخت عناد لرلو د قرآن صفت داسې بيانوي: "والله لقد سمعت منه كلاما ما هو من كلام الانس و لا من كلام الجن و إن له لحلاوة، وإن عليه لطلاوة، وإن أعلاه لمثمر، وإن أسفله لمغدق، وإنه يعلو ولا يُعلى عليه و ما يقول هذا بشر" (تفسير قرطبي).

يعنې: په الله قسم دی ما د محمد صلی الله عليه وسلم نه داسې کلام اورېدلی دی چې نه د انسان کلام او نه جن کلام دی او په دې کې لوی حلاوت او خوند دی او په دې کې خاص رونق دی اعلې ميوه ورکونکی او لاندې اوبه جاري کوونکی دی او هغه يقيناً د ټولو نه لوړ دی او په هغه باندې هيڅ شی غالب کېدی نشي او دا د بشر کلام نه دی.

مطلب دا چې د قرآن دوښمان هم د قرآنکريم په حقانيت، بلاغت او فصاحت باندې اعتراف کړی دی چې دا قطعاً د بشر کلام نه دی.

نه یوازې دا چې قرآنکریم د فصاحت، بلاغت، کلماتو او ترتیب له اړخه یو معجزه کلام دی بلکي د معنی او محتوی، غیبي معلوماتو، همیشني حقایقو، معارف، اخلاقي او ټولنیزو پروګرامونو له اړخه یوه کامله معجزه ده.

لندې دا چې هیڅ څوک نشي کولای د هغه په مثل کلمات برابر کړي او د هغه د ظاهري کلماتو او الفاظو مقابله وکړي نو د هغه د نورو اړخونو سره په هیڅ وجه مقابله نشي کولای.

الله سبحانه وتعالی فرمایي :

[فَإِن لَّمْ يَسْتَجِيبُواْ لَكُمْ فَاعْلَمُواْ أَنَّمَا أُنزِلِ بِعِلْمِ اللّهِ وَأَن لاَّ إِلَـهَ إِلاَّ هُوَ فَهَلْ أَنتُم مُّسْلِمُونَ] (هود ۱۴).

ژباړه :نو که ځواب درنه کړ دوی تاسې ته نو پوه شئ چې قران یوازې د الله په علم سره نازل شوی دی او پرته له همغه یو الله نه بل هیڅ معبود نشته نو آیا یئ تاسئ مسلمانان (نو اوس د حق منلو ته تیار یاست ؟).

د پورته آیت شریف څخه څرګنده شوه چې د قرآن علم د الله سبحانه وتعالی د علم څخه سرچشمه اخلي او د هغه (جل جلاله) علم خاص بلل کیږي.

قرآنکریم د ټول بشریت لپاره داسې لاربښود دی چې د هر وخت او زمان او هر ځای لپاره یې مناسب قوانین وړاندې کړي دي چې په هر وخت او زمان کې د هغه د قوانینو په پلي کولو سره یو محمکه، با امنه، با عزته او پاکدامنه ټولنه را مینځته کیدای شي.

قرآنکریم د بشریت د ژوند د ټولو مشکلاتو حل له ځانه سره لري چې د هره اړخه کامل دی، تغیر او تبدیل ته هیڅ اړتیا نلري.

الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الإِسْلاَمَ دِيناً) المائدة/3.)

ژباړه: نن ورځ ما ستاسې لپاره ستاسې دين پوره کړ او پر تاسې مې خپل نعمت تمام کړ او اسلام مې ستاسې لپاره دين غوره کړ.

**د قرآنکريم د اعجاز څو مثالونه :**

**اول- عبارتي او لفظي اعجاز :**

مخکې مو هم وويل چې د الله سبحانه وتعالی لخوا را ليږلې مبارک کتاب قرآن د اعجاز څخه ډک کتاب دی .

قرآن په عبارتي او لفظي لحاظ په داسې بلاغت او فصاحت، نظم او اسلوب سره ترتيب شوي دی چې د وخت مشهور عرب شاعران يې له مقابلې کولو عاجز شوي دي ځکه قرآن په داسې بلاغت ترتيب شوي دی چې نه د کلام، او نه هم شعر سره شباهت لري او نه هم څوک د هغه مثل جوړولای شي.

حق تعالی (جل جلاله) فرمايي: قُل لَّئِنِ اجْتَمَعَتِ الْإِنسُ وَالْجِنُّ عَلَىٰ أَن يَأْتُوا بِمِثْلِ هَٰذَا الْقُرْآنِ لَا يَأْتُونَ بِمِثْلِهِ وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيرًا (اسراء ٨٠).

ژباړه: ووايه (ای محمده!) که ټول انسانان او پيريان په دې کې يو شي چې قرآن ته ورته بل قرآن راوړي. نو راوړی يې نشي که څه هم يو تر بل پوره لاسونه سره ورکړي.

د قرآنکريم د لفظي او معنوي فصاحت او بلاغت مثال :

دلته د قرآن الکريم د بلاغت او فحاحت د مثال لپاره يو کوچنی سورت چې د (الکوثر) سورت دی تر بحث لاندې نيسو:

**د الکوثر سورت فصاحت او بلاغت :**

إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ * فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ * إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الأَبْتَرُ (الکوثر ۱-۳).

ژباړه: (ای پیغمبره!) مونږ تا ته کوثر درکړی، نو خپل رب ته لمونځ وکړه او قرباني وکړه، یقیناً چې ستا دوښمن بې ستې دی.

**اول**: کلمه د « الْكَوْثَرَ » چې په وزن د (فوعل) ده دلالت کوي په خیر کثیر (زیات خیر)، یعنې درکړی مې دی تا ته (ای محمده!) زیات خیر.

د څه لپاره الله سبحانه وتعالی فرمایي چې الکوثر او ولې یې نه فرمایل چې الکثیر ؟

الکوثر د مبالغې له صفاتو څخه دی چې دلالت کوي په زیات خیر، ویل کیږي کوثر د جنت له نهرونو څخه یو نهر دی او بل دا قول دی چې کوثر حوض دی د دواړو اقوالو مطلب خیر دی کوم چې الله تعالی خپل رسول الله صلی الله علیه وسلم ورکړی دی.

کوثر په یو شي کې په زیات خیر دلالت کوي فرق په مینځ د کوثر او کثیر کې دا دی چې: کوثر کیدای شي صفت وي او کیدای شي ذات وي مګر کثیر یوازې صفت کیدای شي.

همدارنګه الکوثر په مفرد صفت سره راغلی دی چې موصوف یې حذف شوی دی چې عام او شامل دی هر ډول خیر کثیر د دنیا او آخرت لره، نه دې فرمایلي الله تعالی داسې چې: ماءً کوثراً، او یا مالاً کوثراً پس یوازې الکوثر یې فرمایلي چې اطلاق یې په هر ډول خیر سره کیږي.

همدارنګه داخل شوی الف لام په کلمه د «الکوثر» چې دلالت کوي په شامل او زیات سره.

**دوهم:** د جمع متکلم ضمیر «إِنَّا» د تعظیم ضمیر دی (تعظیم الربوبیة).

**دريم:** په كلمه د « إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ » كې ضمير په فعل مخكې شوی دی دا چې تأكيد دی په (إن) او همدارنگه مخكې والی دی، نو د څه لپاره ضمير د إنا مخكې شوی دی؟

د مخكې والی علت اهتمام او اختصاص دی، يعنې: الله سبحانه وتعالى دې ته اشاره كوي چې دا كار يوازې زه كولای شم بل څوک يې نشي كولای (خاصوالی دی).

بل دا چې ولی الله تعالى فرمايي چې: اعطيناك او ولې نه وايي چې: آتيناك؟

د « الإيتاء» كلمه شامليږي نزع (بيرته اخيستلو ته) يعنې هغه وركړه چې تمليک يې خاص نه وي بلكې نزع پكې وي لكه دغه قول د الله تعالى: (تؤتي الملك من تشاء وتنزع الملك ممن تشاء)

او فرمايي :(وآتيناه من الكنوز....ثم خسفنا به وبداره الارض)

او د (العطاء) د لفظ څخه تمليک مراد دی چې يوازې وركونكي ته د تصرف حق وي بل چا ته نه وي.

د الايتياء لفظ د هغو اموالو او غير اموالو لپاره استعماليږي چې واسع (پراخه) او عظيم (لوی) وي لكه: پاچاهي، رشد، رحمت او حكمت.

او أعطى لفظ د تخصيص لپاره دی چې په هغه كې يو شخص ته د تمليک او تصرف واک وي بل چا ته نه وي.

**څلورم:** په كلمه د « فَصَلِّ » كې د (ف) توری سببي دی، د زيات خير او نعمت لپاره سبب د منعم شكر.

چې دلته د شكر كلمه نه ده كارول شوي ځكه شكر كله لږ او كله زيات كيدای، مگر دلته امر شوی هغه ته په لمانځه چې د الله تعالى د پاره د شكر لوړه درجه ده.

**پنځم:** په کلماتو د « فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ » امر شوی په لمانځه او قربانۍ سره چې د دومره لوی انعام او احسان شکر هم ښايي لوی وي.

د لمانځه په ادا کولو کې الله تعالی لره شکر دی او د قربانۍ په ادا کولو کې د الله تعالی مخلوق ته ورکړه او د هغوی سره شفقت دی، دلته د شکر ادا کولو په دوو امرونو باندې شامل دي، د الله تعالی شکر او د هغه د مخلوق سره احسان کول.

همدارنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په لمانځه او قربانۍ باندې امر او په هغه باندې عمل کول تعریض دی په کفارو او مشرکانو باندې چې هغوی د غیر الله عبادت کوي د غیر الله لپاره قرباني کوي او د الله تعالی رسول او مسلمانان خاص الله تعالی ته عبادت کوي.

او په کلمه د « لِرَبِّكَ » کې د لام توری د اختصاص لپاره راغلی دی چې عبادت یوازې الله تعالی لره دی.

همدارنګه امر په (بالصلاة والنحر) اشاره دوو لویو بدني او مالي عباداتو ته.

ولی فرمایل شوي چې والنحر او نه دې ویل شوي چې: واذبح ؟

د النحر لفظ یوازې د اوښ د قربانۍ لپاره استعمالیږي مګر د ذبح لفظ د پسه، غوایي، چرګ او نورو د قربانۍ لپاره استعمالیږي.

په عربو کې اوښ له مهمو اموالو څخه شمېرل کېده.

دلته الله سبحانه وتعالی د ستر نعمت او خیر کثیر تناسب له ستر شکر او سترې قربانۍ سره کړی دی ځکه چې د پسه ،څرک، مرغه او نورو قرباني د اوښ په پرتله کمه قرباني ده او د خیر کثیر سره یې تناسب نه راځي.

**شپږم:** په کلمه د « إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الأَبْتَرُ » حرف (إِنَّ) تأكيد لپاره دی.

ښه ځیر شئ !

لومړی دا چې په پورته آیت شریف کې ولی نه دې فرمایل شوي چې: (من شانئک)؟ چې په ماضي او تیره شوي زمانه باندې دلالت کوي.

او ولی نه دي فرمایل شوي چې: (من یشانئک)؟ چې په حال او حاضره زمانه یعنې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حیات مبارک دلالت کوي.

بلکه په ضیعه د تأکید سره داسې فرمایي: (إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الأَبْتَرُ)، یقیناً ستا دوښمن به په هر ځای او هر وخت کې ابتر وي.

یعنې: قرآن د فصاحت او بلاغت داسې ډک عالمي کتاب دی چې د قیامت تر ورځې ټولو واقعاتو ته اشاره کوي. په اوس عصر کې چې کوم کفار د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حق کې ګوستاخي کوي هغوی ته هم اشاره کوي او په راتلونکي کې چې څوک دا کار کوي هغوی ته هم اشاره کوي.

د ډینمارک او فرانسې د اهانت نه ډک تصویر جوړونکي رسامان هم پکې شامل دي.

همدارنګه په سورت الکوثر کې عددي اعجاز موجود دی چې هر آیت شریف له (۱۰) تورو څخه جوړ شوی دی :

اول آیت له ۱۰ تورو (چې تکرار شوي نه دي) جوړ شوی چې عبارت دي له:

ا- ن – ع – ط – ي – ک – ل – و – ث – ر.

دوهم آیت هم له ۱۰ تورو څخه جوړ شوی چې عبارت دي له:

ف – ص- ل- ر- ب- ک- و- ا- ن – ح.

دریم آیت هم له ۱۰ تورو څخه جوړ شوی چې عبارت دي له:

ا- ن- ش- ک- ه- و- ل- ب- ت- ر.

همدارنګه هغه توري چې تکرار نه دي راغلي هم ۱۰ توري دي:

ع- ط- ي- ث- ف- ص- ح- ش- ه- ت.

(تحقيق ابن قيم رحمه الله و جامعة ام القراى).

دا د قرآنكريم د يو واړه سورت د فصاحت او بلاغت اعجاز وو چې په همدې باندې اكتفاء كوو.

فسبحان الله رب العالمين

**دوهم- علمي اعجاز :**

قرآنكريم سوونه كاله پخوا ځينو علمي حقائقو ته اشاره كړې ده چې هغه وروسته د بشر لخوا كشف شوي.

دا چې قرآنكريم د حق لاربشوونكى دى سربيره پر هغه د علم او طبعيت يو علمي معجزه هم ده، د قرآنكريم تقريباً (۶۷۰) آيتونه د علم څخه بحث كوي چې ځنې يې په لاندې ډول دي :

۱- په علم رياضياتو كې ۶۱ ايتونه راغلي دي.
۲- د ذرې په اړه ۵ ايتونه راغلي دي.
۳- د آسمان او كهكشان په باره كې ۱۰۰ آيتونه راغلي دي.
۴- د اوبو او هوا پيژندلو په باره كې ۲۰ ايتونه راغلي دي.
۵- هايدرولوجي او هايدروليک كې ۱۴ آيتونه راغلي.
۶- د فضاء او ستورو په باره كې ۱۱ آيتونه راغلي.
۷- د حيوان په باره كې ۱۲ آيتونه راغلي.
۸- د كرهنې او زراعت په باره كې ۲۱ آيتونه راغلي.
۹- د كائناتو په باره كې ۳۶ آيتونه راغلي.
۱۰- د عامه جغرافيه په باره كې ۷۳ آيتونه راغلى.
۱۱- علوم اجتماعي كې ۱۰ آيتونه راغلي.
۱۲- د ځمكې د طبقو په باره كې ۲۰ ايتونه راغلي.
۱۳- د تاريخ او د بشر د پيدايښ په باره كې ۳۶ آيتونه راغلي.

۱۴- د علم فیزیک (د ځمکې جاذبه او حرکت، د هوا طبقې او د اتومسفیر فشار) په باره کې ۶۴ آیتونه راغلی دي.
۱۵- د علم کیمیا په باره کې ۹ آیتونه راغلي.
(علوم القران / دوکتور ابراهیم اوغلو).

**۱- د روم د فتحې خبر**

کله چې دوو سترو امپراتوریو روم او فارس تر مینځ سخته جګړه وشوه، د فارس لخوا روم فتح شو، د فارس خلک اور پرست او بت پرست او د روم خلک اهل کتاب وو، نو مشرکین په دغه فتح ډېر خوشحاله شول او دوی به ویل چې مونږ د بتانو په مرسته او مدد سره روم فتح کړ، مسلمانان د مشرکانو په دغو مشرکانه خبرو خپه شول، پس الله تعالی دغه ایت شریف نازل کړ: (الم * غُلِبَتِ الرُّومُ * فِي أَدْنَى الْأَرْضِ وَهُم مِّن بَعْدِ غَلَبِهِمْ سَيَغْلِبُونَ * فِي بِضْعِ سِنِينَ) الروم - 1-4 أي في أقل من عشر سنوات.

ژباړه: الف –لام – میم، رومیانو ماتې وخوړه په نږدې یا لوړه ځمکه کې مات شول خو ډېر ژر به برلاسي شي په لږو کلونو کې (د دریو څخه تر نهو پورې).

په دې ایت شریف کې د قرآنکریم دوې معجزې بیان شوي دي.

الف): د روم د فتحې خبر (غیبي معلومات).

ب): د بیت المقدس د ښار لوړوالی چې الله سبحانه وتعالی داسې اشاره ورته کړې ده [فِي أَدْنَى الْأَرْضِ].

**موقع الأرقام ليكي :**

عبدالمجید الزنداني وایي: چې زمونږ د جیولوجي یو امریکایي استاذ ؤ چې نوم یې پروفیسر بالما ؤ او هغه په امریکا کې د جیولوجي د لویو استاذانو څخه ؤ، د هغه استاذ سره د ځمکې د کرې فاصلې او ارتفاعات، د بحر ارتفاعات، د بحر څخه د ځمکې د بېلابېلو مناطقو ارتفاعات په متر سره موجود ؤ، زه د هغه سره کیناستم هغه ته مې وویل: په

قرآنکریم کې یو ایت راغلی دی چې د بیت المقدس ښار په ټول عالم کې لوړ ځای دی ځکه چې [أدنی ] په معنی د أقرب او په معنې د الأحفض (لوړ) راځي.

امریکایي استاذ وویل: چې په عالم کې لوړ ځای هالنډ دی، ما ورته وویل نه زه په خپله خبره یقین لرم، بیا مونږ دواړه د ځمکې د کرې نقشه وکتله واضح پکې لیکل شوی وو چې بیت المقدس په ټول عالم کې لوړه منقطه ده، امریکایي استاذ وویل چې هو دا صحیح ده همداسې ده.

**۲- د بحرونو د طبقو خبر :**

قرآنکریم سوونه کاله مخکې د بحرونو د طبقو او امواجو خبر ورکوې چې وروسته ساینس پوهان هغه کشفوي.

[مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ يَلْتَقِيَانِ * بَيْنَهُمَا بَرْزَخٌ لا يَبْغِيَانِ* فَبِأَيِّ آلاء رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ * يَخْرُجُ مِنْهُمَا اللُّؤْلُؤُ وَالْمَرْجَانُ ](الرحمن)

ژباړه: دوه دریابونه یې سره بیولي دي چې سره یو ځای کیږي خو مینځ کې یې پرده ده چې تیری نه کوي یو پر بل. نو ای انسانانو او پیریانو ! ستاسو به د خپل رب کومه لورینه درواغ وګڼئ. له دواړو دریابونو څخه ملغلرې او مرجان را وځي.

او الله سبحانه وتعالی فرمايي :

[وَهُوَ الَّذِي مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ هَذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ وَهَذَا مِلْحٌ أُجَاجٌ وَجَعَلَ بَيْنَهُمَا بَرْزَخًا وَحِجْرًا مَحْجُورًا] **(الفرقان ۵۳).**

ژباړه: او الله همغه ذات دی چې دوه دریابونه یې سره یو ځای کړي دا یو یې ډیر خوږ او تنده ماتوونکی، او دا بل ښه تریو مالګین دی او بیا یې د دواړو په مینځ کې پرده پیدا کړې ښه منع کړ شوې.

قرآنکریم څوارلس سوه کاله مخکې د دوو لویو بحرونو د جلاوالی او د هغوی په مینځ کې د پردې خبر ورکوي چې ددې کار تحلیل د بشري تصور له مخې مشکل دی ځکه چې دا

جلاوالی په سترګو نه معلومیږي او د انسان عقل ته به دا ډیره عجیبه وي چې څنګه یو ځای روانې اوبه او مایعات د کوم اصلي دیوال پرته جلا شي.

مګر الله سبحانه وتعالی دغه بحرونه په خپل قدرت سره داسې جلا کړي چې تر مینځ یې پرده ده چې یو پر بل نه ورکډیږي، د علمي څیړنو له مخې حتی د یو بحر ماهی هغه بل طرف نشي ورتلای ځکه چې په بل طرف کې ژوند نشي کولای ځکه چې د اوبو خاصیت فرق لري.

قرآن کریم د بحر د تلي څخه خبر په داسې یو عصر ورکوي چې هغه وخت د کشف او مشاهدې هیڅ وسائل نه وو، چې دا د قرآن اعجاز دی او د قرآن منکرینو ته ستر پیغام دی چې دا کتاب د رب العالمین لخوا نازل شوی چې د خپل مخلوق له هرې برخې او حالت څخه خبر او عالم دی.

مګر بشر د ۱۸ قرن په آخر کې د بحرنو د جلاوالی مسئله کشف کړه.

**۳- د لمر، ځمکې او سپوږمۍ ګردش :**

قرآنکریم سوونه کاله مخکې د یو آمي پیغمبر په وسیله خبر ورکوي چې الله سبحانه وتعالی پخپل قدرت سره لمر، ځمکې او سپوږمۍ ته د دوران او حرکت توان ورکړی دی او دغه سترې کرې د خپل ستر ښتن (جل جلاله) په حکم منظم ګردش کوي.

لقوله سبحانه وتعالی: [وَهُوَ الَّذِي خَلَقَ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ كُلٌّ فِي فَلَكٍ يَسْبَحُونَ] (الأنبياء:۳۳).

ژباړه: او الله هغه ذات دی چې شپه ورځ، لمر او سپوږمۍ یې پیدا کړي. هر یو پخپل مدار کې لامبو وهي.

مګر بشر په شپږم قرن کې دا مسئله کشف کړه.

**۴- د مور په رحم کې د انسان د پیدایش خبر:**

قرآنکریم سوونه کاله پخوا د مور په رحم کې د انسان د پیدایښ مرحلې په کامل ډول بیان کړی دي.

[ثُمَّ جَعَلْنَاهُ نُطْفَةً فِي قَرَارٍ مَكِينٍ * ثُمَّ خَلَقْنَا النُّطْفَةَ عَلَقَةً فَخَلَقْنَا الْعَلَقَةَ مُضْغَةً فَخَلَقْنَا الْمُضْغَةَ عِظَاماً فَكَسَوْنَا الْعِظَامَ لَحْماً] (المؤمنون ١٣-١٤).

ژباړه :بیا مو په خوندي ځای کې د اوبو یو ځاڅکی وګرځاوو. بیا مو د اوبو له ځاڅکي څخه د ویني ټوټه جوړه بیا مو د وینې له ټوټې څخه د غوښې یوه بوټۍ جوړه او بیا مو د غوښې له بوټۍ نه هدوکي جوړ او بیا مو هدوکو ته غوښه ور وپوښله.

لومړی دا چې د جنین مراحل یا د پیدایښت انقلابونه د (ثم) او (فا) په تورو جلا شوی دي، د پیدایښت هغه مرحلې چې بدلون یې لږ وخت نیسي د (ثم) په توري جلا او هغه مراحل چې بدلون یې څه زیات وخت نیسي د (فا) په توری سره جلا شوي دي.

د سرښناکې او یا د وینې ټوټې ته د (عَلَقَةً) لفظ استعمال شوی دی چې ځوړند، پیوسته او سریښ شوی ته وایي ځکه چې د وینې دغه ټوټه (عَلَقَةً) د رحم په دیوال باندې سریښ او ځان ورباندې موښلوي.

او وروسته دا د وینې ټوټه د غوښې په ټوټه (مُضْغَةً) بدلیږي او غوښې له بوټۍ نه هدوکي جوړ او بیا هدوکو ته غوښه ور وپوښل کیږي.

الله سبحانه وتعالی په قرآنکریم کې د مور د رحم د ننه پردو کې د انسان د پیدایښت تفصیلي مراحل بیانوي په داسې عصر زمان کې چې هغه وخت په دې مراحلو انسان علم نه لرلو او نه هم د کشف او مشاهدې وسائلو ته لاس رسی لرلو، مګر بشر ډیر وروسته د وسائلو په واسطه کشف کړل.

دا مسئله هم د منکرینو لپاره ستره معجزه ده چې قرآنکریم د الله تعالی له لورې نازل شوی کتاب دی، دا د هغه رب العالمین کتاب دی چې د خپل مخلوق له ټولو حالاتو خبر دی، حتی د

انسان د پيدايښت مکروسکوپي مراحل يې هم تفصيلي بيان کړې کوم چې وسائلو پرته يې د انسان سترګې نشي ليدلای.

**۵- د فرعون د غرق کېدو خبر :**

قرآنکريم د قرآن د نزول څخه زرګونه کاله پخوا د فرعون او د هغه پيروانو د عرقېدو خبر ورکوي،تر څو د خلکو لپاره د عبرت وګرځي چې اوس هم د مصر په موزيم کې موجود دی ، او الله سبحانه وتعالى فرمايي: [فَالْيَوْمَ نُنَجِّيكَ بِبَدَنِكَ لِتَكُونَ لِمَنْ خَلْفَكَ آيَةً وَإِنَّ كَثِيرًا مِّنَ النَّاسِ عَنْ آيَاتِنَا لَغَافِلُونَ] (يونس ۹۲).

ژباړه: نو نن به مونږ يوازې ستا تنه بيرون کړو تر څو د ټولو راتلونکو خلکو لپاره د پند او عبرت نښه شي. او په دې کې هيڅ شک نشه چې ډير خلک زمونږ له دلائلو نه بې پروا او غافل دي.

يقول ابن کثير رحمه الله: (قال ابن عباس وغيره من السلف: إن بعض بني إسرائيل شکوا في موت فرعون، فأمر الله تعالى البحر أن يلقيه بجسده سويا بلا روح.

ژباړه: ابن کثير رحمه الله وايي: ابن عباس رضى الله عنه او نورو سلفو ويلي: ځينو بنى اسرائيلو د فرعون په مرګ کې شک وکړ نو الله سبحانه وتعالى درياب ته امر وکړ چې د هغه جسد اوچت او بهر يې و غورځوي.

**دريم- د ابديت او خلود اعجاز :**

د قرآنکريم د اعجازو څخه يو دا اعجاز او خاصوالى دی چې د هر عصر او زمان کتاب دی بلکي د محدود وخت لپاره نه دی نازل شوی بلکي دا کتاب د ټولو آسماني کتابونو او رسولانو خاتم دی ، د قرآن د نزول وروسته بل کتاب او پيغمبر نه راځي د قيامت تر ورځې پورې د ټولو راتلونکو نسلونو لپاره همدا کتاب دی، الله سبحانه وتعالى د هغه د ساتنې ذمانت کړی دی: إنّا نحن نزلنا الذّکر وإنّا لهُ لحافظون (الحجر ۹).

ژباړه :یقیناً چې ذکر (قرآن) مونږ نازل کړی او مونږ به یې ساتو.

او فرمايي (لَا يَأْتِيهِ الْبَاطِلُ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ وَلَا مِنْ خَلْفِهِ تَنْزِيلٌ مِنْ حَكِيمٍ حَمِيدٍ) (فصلت/ ۴۱و۴۲).

ژباړه: نه ورته د مخ له لوري باطل ورتلای شي او نه د شا له لوري، دا د حکیم او ستايلي شوي ذات راليږلی کتاب دی.

قرآن د خاص عصر زمان لپاره نه بلکې د قيامت تر ورځې د هر عصر زمان او مکان د نسلونو د لارښوونې یوازنی الهي کتاب دی.

**څلورم- د نړيوالتوب اعجاز :**

قرآنکريم نړيوال کتاب دی او د ټولې نړۍ لپاره نازل شوی دی قرآن د شريعت په ټولو اړخونو کې لکه: عقائد، عبادات، معاملات، اخلاق، کورنی، ټولنه او دولت کې د ټول عالم او ټولې نړۍ لپاره يو شان پيغام لري د يو قوم، يوې ډلې او يو هيواد لپاره خاص نه دی بلکې د ټول عالم لپاره د لارښوونې او پند کتاب دی.

[شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ هُدًى لِّلنَّاسِ] (البقره ۱۸۵).

ژباړه: (د روژې مياشت هغه (مياشت) ده چې قرآن په کې نازل شوی دی، چې د خلکو د پاره هدايت دی.

[إنْ هو إلاّ ذكرٌ للعالمين] (التّكوير،۲۷)

ژباړه: قرآن پرته له دې چې د ټولو نړيوالو لپاره پند دی بل څه نه دی.

# لـسم فـصل
# علـم الـمُحكم والـمُتشابـه

**تعریف المُحکم :**

محکم چې جمع مُحکمات راځي، هغه تفسیر دی چې تأویل او بیان ته ضرورت نلري یا دا چې معنی یې بالکل واضح وي لکه:[إنما الخمر والمیسر والأنصاب والأزلام رجسٌ من عمل الشیطان فاجتنبوه] (المائدة ۹۰).

یعنې محکمات هغه دي چې واضح او ظاهر وي لکه څنګه چې الله سبحانه وتعالی فرمایي: [هُوَ الَّذِيَ أَنزَلَ عَلَيْكَ الْكِتَابَ مِنْهُ آيَاتٌ مُّحْكَمَاتٌ هُنَّ أُمُّ الْكِتَابِ وَأُخَرُ مُتَشَابِهَاتٌ فَأَمَّا الَّذِينَ في قُلُوبِهِمْ زَيْغٌ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ ابْتِغَاء الْفِتْنَةِ وَابْتِغَاء تَأْوِيلِهِ وَمَا يَعْلَمُ تَأْوِيلَهُ إِلاَّ اللّهُ وَالرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ يَقُولُونَ آمَنَّا بِهِ كُلٌّ مِّنْ عِندِ رَبِّنَا وَمَا يَذَّكَّرُ إِلاَّ أُوْلُواْ الألْبَابِ] (آل عمران ۷).

ژباړه :الله هغه ذات دی چې پر تا یې کتاب نازل کړی دی. ددې کتاب ځنې آیتونه محکم دي همدغه د کتاب بنسټ دی او ځینې نور آیتونه متشابه دي. نو د چا په زړونو کې چې کږوالی وي د همدغو متشابه آیتونو پسې ګرځي تر څو فتنه ولټوي او له آیتونو څخه د خپلې خوښې معنی تر لاسه کړي او خبره دا ده چې ددې متشابه آیتونو په (اصلي) معنی پرته له الله بل هیڅوک نه پوهیږي او د پاخه علم څښتنان وایي مونږ په دې آیتونو ایمان راوړی (محکم او متشابه) ټول زمونږ د رب له لوري دي خو پند یوازې د عقل څښتنان اخلي او بس.

**المُتشابه (المُشتبة) :**

د مُتشابه جمع متشابهات راځي چې هغه تفسیر ته وایي چې تأویل ته ضرورت لري لکه: و امسحوا برؤوسکم

او ځنې علماء وایي محکمات هغه دي چې تفسیر او تأویل ته ضرورت لري د تفسیر او تأویل په ذریعه بیانیږي مګر متشبهات هغه دي چې په معنې یې یوازې الله تعالی پوهیږي

لکه: د قیامت قیام، یا د جوج ماجوج ظهور، او حروف مقطعات.

**د متشابهاتو حکمت څه دی ؟**

علماؤ د متشابه احکامو فوائد داسې بیان کړي دي :

۱ـ د متشابه معنی پیدا کولو لپاره فکر، زیار او تکلیف ګاللو ته ضرورت وي او په دې کې اجر او ثواب دی.

که قرآن ټول محکمات وای نو بیا څیړنې، درک، فکر او نظر ته ضرورت نه وو.

یعنې د مذاهبو او نظریاتو اختلاف به نه وو، چې د مذاهبو او نظریاتو د اختلاف وجه په دیني امورو کې تحقیق او حق ته رسېدل دي.

۲ـ که په قرآنکریم کې متشابح احکام نه وای نو دغو علومو لکه: علم لغة، علم بلاغت، علم نحو، علم معاني او علم اصول فقه ته به ضرورت نه وو او د قرآن د دقیقې څېړنې او بیان علوم به نه وو او نه به دغو سترو او مهمو علومو ته ضرورت وو.

۳ـ قرآنکریم عامو او خاصو ته مخاطب دی او د ټولو لپاره د لارښوونې کتاب دی، عوام په اکثره امرو کې د حقائقو له درک څخه لرې دي او یا یې د درک حوصله او فکر نلري.

کچیرې قرآن داسې ساده ترتیب شوی وای چې هیڅ فکر، علم او درک ته یې ضرورت نه لرلی نو د قرآن په امرو او مسائلو کې پرته له درک او فکر هر چا مداخله کوله، لکن اوس داسې ترتیب شوی چې د احکام درک یې د علم، فهم، ادراک او فکر خاوندان غواړي. (مختصر الأتفان في علوم القرآن ص ۱۱۸)

# يـوولـسم فـصل
# علـم الـقـراءات

**تعريف :**

القراءات جمع قراءة ده چې له مصدر د قرأ، يقرأ، قرانا څخه دی په معنی د لوستلو يا جمع کولو.

په اصطلاح کې علم قراءات هغه علم دی چې د قرآنکريم د الفاظو د ادا کولو څخه بحث کوي.

د جناب نبی اکرم صلی الله عليه وسلم څخه اووه قسمه او په ځينو رواياتو کې لس قسمه قرآءات ثابت شوی دي، د ابن عباس رضی الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

«أَقْرَأَنِي جِبْرِيلُ عَلَى حَرْفٍ فَلَمْ أَزَلْ أَسْتَزِيدُهُ حَتَّى انْتَهَى إِلَى سَبْعَةِ أَحْرُفٍ» (بخاری:۳۲۱۹).

ژباړه: جبريل (اول) ما ته يو قسم قرائت را وښود، ما له هغه څخه وغوښتل چې ما ته نور قرآءات هم را وښيي، تر دې چې اوه قرائت ته ورسيدل.

د [سبعة احرف] په منعی کې د علماؤ اقوال :

امام سيوطي په علوم القرآن کې ويلي دي چې په دې باره کې د علماؤ څلويښت اقوال دي چې بيا يې ځينې مشهور اقوال په لاندې ډول بيان کړي دي :

۱- په دې کې مشکل دا دی چې معنی يې نه څرګنديږي ځکه لفظ د حرف چې دی شامليږي حروف هيجاء لره او حرف په يوازې توګه څه معنی نلري.

۲- ددې څخه په حقيقت کې اووه عدد مراد نه دی بلکي ددې څخه مراد آساني او توانايي ده.

۳- ددې څخه مراد اووه قراءات دي.

۴- ددې څخه مراد اووه لهجې دي چې معنی يې متفقه مګر په نحوي او لفظي ډول فرق لري لکه: أقبل، وتعالَ، وهلمّ، وعجّل، وأسرِعْ، و عن أُبَيِّ

۵- ددې څخه مراد د تلاوت پر مهال د نطق کيفيت دی لکه: ادغام، اظهار، تفخيم او ترقيق، اشباع، مد او قصر، تشديد او تخفيف او تليين او تحقيق.

۶- او ددې څخه د عربي اوه ژبې مراد دي کوم چې د عربي فصح ژبې دي. (مختصر اتقان في العلوم القرآن ص ۹۳).

علوم القرآن الاكاديمية الاسلامية ليکي :

قول جمهور أهل الفقه والحديث: المراد بالأحرف السبعة، سبع لغات من لغات العرب تختلف في اللفظ وتتفق في المعنى، هو ما يسميه العلماء بالمترادف. المترادف، يعني اللفظة تختلف ولكن المعنى واحد.

ژباړه: د اهل فقه او حديث جمهور قول دا دی چې: د حرف السبعة څخه مراد د د عربو د ژبو څخه اووه ژبې يا اووه لهجې دي چې معنی يې يو شان مګر په لفظ کې فرق لري کوم چې هغه ته علماء مترادف وايي، مترادف داسې چې: معنی يې يوه مګر الفاظ يې مختلف وي.

**د قرآئت د اختلاف حکمت :**

۱- د امت د پاره تسهيل، آساني او تخفيف.

۲- د قرآنکريم او اسلامي امت عزت او شرف چې بل هيڅ آسماني کتاب په څو قراءاتو نه دی نازل شوی.

۳- د قراءات په تفاوت کې تحقيق او څېړنه او په دې باندې د اجر حاصلېدل.

۴- د قرآنکريم لوړ اعجاز.

۵- د الله سبحانه وتعالی د کلام د اسرارو اظهار.

(مختصر أتقان في العلوم القرآن ص ۱۰۷).

**تنبه :**

أن النبي ﷺ نهى عن الجدال والخصام والتنازع في القرآن بشأن الأحرف السبعة، لأن كل حرف منها إنما هو منزل من الله -سبحانه وتعالى-، وإن إنكار أي شيء منها هو إنكار للقرآن، ولذلك قال النبي -ﷺ: ﴿إن القرآن أنزل على سبعة أحرف﴾ في بعض الروايات ﴿فلا تماروا في القرآن، فإن المراء فيه كفر﴾ ولذلك كان النبي ﷺ يحذر تحذيرًا شديدًا من المراء والجدال والخصام في القرآن، هذه نسلم بها ونؤمن بها، ولو لم تضح لنا الآن حقيقة الأحرف السبعة؛ إلا أننا نؤمن بهذا المعنى وبهذا الحديث وبهذه الصحة... (علوم القرآن – الاكاديمية الاسلامية).

ژباړه: نبی صلی الله علیه وسلم په قرآنکریم کې د اوو حروفو په شان کې د جدال او اختلاف کولو څخه منع فرمايلي ده، ځکه د هغه هر حرف د الله تعالی د جانبه نازل شوی دی نو ځکه د هغه د کوم شي څخه انکار اصلاً د قرآن څخه انکار دی، او همدارنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: «إن القرآن أنزل على سبعة أحرف» (يقيناً قرآن په اوو حرفو نازل شوی دی)، او په ځينې رواياتو راغلی چې: «فلا تماروا في القرآن، فإن المراء فيه كفر» همدارنګه نبی صلی الله علیه وسلم به د قرآن په باره کې د جدال کولو څخه سخته منع کوله، په دې باندې مونږ ايمان راوړی او دې ته مونږ غاړه ايښې که څه هم مونږ ته اوس د احرف السبعة وضاحت او حقيقت نه دی معلوم خو مونږ په همدې معنی، حديث او د هغه په صحت ايمان لرو.

**د صحابه کرامو مشهور قاريان :**

عثمان بن عفان، علی بن ابی طالب، ابی بن کعب، زيد بن ثابت، عبدالله بن مسعود، ابو درداء او ابو موسی الأشعری.

د تابعينو مشهور قاريان عبارت وو له: په مکه مکرمه کې عطا، مجاهد، طاووس، عکرمه، ابن ابی مليکه، عبيد بن عمير او نور.

په مدينه کې سعيد بن مسيب، عروه، سليمان بن يسار، عطاء بن يسار، زيد بن اسلم، مسلم بن جندب، عمر بن عبدالعزيز، ابن شهاب الزهرى، عبدالرحمن بن هرمز، معاذ او نور.

په بصره کې ابوعاليه، ابو رجاء، نصر بن عاصم، يحيى بن يعمر او حسن.

او په کوفه کې ابن سرين، قتاده، جابر بن زيد او نور.

د تابعينو د دور وروسته د علم قرائت اوه مشهور ائمه کرام په لاندې ډول دي :

نافع المدني، عبد الله ابن كثير المكي، أبو عمرو البصري، عبد الله بن عامر، عاصم الكوفي، حمزة الكوفي او الكسائي الكوفي.

١- **نافع المدني:** نوم يې نافع د عبدالرحمن بن ابى نعيم زوى اصلاً د اطفهان چې په (٧٠- ١٢٠) کلونو کې يې ژوند کړى دى، د رنګه تور، ښکلي مخ او نيک اخلاقه سړى ؤ چې د استاذانو شمير يې اويا تنو ته رسيږي، په علم قرآئت کې د مدنې منورې د خلکو امام او پشوا وو. د ده څخه د قرآئت روايت ابو موسى، عيسى بن مينا الزرقي مولى بنى زهره، عثمان بن سعيد القبطي مصري روايت کړى دى.

٢- **ابن کثير**: نوم يې عبدالله د کثير زوى اصلاً د فارس چې په (٤٥-١٢٠) کلونو کې يې ژوند کړى دى، په علم قرآئت کې د مکې د خلکو امام وو.

علم قرآئت يې له: عبدالله بن زبير، ابى ايوب انصاري، او انس بن مالک رضى الله عنهم څخه زده کړى دى، او د ده څخه د علم قرآئت روايت: احمد بن محمد بن عبدالله، ابو الحسن البزي، محمد بن عبدالرحمن المخزومي، ابو عمر المکي کړى دى.

٣- **أبو عمرو البصري**: نوم يې ابو عمرو زيّان چې زوى د علا مازنى دى ،عربي اصله ؤ چې په (٦٨-١٥٤) کلونو کې يې

ژوند کړی دی، په مکه، مدینه، بصره او کوفه یې قرآئت زده کړی دی.

علم قرآئت یې له: ابو جعفر یزید بن قعقاع، یزید بن رومان، شیبة بن نصاح، عبدالله بن کثیر، مجاهد بن جبر، حمید بن قیس اعرج مکي ،عبدالله بن ابی اسحاق حضرمي، عاصم بن ابی النجود کوفی، ابوالعالیه رفیع بن مهران ریاحی بصري څخه زده کړی دی، او د ده څخه د علم قرآئت روایت: شجاع بن ابی بصیر، عباس بن فضل، یحیی بن مبارک یزیدی کړی دی.

۴ـ **عبد الله بن عامر**: نوم یې عبدالله زوی د عامر بن یزید اصلي وطن یې دمشق ؤ چې په (۸-۱۱۸) کلونو کې یې ژوند کړی دی د ولید بن عبدالملک د خلافت په وخت کې د دمشق والي او قاضي ؤ.

علم قرائت یې له: اهل شام قاري صحابي ابی درداء او عثمان رضی الله عنه د شاګرد مغیرة بن ابی شهاب مخزومی څخه زده کړی دی، د ده څخه هشام بن عمار، ابو ولید السلمي الدمشقي، ابو عمرو، عبدالله بن احمد الفهري الدمشقي روایت کړی دی.

۵ـ **عاصم الکوفي**: نوم یې عاصم زوی د ابی النجود اسدي چې په (...-۱۲۷) کلونو کې یې ژوند کړی دی، په قرآئت کې د کوفې د خلکو امام ؤ.

علم قرائت یې له: ابو عبدالرحمن سلمي چې شاګرد د علی بن ابی طالب رضی الله عنه دی، زرّین حبیش د عبدالله بن مسعود شاګرد وو زده کړی دی.

د ده څخه روایت: شعبه، حفص بن سلیمان، ابو عمر الاسدي الکوفي کړی دی.

۶ـ **حمزة الکوفي**: نوم یې حمزه زوی حبیب بن عمار بن اسماعیل ؤ چې په (۸۰-۱۵۶) کلونو کې یې ژوند کړی دی، په قرآئت کې د عاصم وروسته د خلکو امام ؤ.

له جعفر بن محمد الصادق څخه يې علم قرائت حاصل کړی دی او د ده څخه خلف بن هشام، ابو عیسی بن خالد روایت نقل کړی دی.

۷- **الکسائي الکوفي**: نوم يې علي زوی د حمزه ؤ چې په (۱۱۹-۱۸۹) کلونو کې يې ژوند کړی دی، په قرآئت کې د حمزه الکوفي وروسته د خلکو امام ؤ او په ده باندې د قرائت امامت ختم شوی دی.

علم قرائت يې له: حمزه، ابان بن تغلب، عیسی بن عمر، ابن ابی لیلی څخه حاصل کړی دی او د ده څخه، ابو حارث (اللیث بن خالد البغدادي)، حفص بن عمر، ابو عمر الازدي البغدادي النحوي د قرائت روایت نقل کړی دی.

(مختصر اتقان في العلوم القرآن ص ۱۰۳).

**د قرآنکریم تعلیم او حفظ :**

د قرآنکریم حفظ او يادول په امت باندې فرض کفايي دي، کچیرې د هغه د حفظ لپاره یو ډله را ولاړه شی د نورو غاړه ورباندې خلاصیږي او که ټول دا کار ترک کړي د ټولو غاړه بندیږي.

او د قرآنکریم دومره زده کړه او يادول چې لمونځ او عباداتو کې هغه ته ضرورت دی فرض عين او د هغه څخه علاوه د قرآنکریم زده کړه فرض کفايي ده او ډیر غوره عمل دی، په صحيح روايت کې راغلي :« خیرکم من تعلم القرآن و علمه » (د تاسې نه غوره او ښه سړی هغه چې قرآن زده کړي او نور ته يې وښيي).

او هر چې تجويد د قرآن دی ډیر مهم دی، د ابن مسعود رضی الله نه روایت دی چې هغه ويلي: «جودوا القرآن » ( لولئ په ښه شان قرآن )، او هغه دا چې د هر حرف حق ادا شي او حرف د خپل مخرج څخه ادا شي، او په غوره شان تلفظ شي داسې چې په هغه کې اسراف، ظلم او افراط نه وي.

جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم دې مطلب ته داسې اشاره کوي: « من أحب أن يقرأ القرآن غضاً كما أنزل فليقرأه على قراءة ابن أم عبد » يعني ابن مسعود.

ژباړه: څوک چې دا خوښي چې قرآن داسې ولولې لکه څنګه چې نازل شوی دی پس هغه يې دې د ابن معسود رضی الله عنه په شان ولولي .

الله تعالی ابن مسعود رضی الله عنه ته په تجويد کې اوچت مهارت ورکړی وو.

د قرآنكريم داسې ويل جايز نه دي چې چېرې مد نه وي هلته مد ورکوي او چيرې چې مد وي هلته قصر کوي او يا په مد کې زياتوالی او کموالی کوي کوم چې د هغه حق دی.

مستحب دی چې قرآنكريم په ښه صوت وويل شي خو په شرط ددې چې د حرف حق ادا شي (حرف د مخرج څخه ادا شي او د حروفو حركات تغير نشي)، د مد او قصر حق ادا شي، د نون ساكن او تنوين حقوق ادا شي او همدارنګه د تجويد نور احكام په نظر کې ونيول شي.

**د قرآنكريم د زدكړې درې لارې :**

١- دا چې قرآنكريم د اجرت پرته د الله تعالی د رضا لپاره خلكو ته ور زده كوي دا عمل لوی اجر لري او دا د پيغمبرانو عليهم السلام عمل دی.

٢- دا چې قرآنكريم د اجرت په بدل کې خلكو ته ور زده كوي، مختلف فيه دی، خو راجح قول دا دی چې جايز دی.

٣- دا چې د كوم شرط پرته خلكو ته د قرآنكريم زده كړه كوي كچېرې څوک هغه ته مخكې څه هديه او سوغات وركړي په اتفاق جايز دی ځكه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم معلم الناس وو خلكو به هغه ته سوغات وركولو او ده به قبلول.

(مختصر اتقان في العلوم القرآن ص ١١٢).

**د قرآن لوستلو او نالوستلو ته لنډ پيغام :**

مسلمانانو وروڼو او خويندو ! قرآنكريم د الله سبحانه وتعالى هغه سپيڅلى كتاب دى چې د فضيلت او اهميت د پاره به دلته يوازې دومره ووايم چې نن عصر كې نه پيغمبر شته او نه هم وحى ځكه چې د پيغمبرۍ او وحى سلسله د جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم په رسالت سره ختمه شوې ده نن عصر د الله تعالى او د مخلوق تر مينځ د ارتباط وسيله يوازې قرآن او د رسول الله صلى الله عليه وسلم سنت دي.

څوک چې قرآن لوستلاى شي هغه دې كوښښ وكړي چې قرآن په ښه شان تجويد سره تلاوت كړي.

او څوک چې قرآن نشي لوستلاى او عمر يې زيات وي هغه دى هيڅكله دا فكر نه كوي چې زه اوس قرآن نشم زده كولاى دا هسې شيطاني وسوسې دي الله سبحانه وتعالى قرآنكريم د خپلو بندګانو لپاره آسانه كړى دى.

لكه چې فرمايي :وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُدَّكِرٍ ([القمر١٧).

ژباړه :او يقيناً مونږ آسانه كړى دى قرآن د يادولو، زده كولو او پند اخيستلو لپاره نو آيا شته څوک زده كوونكي، يادونكي او پند اخيستونكي.

مونږ وينو چې ډېرو كوچنيو ماشومانو ټول قرآن حفظ كړى وي آيا بل كتاب به داسې آسانه او مكمل ياد كړاى شي ؟

ماشوم چې په واړه بدن، واړه دوماغ او وړه ژبه ټول قرآن يادولاى شي آيا تاسې يې په لوى او تكميل شوي بدن، دوماغ او پوره ژبه يوازې له مخه نشى زده كولاى ؟

بلكي هر كله چې وغواړئ زده كولاى يې شئ.

**د قرآنکریم د حفظ د پاره څو قاعدې:**

**لومړی قاعده، اخلاص د کامیابۍ او فتحې سر دی:** په هر عمل کې چې اخلاص نه وي پر الله تعالی توکل نه وي په هغه عمل کې که هر څومره کوښښ هم وشي بیا به هم ناقص وي او د الله تعالی په نزد به د قبول وړ نه وي ځکه دقرآنکریم لوستل، زده کول او حفظ عبادت دی او دهرعبادت کولو څخه مقصد د الله تعالی رضا ده نوکله چې په کوم عبادت کې اخلاص نه وي هغه مردود دی.

**دوهمه قاعده : د الله تعالی د پاره تقوی:** هر کس چې تقوی اختیار کړي (ټول ګناهونه ترک کړي او د اسلامي شریعت د اوامرو ساتنه وکړي) د هغه د پاره الله تعالی د دنیا او آخرت کارونه او مشکلات آسانه کوي.

لقوله سبحانه وتعالی :[وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَل لَّهُ مَخْرَجًا، وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لاَ يَحْتَسِبُ وَمَن يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُ ] (الطلاق ۲-۳).

ژباړه: او څوک چې د الله څخه ووېرېږي (الله) ور ته (د ستونزو څخه) د وتلو لار جوړوي، او هغه ته د داسې لارې نه رزق ورکوي چې (په خپله) ګمان نه کوي، او څوک چې پر الله پاک توکل وکړي ده د پاره همدا (الله) کافي دی.

**دریم قاعده :په وړوکتوب کې حفظ :** په کوچنیتوب او کم سن کې حفظ داسې دی لکه په ډبره کې نقش.

**څلورمه قاعده: د حفظ د پاره د خاص وخت ټاکل:**د حفظ د پاره داسې وخت ټاکل چې ګېډه خالي وي ځکه کله چې ګېډه له خوراک څخه ډک شي بدن د هغه پر هضمولو کار کوي او ذهن مشغولېږي. نو د حفظ د پاره غوره وخت سهار او مازدیګر دی.

**پنځمه قاعده: د حفظ د پاره مناسب ځای ټاکل** : داسې ځای چې آرام وي سترګې، غوږونه او ژبه ټول حفظ ته متوجه وي.همدارنګه داسې ځای چې اندامونه له حرامو څخه وساتل شي لکه: نا محرمو ته نظر نه کول، د غیبت او بهتان نه کول او داسې نور.

**شپږم قاعده، په ښه صوت او تجوید سره لوستل** :قرآنکریم په ښه صوت او تجوید سره لوستل په کار دي داسې نه لکه د یو عادي کتاب په شان لوستل بلکي په داسې صوت سره لوستل چې تجویدي قواعد واورېدل شي.

**اومه قاعده** :قرآنکریم کې به د یو مصحف څخه حفظ کیږي نه څو قسمه مصحفونو څخه.

**آتم قاعده** :د یادولو او حفظ څخه مخکې به لومړی د قرآنکریم تجوید او صحي لوستل زده کوي د هغه نه وروسته به حفظ کوي.

**نهمه قاعده ،تکرار**: د تیر او نوي درس به ګردان او تکرار کوي ځکه که تکرار نشي له یاده وځي.

**لسمه قاعده** :هر ورځ منظم حفظ تر قطع کولو غوره دی.

**یوولسمه قاعده**:د قرآنکریم آیتونو ته کتل او بیا د حفظ په وخت سترګې پټول، که د حفظ په وخت کې یو بل طرف ته وکتل شي دوماغ مصروفیږي.

**دوولسمه قاعده:** د خپل شیخ او معلم سره ارتباط، هغه ته د درس تکرارول تر څو صحي او علط لوستل ورته معلوم شي.

**دیارلسمه قاعده:** د قرآنکریم په معنی او مفهوم پوهیدل له حفظ سره کومک کوي.

**څلوارلسمه قاعده:** دعا کول او د الله سبحانه وتعالی څخه مدد غوښتل.

**د قرآنکریم د حفظ وخت او زمان:**

- که د ورځې يو آيت ياد شي نو ټول قرآن به په ۱۷ کاله ۷ مياشتو او ۹ ورځو کې ياد شي.
- که د ورځې دوه آيته ياد شي نو ټول قرآن به په ۸ کاله ۹ مياشتو او ۱۸ ورځو کې ياد شي.
- که د ورځې ۳ آيته ياد شي نو ټول قرآن به په ۵ کاله ۱۰ مياشتو او ۱۳ ورځو کې ياد شي.
- که د ورځې ۴ آيته ياد شي نو ټول قرآن به په ۴ کاله ۴ مياشتو او ۲۴ ورځو کې ياد شي.
- که د ورځې ۵ آيته ياد شي نو ټول قرآن به په ۳ کاله ۶ مياشتو او ۷ ورځو کې ياد شي.
- که د ورځې ۶ آيته ياد شي نو ټول قرآن به په ۲ کاله ۱۱ مياشتو او ۴ ورځو کې ياد شي.
- که د ورځې ۷ آيته ياد شي نو ټول قرآن به په ۲ کاله ۶ مياشتو او ۳ ورځو کې ياد شي.
- که د ورځې ۱۰ آيته ياد شي نو ټول قرآن به په ۱ کال ۹ مياشتو او ۳ ورځو کې ياد شي.
- که د ورځې ۱۳ آيته ياد شي نو ټول قرآن به په ۱ کاله ۴ مياشتو او ۶ ورځو کې ياد شي.
- که د ورځې ۱۵ آيته ياد شي نو ټول قرآن به په ۱ کال۲ مياشتو او ۱ ورځ کې ياد شي.
- که د ورځې ۲۰ آيته ياد شي نو ټول قرآن به په ۱۰ مياشتو او ۱۶ ورځ کې ياد شي.

# دولسم فصل
# إعراب القرآن الكريم

الإعراب په لغت کې بیان او تغیر ته وایي او د علم نحوه په اصطلاح کې په کلمه باندې د ځینو عواملو د داخلېدو په وجه د کلمې آخر تغیر او بدلون ته اعراب وایي. لکه :

- ما أحسنُ زيدٍ ؟
- ما أحسنَ زيداً ؟
- ما أحسنَ زيدٌ

وینو چې په لومړۍ جمله کې مقصد د زید د غوروالی په باره کې پوښتنه ده چې کلمه د (أحسنُ) پیښ لري او کلمه د (زید) زیر لري.

او په دوهم جمله کې وینو چې د زید د غوروالی په باره کې تعجب دی چې (أحسن) په زور او (زید) په نصب سره راغلی دی.

او په آخري جمله کې وینو چې د متکلم مقصد د زید نه ښه والی او نه غوروالی دی چې (أحسن) په زور او (زید) په زفع (دوه پیښ) راغلی دی.

**د اعراب اهمیت :**

د قرآنکریم د صحي تلاوت او د معنی پوهېدو لپاره علم إعراب خاص اهمیت لري ځکه قرآنکریم په فصیحه عربي ژبه دی دا چې قرآنکریم صحي تلاوت کړ شي د لحن او غلطۍ څخه ځان وساتل شي او قرآنکریم د صحي معنی ټاکلو لپاره علم إعراب ضرور دی.

د علم إعراب په وسیله حرکات پیژندل کیږي چې د حرکاتو پیژندلو په وجه په تلاوت او معنی کې د لحن او غلطۍ څخه مخ نیوی کیږي.

إعراب د نحو د علم څخه دی د قرآنکريم په صحي تلاوت او په خاص توګه د معنی په تعين او ټاکلو کې علم صرف او نحو خاص اهميت لري.

**د علم اعراب القرآن پيدايښت :**

کله چې اسلامي فتوحات پراخه شول او په اسلام کې عجم داخل شول نو د قرآنکريم په تلفظ کې لحن (غلطی) زياتې شوې نو علماء کرامو د علم نحو د وضع تصميم ونيو اولين کس چې د علم نحو او عربي ژبې قواعدو بنسټ يې کېښود ابو (الأسود الدؤلی) ؤ، او د علم اعراف د تأليف سبب همدا ؤ چې د قرآنکريم غلط لوستلو مخ نيوی وشي.

ښکاره ده چې دا د قرآن العظيم برکات ؤ چې علم نحو مينځته راغلی تر څو د غلطۍ مخ نيوی وشي ځکه چې د قرآن صحي اعراف او صحي تلفظ او لوستل عبادت دی.

**د علم اعراب ګټې :**

۱- د کتاب الله داسې لوستل لکه څنګه چې نازل شوی دی او د لحن او خطاء څخه ځان ساتل.

۲- استنباط د شرعي احکامو.

۳- تعين د قرائت او د هغه د معنی کشف.

۴- تعين او معرفت د وقف او ابتداء، دا علم د علوم القرآن هغه علم دی چې ددې علم پرته د قرآن صحي فهم او ادراک ناشونی دی.

**د اعراب القرآن ضوابط :**

۱- په معنی دهغه ټکې چې بايد په اعراب په نظر کې ونيول شي:

۱- د کلمې د نوع تعين.

۲- د کلمې د حکم بيان د اعراب او بناء له مخې.

۳- د اعراب او بناء ډولونه او د هغو اسباب.

۴- د اعراب د علامې بيان او د هغه سبب.

۵- په جمله کې د اعراب د ځای بیان

**د إعراب القرآن مشهور کتابونه :**

" الإعراب المحيط من تفسير البحر المحيط" الدكتور ياسين جاسم المحيمد

"إعراب القرآن" زكريا الأنصاري

"الياقوت والمرجان في إعراب القرآن" محمد نوري بن محمد بارتجي

" التبيان في إعراب القرآن" أبو البقاء عبد الله بن الحسين

"الجدول في إعراب القرآن الكريم" صافى محمود بن عبد الرحيم

## دیارلسم فصل

## د قرآنکریم په اړه څو مهم مسائل

**د قرآنکریم د عربي متن پرته ژباړه :**

پوښتنه: د قرآنکریم د متن څخه پرته د هغه د ترجمې او ژباړې تلاوت څه حکم لري ؟

ځواب: الحمد لله والصلوة والسلام على رسوله وآله وصحبه وسلم.. وبعد

قرآنکریم د عربي متن څخه پرته په نورو ژبو باندې تلاوت، خپرول او لیکل جواز نلري او هم د عربې څخه بغیر د قرآن د یوازې ژباړې تلاوت د قرآنکریم د تلاوت ثواب نلري ځکه چې قرآنکریم په عربي ژبه نازل شوی دی د عربې څخه پرته د قرآن یوازې ترجمه د قرآن حکم نلري.

لقوله سبحانه وتعالى: وَكَذَلِكَ أَنْزَلْنَاهُ قُرْآَنًا عَرَبِيًّا (طه ١١٣).

وَكَذَلِكَ أَنْزَلْنَاهُ حُكْمًا عَرَبِيًّا (الرعد ٣٧).

قُرْآَنًا عَرَبِيًّا غَيْرَ ذِي عِوَجٍ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ (الرمز ٢٨).

د أم القرى د پوهنتون استاذان د پورته مسئلې د حرمت د بیان وروسته لیکي:

ځینې اسلام دوښمنه حلقي غواړي چې د عربي څخه پرته قرآن خپور کړي او دا کار په امت کې رواج کړي په دې بهانه چې خلک په عربي نه پوهیږي ددې کار څخه د دوی لاندې دوه هدفه دي:

١ -د عربي پر وړاندې جنګ او مخالفت.

٢ -د عثماني مصحف د رسم تغیرول.

ځکه د عربي پر وړاندې جنګ او مخالفت د شریعت د ټولو علومو پر وړاندې جنګ دی او همدارنګه د هغه د اهل او د هغوی د افکارو پر وړاندې جنګ دی، په تحقیق سره پخواني او اوسني علماء په دې باندې متفق دي چې د عربي زده کول واجب دي ځکه چې د نورو شرعي علومو زده کول واجب دي.
الله سبحانه وتعالی ددې څخه عاجز نه وو چې پر بله ژبه قرآن نازل کړي لکن دا د دوښمنانو په زړه کې د عربي پر وړاندې یو حسد او عناد دی.
پس د عربي پر وړاندې مخالفت د هغه ژبې پر وړاندې مخالفت دی کومه چې الله تعالی غوره کړې ده:
إلى أمرين خطيرين تنتج عنهما آثار ناسفة لمقومات الأمة الإسلامية كلها، وهما

١- محاربة اللغة العربية.

٢- تغيير الرسم الاصطلاحي للمصحف العثماني .

ومحاربة اللغة العربية هي محاربة لجميع علومها، واحتقار وازدراء لأهلها، وأفكارهم واجتهاداتهم..
وقد أجمع العلماء – قديما وحديثا – على وجوب تعلم العربية، لأن ما لا يتم الواجب إلا به فهو واجب. ولم يكن الرب – سبحانه – عاجزا عن إنزال القرآن بلغة غير العربية، ومن هنا ينبعث الحسد والحقد في صدور الأعداء ! ومن هنا – أيضا – نعتقد أن كل من حارب اللغة العربية فإنما يحارب اللغة التي اختارها الله (جامعة ام القرى).

**د کمپیوټر، موبایل له مخې د قرآنکریم اورېدل څه حکم لري ؟**

ځواب: الحمد لله والصلوة والسلام على رسوله وآله وصحبه وسلم.. وبعد

د ټیپ، تلویزیون کمپیوټر او کومې بلې وسیلې څخه د قرآنکریم آوریدل جایز دي او همغه آداب یې دي لکه څنګه چې د قاري د خولې نه آوریدل کیږي.

د احناف په نزد په لمانځه کې او د لمانځه څخه د باندې د قرآنکریم قرائت ته غوږ نیول واجب دي په دلیل دغه آیت کریمه: [وَإِذَا قُرِىءَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُواْ لَهُ وَأَنصِتُواْ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ] (اعراف 204).

د جناب نبی کریم صلی الله علیه وسلم عادت شریف دا ؤ چې کله به یې کوم صحابي ته ویل چې ته ماته قرآن وایه زه غوږ درته نیسم: عَنْ عَبْدِاللَّه رضی الله عنه قَالَ: قَالَ لِي النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم: «اقْرَأْ عَلَيَّ». قُلْتُ: آقْرَأُ عَلَيْكَ وَعَلَيْكَ أُنْزِلَ؟ قَالَ: «فَإِنِّي أُحِبُّ أَنْ أَسْمَعَهُ مِنْ غَيْرِي». فَقَرَأْتُ عَلَيْهِ سُورَةَ النِّسَاءِ حَتَّى بَلَغْتُ)فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ بِشَهِيدٍ وَجِئْنَا بِكَ عَلَى هَؤُلاءِ شَهِيدًا(قَالَ» :أَمْسِكْ». فَإِذَا عَيْنَاهُ تَذْرِفَانِ. (بخاری)

عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه وایي ما ته رسول الله صلی الله وسلم وویل (د ما د پاره قرآن ووایه) ومې ویل: څنګه تاته قرآن ووایم حال چې قرآن پر تا نازل شوی دی؟ ویې فرمایل: زه دا خوښوم چې هغه له نورو واروم بیا مې د النسآء سورت ورته تلاوت کړ کله چې دې آیت ته ورسیدم چه: {فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ بِشَهِيدٍ وَجِئْنَا بِكَ عَلَى هَؤُلاءِ شَهِيدًا} ( څرنګه به وي هغه وخت چې د هر ملت څخه یو شاهد راولم او تا د هغوی د پاره شاهد راولم). رسول اکرم صلی علیه وسلم وفرمایل نور بس دی پس ومې لیدل چې د مبارکو سترګو نه یې اوښکي روانې وې.

نو که سړی یوازې وي یا نور خلک وي د ټیپ ،کمپیوټر یا بلې وسیلي څخه قرآن واروي او په هغه کې تدبر او فکر وکړي ډیر د اجر کار دی.
مګر که نور خلک وي او هغوی خبرې کوي د آوریدلو د پاره اشتیاق نه وي نو بیا په زوره نیول يې صحي نه دي ځکه چې هغوی ګناه کاریږي ځکه چې دا د کفارو صفت ؤ چې کله به قرآن لوستل کیده دوی به خبرې او مزاحمتونه پیل کړل لکه په دغه مبارت آیت کې:
[وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لاَ تَسْمَعُوا لِهَذَا الْقُرْآنِ وَالْغَوْا فِيهِ] (فصلت: ۲۶) .
ژباړه: او کافرانو ویل دغه قرآن ته غوږ مه نیسئ او هغه (مهال) بیهوده خبرې کوئ.
قرآن چې په هر ځای کې لوستل کیږي له هغه ځای څخه شیطانان لري کیږي جناب نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمايي:« إِنَّ الْبَيْتَ لَيَتَّسِعُ عَلَى أَهْلِهِ وَتَحْضُرُهُ الْمَلاَئِكَةُ وَتَهْجُرُهُ الشَّيَاطِينُ وَيَكْثُرُ خَيْرُهُ أَنْ يُقْرَأَ فِيهِ الْقُرْآنُ وَإِنَّ الْبَيْتَ لَيَضِيقُ عَلَى أَهْلِهِ وَتَهْجُرُهُ الْمَلاَئِكَةُ وَتَحْضُرُهُ الشَّيَاطِينُ وَيَقِلُّ خَيْرُهُ أَنْ لاَ يُقْرَأَ فِيهِ الْقُرْآنُ»
ژباړه: یقیناً په کوم کور کې چې د قرآن قرائت کیږي هغه کور د کور د اهل د پاره فراخه کیږي ملائکې حاضریږي او شیطانان لرې کیږي خیر يې زیاتیږي او په کوم کور کې چې د قرآن قرائت نه کیږي هغه کور په اهل کور باندې تنګیږي هغې کور نه ملائکي لري کیږي شیطان ورځي خیر يې کمیږي. (رواه دارمي۳۳۷۲ ).

**د کمپیوټر له مخې تلاوت د اوداسه څخه بغیر جایز دی ؟**

ځواب: الحمد لله والصلوة والسلام على رسوله وآله وصحبه وسلم.. وبعد
د کمپیوټر او یا موبایل له مخې د قرآنکریم تلاوت د معاصرو فقهاؤ په اتفاق د مصحف په شان د تلاوت ثواب لري، د

قرآنکريم د تلاوت احکام او آداب به په نظر کې نيول کيږي او همدارنګه اودس کول غوره او بهتره دي، مګر د حدث اضغر (بې اودسۍ) په صورت کې هم جايز دی ځکه د مصحف (په قاغذ باندې د ليکل شوي قرآن) حکم نه لري.
يعنې د کمپيوټر او يا موبايل له مخې د قرآنکريم تلاوت بغير له اوداسه څخه جايز دی.
جاء في فتاوی الاسلام سوال جواب :
فلا مانع من قراءة القرآن من الهاتف النقال، ما دام يقرأ بصورة صحيحة، والقارئ يقرأ مراعياً أحكام التلاوة وآدابها، وإنما تراعى هذه الآداب والأحكام إذا كان الهاتف تظهر على شاشته صفحات المصحف، ويقوم القارئ بمباشرتها بيده، أما عند إغلاقها أو إغلاق الهاتف، فلا يعتبر ذلك مصحفاً ولا يأخذ أحكامه.
أما مسه المصحف وحمله، فقد ذهب جمهور العلماء ومنهم الأئمة الأربعة إلى تحريم ذلك فقد استدل الجمهور بقول الله سبحانه (إنه لقرآن كريم* في كتاب مكنون* لا يمسه إلا المطهرون تنزيل من رب العالمين) [الواقعة: 77-80]

**د کمپيوټر او موبايل نه د قرآنکريم په اوريدلو سجده تلاوت واجبيږي ؟**

ځواب: الحمد لله والصلوة والسلام على رسوله وآله وصحبه وسلم.. وبعد
د کمپيوټر او موبايل نه د قرآنکريم په اوريدلو سجده تلاوت نه واجبيږي.ځکه چې دا د قاري اصل تلاوت نه وي او د څه ذريعو په وسيله د ننه آواز صوت شوی وي (جديد فقهی مسايل ج۱ ص ۷۳)
فتاوی الاسلام سوال جواب د الفتاوی هندية په قول فتوی ورکړی :
وأما سجود التلاوة إذا كنت تستمع آية فيها سجدة من الكمبيوتر أو جهاز التسجيل، فالذي يظهر أنه لا يشرع السجود لذلك. وقد

نص العلماء المتقدمون على قريب من هذه المسألة. فمن ذلك: ما جاء في "الفتاوى الهندية" (133/1) وهو من كتب الأحناف :
" إن سمعها (يعني آية السجدة) من الصَّدَى (وهو ارتداد الصوت من مكان بعيد) لا تجب عليه " انتهى.
فمثله: إذا سمعها من جهاز تسجيل ونحوه.

**ددې حديث چې څوک قرآن په ښه صوت نه وايي له مونږ څخه نه دی مطلب څه دی ؟**

ځواب: الحمد لله والصلوة والسلام على رسوله وآله وصحبه وسلم.. وبعد
دا حديث شريف صحيح البخاري په دې شان نقل کړی دی :
روى البخاري في صحيحه عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «ليس منا من لم يتغن بالقرآن وزاد غيره يجهر به».. « ليس منا من لم يتغن بالقرآن».

په پورته حديث شريف کې «**يتغن بالقرآن**» څخه مطلب دا دی چې د قرآنکريم لوستونکی به قرآن په ښه صوت او حد اقل دومره جهر او زوره سره وايي چې خپله يې واوري، قرآن به په تجويد او خشوع سره وايي او په هغه کې به تدبر کوي تر څو په زړه باندې اثر وکړي.
او د «**ليس منا**» څخه مطلب دا نه دی چې څوک په ښه صوت او تدبر او خشوع سره قرآن نه وايي نو هغه د امت د اهل دين څخه نه دی، بلکي د هغه مطلب دا دی چې زمونږ په سنتو برابر نه دی يعنې داسې کول د سنتو خلاف دي، څوک چې قرآن په تجويد، تدبر او ښه صوت سره نه وايي نو داسې کول ګناه ده.
عمدة القاري ليکي: أي ليس من أهل سنتنا، وليس المراد أنه ليس من أهل ديننا" عمدة القارئ (٢٥/ ١٨٢). وقال التوربشتي- رحمه الله تعالى-: " المعنى ليس من أهل سنتنا أو ممن تبعنا في أمرنا، وهو وعيدٌ، ولا خلاف بين الأمة أن قارئ القرآن مثابٌ

في غير تحسين صوته فكيف يجعل مستحقاً للوعيد وهو مأجور؟
"

ومعناه: أن يحسن القارئ صوته بالقرآن ويجهر به، أما كونه يقرأ قراءة ليس فيها تحزن ولا تخشع، وما لها أثر في القلوب فلا يصح، فينبغي للقارئ أن يحسن صوته ويتلذذ بالقراءة ويجهر بها إذا كان حوله من يستمع، ولهذا قال النبي صلى الله عليه وآله وسلم: (زينوا أصواتكم بالقرآن) هكذا جاء الحديث. فتحسين الصوت بالقراءة، وتجويد القراءة، والتلذذ بالقراءة، والتخشع فيها، مما يؤثر على القارئ ويؤثر على غيره في سماعه كتاب الله

و الله سبحانه وتعالى اعلم

**د قرآنكريم په تلاوت كې د خشوع اسباب څه دي ؟**

ځواب :الحمد لله والصلوة والسلام على رسوله وآله وصحبه وسلم.. وبعد

د قرآنكريم د تلاوت په وخت كې د خشوع څو اسباب په لاندې ډول دي :

١- د ټولو ګناهونو څخه توبه او استغفار، ځكه ګناهونه زړه توروي چې د زړه د كلكوالي سبب ګرځي.

٢- د قرآنكريم په تلاوت كې فكر او تدبر كول، لقوله سبحانه وتعالى: [أَفَلاَ يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ] (النساء ٨٢) (ايا په قرآن كې تدبر او فكر نه كوئ).

٣- قرآنكريم په تجويد او ښه صوت سره لوستل تر څو په زړه اثر وكړي، لقوله سبحانه وتعالى: [ورتل القرآن ترتيلا]

**د ترتيل څخه مقصد دا دى :**

- د حروفو صحيح ادا كول يعنې د خپل مخرج څخه چه د ضا پر ځاى دال يا ظا تلفظ نشي او همدارنګه د حروفو صفات په نظر كې نيول .

- د وقف پر ځای په ښه شان سره دریدل چه وصل او قطع یعنی یو ځای کول او جلا کول د کلام بې ځایه نشي.
- حرکتونه سره کډوډ نشي زور،زیر او پیښ په ښه شان ښکاره ادا شي.
- آواز لږ اوچتول چې د قرآن الفاظ له ژبې اوزي او عوږونه واوري.
- قرآن په ښه آواز دردونکې غږ تلاوت کول چې په زړه اثر وکړي دردناک آواز په زړه ژر اثر کوي.
- شد او مد ښه ښکاره کول چې ددی په ښکاره کولو سره د قرآن لوی شان ښکاره کیږي او له اثر سره مدد کوي.
- د رحمت او عذاب د آیتونو حق ادا کول.

د قرآن لوستونکی باید تر خپله وسه قرآنکریم په ښه صوت سره تلاوت کړي ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایې :[لیس منّا من لم یتغنّ بالقرآن] (هغه له مونږ څخه نه دی چه قرآن په ښه آواز نه لولی).

۴- د قرآنکریم د تلاوت ترک او همدارنګه، مسنونه اذکارو او دعاګانو ترک خصوصاً د سبا او بیګا د ذکر ترک کول د زړه د سختوالی سبب ګرځي، یعنې د الله تعالی ډیر ډیر یادول د زړه د نرموالي سبب ګرځي کله چې زړه نرم شي په هغه کې خشوع را مینځته کیږي او په کلک زړه کې خشوع ځای نه نیسي.

**د زړه د کلکوالي اسباب :**

- غفلت، ډیر خوب او د الله تعالی، عظمت، قوت، انتقام، رحمت او کرم څخه غافله کیدل.
- پنځه وخته لمونځ په جماعت سره نه ادا کول.
- حرام کسب، لکه: سود، رشوت، په تجارت کې فریب د کفارو موالات او نور.

- کبر کول، د خلکو سپک کڼل او خلکو باندې مسخري کول.
- د دنيا د ډيرولو او عيش سره مينه لرل د مرګ، قبر او آخرت هيرول.
- نا محرمو ښځو ته کتل، همدارنګه نا محرمو سړيو ته کتل.
- د خپل ځان سره د حساب او محاسبې نه کول.
- د الله تعالی د ذکر پرته ډيرې خبرې، ډيره خندا، ډير خوراک او زيات خوب.
- په ګناهونو باندې دوام.
- بغير د کوم شرعي سبب څخه قهر او عصبه.
- د کفارو سره تعلق ساتل.
- دروغ، غيبت او بهتان ويل.
- د بدو خلکو سره ناسته ولاړه او تعلق.
- کينه او حسد.
- د وخت بې ګټې ضايع کول.
- د شرعي علم له زده کړې مخ اړول.
- ساحرانو او کاهنانو ته ورتلل.
- د مخدره موادو لکه: شراب، چرس، ترياک ، سګريټ و غيره خوړل او څکول.
- د قرآنکريم د تلاوت او د سبا او بيګاه د اذکارو ترک کول.
- د بې ګټې او فاحشو سريالونو، فلمونو، مجلو او انټرنېټي سايټونو کتل.
- د موسيقۍ اورېدل .
- د دعا ترک کول.

**د معنی نه پوهېدو په صورت کې د قرآن تلاوت ؟**

ځواب: الحمد لله والصلوة والسلام على رسوله وآله وصحبه وسلم.. وبعد

هو د معنی پوهېدو څخه پرته د قرآنکریم تلاوت لوی اجر لري او عبادت دی، د جمهورو فقهاؤ نظر دا دی چې تلاوت یوازې لوستلو ته وايي ،قرآنکريم د رسول الله صلى الله عليه وسلم د دندو او مسئولیتونو څخه یو دنده دا ښودلې ده چې هغه به خلکو ته قرآن تلاوت کوي، لقوله سبحانه وتعالى: [لَقَدْ مَنَّ اللَّهُ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ إِذْ بَعَثَ فِيهِمْ رَسُولًا مِّنْ أَنفُسِهِمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَإِن كَانُوا مِن قَبْلُ لَفِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ] (آل عمران ۱۶۴).

ژباړه: خامخا په تحقیق سره الله تعالى له مؤمنانو سره ډېره لويه ښيګڼه کړی ده چې د هغوی یو تن يې رسول ورولیږه (د هغوی د مینځ او ډلې څخه) چې د هغه آیتونه پرې لولي، او پاکوي يې، او ورښايې هغوی ته کتاب او حکمت که څه هم هغوی له رسول څخه مخکې ښکاره بې لارې وو.

په کوم حديث شریف کې چې د قرآنکريم د يوه توري لس نیکی بیان شوي دي عام دی که د قرآن په معنی پوهيږي او که نه پوهيږي هغه ته د یوه توري په تلاوت باندې لس نیکۍ لیکل کيږي

عن ابن مسعود قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «من قرا حرفاً من كتاب الله فاهُ به حسنة والحسنة بعشرا مثالها لا اقول ((آلم) حرف، الف حرف و لام حرف و ميم حرف» (رواه الترمذی والدارمی) .

ژباړه: د حضرت عبد الله ابن مسعود رضی الله عنه نه روایت دی چه رسول الله صل الله علیه وسلم ارشاد فرمايي: چه چا د قرآن یو حرف ولوستلو، نو هغه یوه نیکی و ګټله او یوه نیکی د الله د قانون د کرم مطابق د لسو نېکيو برابره ده (د وضاحت

لپاره فرمايي) زه دا نه وايم (يعني زما مطلب دا نه دی) چه آلم يو حرف دی، بلکه الف يو حرف دی لام يو حرف دی او ميم يو حرف دی دغه شان آلم ويلو والا بنده ته به ديرش نيکئ ليکل کيږي.
او بل په دليل د دغه حديث شريف :
د بی بی عايشې رضی الله عنها نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي :
«الماهر بالقرآن مع السفرة الكرام البررة والذي يقرأ القرآن ويتتعتع فيه وهو عليه شاق له أجران » (متفق عليه)
ترجمه: چا چې په قرآن کې مهارت حاصل کړی وي او هغه د ياد نه يا د مخې نه په بهتره طريقي سره او بې تکليفه روان لولي هغه به د معزز وفا دارو او فرمانبردارو فرښتو سره وي او کوم بنده چه قرآن پاک د ښه نه يادولو يا د نه روانېدو په وجه سره په زحمت او مشقت سره داسې وايي چه به هغی کې نښلي نو هغه ته به دوه اجرونه ورکول کيږي (يو د تلاوت او بل د زحمت او مشقت). صحيح بخاری و صحيح مسلم.
په پورته حديث شريف کې د «والتتعتع» لفظ څخه مراد عدم الفهم او عدم تعلم دی، د قرآنکريم تعلم عبارت له تعلم د تلفظ او تعلم د معنی دی چې دا بيا لوی اجر لري لکه په قرآنکريم کې چې اشاره ورته شوی ده :
فقد قال تعالى: [ أَفَلا يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ وَلَوْ كَانَ مِنْ عِنْدِ غَيْرِ اللَّهِ لَوَجَدُوا فِيهِ اخْتِلافًا كَثِيرًا ] ( النسآء:٨١) .
ژباړه :آيا هغوی په قرآن کې فکر نه کوي، که چېرې د الله څخه پرته د بل چا له لورې وای نو ډير اختلاف به يې پکې ميندلی وای.
خلاصه دا چې د قرآنکريم تلاوت لوی اجر لري او د صالحو اعمالو د زخيرې کولو ستره وسيله بلل کيږي.

قرآنکریم د الله سبحانه وتعالی مجز کلام دی چې لوی اثر پکې دی.
مسلمان به د قرآنکریم د تلاوت پر مهال د تلاوت آداب او د خپل وس موافق د تجوید احکام په نظر کې نیسي او همدارنګه تفاسیر به مطالعه کوي تر څو څه نا څه د قرآن په معنی او مقاصدو پوه شي.
و الله سبحانه وتعالی اعلم

**په شریکه سره د قرآنکریم ختم کول څه حکم لري ؟**

جواب: الحمد لله والصلوة والسلام علی رسوله وآله وصحبه وسلم.. وبعد:
اول دا چې د قرآنکریم د تلاوت د پاره جمع کیدل د هغه په داسې طریقه ویل چې یو قرآن وایي او نور غوږ ورته نیسي د هغه په معنی کې تدبر او فکر کول واقعاً د خیر کار دی او لوی اجر لري.
پیغمبرصَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ فرمایلي: «مَا اجْتَمَعَ قَوْمٌ فِي بَيْتٍ مِنْ بُيُوتِ اللَّهِ يَتْلُونَ كِتَابَ اللَّهِ وَيَتَدَارَسُونَهُ بَيْنَهُمْ إِلَّا نَزَلَتْ عَلَيْهِمْ السَّكِينَةُ وَغَشِيَتْهُمْ الرَّحْمَةُ وَحَفَّتْهُمْ الْمَلَائِكَةُ وَذَكَرَهُمْ اللَّهُ فِيمَنْ عِنْدَهُ» (مسلم ۲۶۹۹).
ژباړه: هیڅ ډله په یوه کور کې د الله تعالی له کورونو څخه د قران د تلاوت او مطالعې د پاره نه جمع کیږي مګر دا چې په هغوی باندې سکون نازلیږي او له هغوی نه رحمت احاطه کیږي او پریښتې هغوی احاطه کوي او الله تعالی هغوی د هغه چا په مجلس کې یادوي چې له ده سره دي .
دوهم صورت دا دی چې د قرآنکریم سپارې د حاضرینو په مینځ کې تقسیم کړي او هر یو پخپله قرآنکریم په زوره سره وایي چې داسې ډول لوستل مکروه دي ځکه چې په هغه کې ترک استماع را مینځته کیږي اول خو افضل دا دی چې یو بنه لوستونکی یې ووایي او نور عوږ وي په هغه کې تدبر وکړي

خو كه داسې نه وي نو بيا به هر يو قرآنكريم په كراره سره وايي (كفايت المفتي – مفتي كفايت الله رحمه الله).
و يكره للقوم أن يقروا القرآن جملة لتضمنها ترک الاستماع (عالمگيري ۵/ ۳۱۷).

**د كار او شغل په وخت كې د قرآنكريم اوريدل:**

اسلام عليكم ورحمة الله وبركاته !
سوال من راجع به تلاوت قرآن كريم است در صورتيكه در كمبيوتر خود مصروف كار باشد و در عين زمان در كمبيوتر خود قرآن كريم را گوش كند اين كار جواز دارد يا خير؟
تشكر قبلی از رهنمايی تان

بشير احمد

ځواب

بسم الله الرحمن الرحيم

د كار او مشغولتيا په وخت كې د قرآنكريم اوريدل صالح عمل دی چې انسان ته يې اجر ليكل كيږي ، په شرط ددې چې د قرآنكريم احترام او آداب په نظر كې ونيول شي لكه :

۱- د قرآنكريم د تلاوت په وخت چوپوالی او هغه ته غوږ نيول ، لقوله سبحانه وتعالی :[وَإِذَا قُرِىءَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُواْ لَهُ وَأَنصِتُواْ] (اعراف ۲۰۴)

۲- د خپل توان موافق د قرآنكريم په آيتونو كې تدبر فكر كول او د هغه په مقاصدو ځان پوهول ، لقوله سبحانه وتعالی :

[أَفَلاَ يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ] (النساء ٨٠) ( ايا په قرآن کې تدبر او فکر نه کوئ).

او که چيرې د قرآنکريم سمع نه کيږي يا نور کسان موجود وي او هغوی په خبرو مشغول وي بيا يې په زور نيول صحي نه دی ځکه هغوی ګناهکاريږي .

همدې ته ورته پوښتنه له فتاوی الاسلام سوال او جواب څخه شوي ده چې : د کار او شغل پر مهال د قرآنکريم اورېدل څه حکم لري ؟

په ځواب ليکي : د مشغلوتيا په وخت کې د وسائلو څخه د قرآن اورېدل کار د خير دی او انسان ته د هغه اجر ليکل کيږي په شرط ددې چې د خپل وس موافق هغه ته غوږ ونيسي او که د غوږ نيولو امکان نه وي نو بيا داسې کول د قرآنکريم د ادب او احترام خلاف کار (جواز نه لري ) .

ما حكم الاستماع إلى القرآن الكريم أثناء مزاولة العمل أو الانشغال في شيء آخر؟

الحمد لله

استماع القرآن الكريم عبر المذياع أو المسجل ، عمل صالح يؤجر عليه الإنسان ، ولا حرج عليه لو كان يزاول عملا ، أو شغلا ، ما دام يستمع إليه قدر الإمكان ، وأما أن يكون على عمل لا يتمكن معه من الإصغاء إلى القرآن ، فهذا لا ينبغي لمنافاته الأدب والاحترام (الاسلام سوال جواب ) .

**په کټ باندې د قرآنکريم تلاوت جايز دی ؟**

زموږ چپرکټ دوه منزله دی لاندی منزل کی زه یم پاس منزل کی زما دوست دی هغه چه کله پاس ویده وی زه لاندې د قران پاک تلاوت کولی شم؟ الله دی اجر عظیم درکړی

ف ناصری – کویت .

ځواب

بسم الله الرحمن الرحيم

باک نه لري ځکه په اړه يې شرعي ممانعت نه دی راغلی .

الموسوعة الفقهية ليكي : لا بأس بقراءة القرآن في كلّ حال : قائماً أو جالساً ، متربّعاً أو غير متربّع ، أو مضطجعاً أو راكباً أو ماشياً ، لحديث « عائشة قالت : كان النّبيّ صلى الله عليه وسلم يتّكئ في حجري وأنا حائض ثمّ يقرأ القرآن » .
(الموسوعة الفقهية) .

ژباړه : د قرآنكريم په هر حال كې قرائت كول باک نلري ، كه په ولاړه وي ، ناسته وي او په ډه ډه وهلی شكل وي او سپرلې او پياده وي په دليل د دغه حديث شريف : عايشه رضی الله عنها وايي : نبی صلی الله عليه وسلم تكيه كړې وه او زه حائضه ومه او هغه قران تلاوت كولو .

خو دا حكم د ياده ښځه د قرانكريم د تلاوت په اړه دی ، كچيرې د مصحف له مخې وي د مصحف شريف احترام كول پكار دي .

و الله سبحانه وتعالى اعلم

**د حيض په موده کې د قرانکريم زده کړه څه حکم لري ؟**

السلام عليکم ورحمته الله وبرکاته!

زما يوه پوښتنه د حيض په باره کې ده چې ايا يوه ښځه کولای شي چې د حيض په موده کې د قرانکريم زده کړه وکړي او يا هم قران کريم د يوې ټوټې يا د څادر په څنډه سره ونيسي؟
پوښتنه کونکي راته دا هم وويل چې د يوی استاذې نه يې اوريدلي چې د ثواب په خاطر يی نه شي تلاوت کولی مګر دا چې زده کړه يی کوي.

په اسلامی مينه – حيات هجران شيرزاد – سويډن

ځواب

بسم الله الرحمن الرحيم

۱- د حايضي ښځې لپاره په قرآنکريم باندي پرته له غلاف څخه لاس اېښودل ،د قرآنکريم تلاوت کول ، جومات ته تلل او د حيض په موده کې د کعبې د طواف کول جايز نه دي (شرح البدايه ۱/ ۶۸ ) .

د غلاف په اړه شرح البدايه ليکي : لا يمس المصحف الا بغلافه و غلافه ما يکون متجا فيا هنه دون ما هو متصل به کالجلد المشرز (شرح البدايه ) .

يعنې : بغير له غلاف يا پردې څخه د قرآن مسحه كول جايز نه دي ، غلاف داسې چې د قرآنكريم د اصلي جلد يا وقايې نه جلا وي او په هغه كې ايښودل شوی وي .

۲- پروا نه لري چې ښځه په مياشتني عادت كې اذكار او شرعي درودونه لكه تهليل ، تكبير تسبيح او ادعيه ولولي او همدارنګه كولاي شي د سهار ، ماسختن ، ويده كېدلو او له خوبه د پاڅېدلو په وخت كې شرعي او مشروع اذكار او درودونه ولولي او دا هم څه پروا نه لري چې د حيض په موده كې اسلامي كتابونه مطالعه كړي .

و لا بس لحائض و الجنب بقراءة و ادعيه ..و ذكر الله تعالى و تسبح (تنوير الابصار مع الدرمختار ۲۹۳/۱ ) .

و فی البحر رخص المس باليد الكتب الشرعية (البحر الرائق ۱/ ۲۱۲ ) .

د جمهورو فقهاؤ په نزد حائضې او جنب ته جايز نه دي چې د قرآن تلاوت وكړي په دليل د دغه حديث شريف :

«لا تقرأ الحائض ولا الجنب شيئا من القرآن» ( رواه أبو داود والترمذي) .

۳- دا چې د قرآنكريم د تعليم او علم تجويد په باره كې د فقهاؤ څه نظر دی ؟

حكيم امت اشرف على تهانوي رحمه الله ليكي : كچيرې معلمه ښځه وي چې نجونو ته قرآنكريم ور زده كوي د هغه د پاره جايزه ده چې قرآنكريم د هجاء په شكل يا حركاتو يا ټكو وښيي

او يا يې كه په روانۍ ور ته وايي بايد كلمه كلمه او هر لفظ قطع قطع ، قطع يعني د قرآن لوستلو پر مهال يو آيت په يوه نفس باندې پوره نه كړي .

و اذا حاضت معلمة فينبغى لها ان تعلم الصيبيان كلمة كلمة ، تقطع بين كلمتين و لا يكره لها التهجى باالقرآن (زيور بهشتي ، فتاوى هنديه ج ١ ص ٢۴ ) .

همدارنګه ځنو معاصرو فقهاؤ د قرآنكريم تعليم بغير د مصحف له مسحې څخه جايز بللى دى.

لكه اللجنة الدائمة چې ليكي : د حائضې ښځې د پاره د قرآنكريم د تعليم او تجويد درس وركول بغير د قرآن له مسحې څخه جايز دي .

سمعت في (نور على الدرب): أنه يجوز للحائض إعراب القرآن، وأنا أعلم المسلمات التجويد ويأتين إلي من أماكن بعيدة ويكون وقتهن محدودا، هل يحل لي أن أعلمهن التجويد وأصحح لهن بعض آيات من القرآن، أو أتلو لهن أثناء الحيض؟
وكذلك الحائض منهن تتعلم أم تنتظر حتى تتطهر، أفتونا مأجورين، وأنا أقرأ من كتب التفسير المجزأة أثناء الحيض هل هذا جائز أم الأحوط الترك؟

يجوز لك أن تعلمي الحيض التلاوة والتجويد حال الحيض، لكن دون مس للمصحف، وللحائض أن تمس كتب تفسير القرآن وتتعرف الآيات منها، في أصح قولي العلماء.
وبالله التوفيق.
وصلى الله على نبينا محمد، وآله وصحبه وسلم.
اللجنة الدائمة للبحوث العلمية والإفتاء

و الله سبحانه و تعالی اعلم

**په قرآن باندې قسم کول څه حکم لري ؟**

اسلام عليکم ورحمة الله و برکاته

محترمو زه یوه پوښتنه لرم هغه دا چی آیا په قرانکریم باندې لاس ایښودل او بیا چا ته قسم ورکول چه آیا دا خبره ما کړی وه او که نه نو پدې صورت کی کفاره واجبیږی او که نه که ؟

انجنير روح الله وردګ

ځواب

بسم الله الرحمن الرحيم

که څوک په قرآن باندې قسم وکړي د جمهورو فقهاؤ او همدارنګه د احنافو د معتمد قول په نزد حانث بلل کيږي ځکه قرآن د الله پاک کلام دی که قسم مات کړي د قسم کفاره ور باندې واجبيږي .

جاء في فتح القدير :

قال ابن الهمام في فتح القدير: «ثم لا يخفى أن الحلف بالقرآن الآن متعارف، فيكون يميناً كما هو قول الأئمة الثلاثة».

جاء في الموسوعة الفقهية:
الْمُعْتَمَدُ فِي مَذْهَبِ الْحَنَفِيَّةِ: أَنَّ الْحَلِفَ بِالْقُرْآنِ يَمِينٌ ; لِأَنَّ الْقُرْآنَ كَلَامُ اللَّهِ تَعَالَى الَّذِي هُوَ صِفَتُهُ الذَّاتِيَّةُ , وَقَدْ تَعَارَفَ النَّاسُ الْحَلِفَ بِهِ , وَالْأَيْمَانُ تُبْنَى عَلَى الْعُرْفِ . أَمَّا الْحَلِفُ بِالْمُصْحَفِ , فَإِنْ قَالَ الْحَالِفُ : أُقْسِمُ بِمَا فِي هَذَا الْمُصْحَفِ فَإِنَّهُ يَكُونُ يَمِينًا . أَمَّا لَوْ قَالَ : أُقْسِمُ بِالْمُصْحَفِ , فَإِنَّهُ لَا يَكُونُ يَمِينًا ; لِأَنَّ الْمُصْحَفَ لَيْسَ صِفَةً لِلَّهِ تَعَالَى , إذْ هُوَ الْوَرَقُ وَالْجِلْدُ , فَإِنْ أَرَادَ مَا فِيهِ كَانَ يَمِينًا لِلْعُرْفِ .

همدارنګه الشبکة الاسلامية ليکي :
فالحلف بالقرآن الكريم يمين منعقدة عند جمهور العلماء، لأن القرآن كلام الله، فالحلف به حلف بصفة من صفات الله عز وجل. (شبکة اسلامية ۹۱۸۱ رقم ).

د قسم پر مهال په قرآن باندې لاس ايښودل د قسم د پاره شرط نه بلل کيږي خو که د قسم د ثبات او مظبوطوالی د پاره وي جايز دی.

وجاء في قرار مجمع الفقه الإسلامي :

وضع الحالف يده عند القسم على المصحف ليس بلازم لصحة القسم ، لكن يجوز إذا رآه الحاكم لتغليظ اليمين ليتهيب الحالف من الكذب.

و الله سبحانه وتعالی اعلم

**کافر ته د قرآنکريم ورکول څه حکم لري ؟**

ګرانو او معززو استاذانو او د دين لاربنوونکو!

اسلام عليكم ورحمة الله بركاته

لوى ښتن تعالى دى په دين او دنيا كې كامياب او سر لوړي لرئ . زما يوه پوښتنه ده كه مهرباني وكړئ او ځواب يې راكړئ. هغه دا كه يوه كافر چه ايمان يى نه راوړى قران عظيم غواړي. آيا دا جايز ده چه مسلمان قران عظيم الشان كافر ته وركړي كه په دې هكله مفصل معلومات راكړئ ډيره مهرباني به مو وي.

وسلام - عبدالقدير

ځواب

الحمد لله والصلوة والسلام على رسوله و آله و صحبه... بعد:

كه كافر شهادتين و لولي په اسلام كې داخل شي نو قرآن به د هغه په اختيار كې وركول كيږي او يا كه د هغه د اسلام راوړلو هيله پيدا شي نو هغه ته به د قرآنكريم ژباړه ، تفسير ، حديث او نور اسلامې كتابونه وركول باک نه لري .

پرته له دې كافر ته د قرآن وركول جايز نه دي ځكه كيداى شي د هغه اهانت وكړي مګر مسلمان كولاى شي هغه ته د قرآنكريم تلاوت وكړي او هغه د اسلام دين ته دعوت كړي ځكه چې دا د مسلمان ديني مسئوليت دى .

الله تبارک و تعالى فرمايي :

[وَإِنْ أَحَدٌ مِنَ الْمُشْرِكِينَ اسْتَجَارَكَ فَأَجِرْهُ حَتَّى يَسْمَعَ كَلامَ اللَّهِ ثُمَّ أَبْلِغْهُ مَأْمَنَهُ ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لا يَعْلَمُونَ] (التوبه :۶ ) .

ژباړه:که یو له مشرکینو له ستا څخه پنا وغواړي ، هغه ته پناه ورکړه تر څو د الله تعالی خبرې واروي ، وروسته یې د خپل امن ځای ته ورسوه ځکه چې هغوی د ناپوهانو ډله ده .

له رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ روايت دی :« كَانَ يَنْهَى أَنْ يُسَافَرَ بِالْقُرْآنِ إِلَى أَرْضِ الْعَدُوِّ؛ مَخَافَةَ أَنْ يَنَالَهُ الْعَدُوُّ »
(بخاري -۲۹۹۰، مسلم- ۱۸۶۹).

ژباړه: پیغمبر صلی الله علیه وسلم د کفر ملک ته د سفر په وخت کې د قرآنکریم له وړلو منع فرمایلی ، ددې ویره چې قرآن به د دوښمن لاس ته ولویږي.

(د آن لاین اسلامي لارښود پاڼه : دیني پوښتنې او ځوابونه ) .

و الله سبحانه وتعالی اعلم

**د قرآنکریم د تلاوت په وخت کې حرکت یوې او بلې خواته ښوریدل څه حکم لري؟**

احمد زهین لمر

ځواب

**بسم الله الرحمن الرحیم**

د قرآنکریم د تلاوت په وخت کې ښي او چپ طرف ته حرکت او کړیدل باک نه لري ځکه دا عبادت نه دی چې بدعت وشمیرل شي بلکي دا د ځینو خلکو عادت دی.

هغه څه چې له هغو څخه منع شوي يو په دين کې بدعت کول دي ځکه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي :«مَنْ أَحْدَثَ فِي أَمْرِنَا هَذَا مَا لَيْسَ فِيهِ فَهُوَ رَدٌّ»

ژباړه: هر چا چې زمونږ په دين کې نوي شی پيدا کړل کوم چې په دين کې نه وي مردود دي .

(اللجنة الدائمة - ۴/۱۱۶) .

مګر ځينې علماء بيا په دې نظر دي چې داسې حرکات د قرآنکريم له ادب او احترام سره مناسب نه دي بلکې واجب ترک دي چې په دې اړه اوږده بحثونه شوی چې هغه دلته نه ځايږي . و الله تعالى اعلم

و بالله التوفيق و صلى الله على نبينا محمد و اله و صحبه و سلم

خپرونه : قابله دعوت الى الله (آن لاين اسلامي لاربښود )

www.dawat610.com

**مأخذونه**

1. تفاسير (القرطبي ، ابن كثير ..... ) .
2. كتب حديث .
3. علوم القرآن / الأكاديمية الاسلامية.
4. مختصر اتقان في علوم القرآن/امام السيوطي.
5. دراسات في علوم القرآن/الدكتور محمد بكر إسماعيل.
6. المدخل إلى علوم القرآن الكريم- الدكتور محمد فاروق النبهان.
7. إعراب القرآن الكريم-قاسم حميدان دعاس.
8. مختصر علوم القرآن – نظام الدين التركي.
9. المدخل لدراسة القرآن الكريم - الدكتور محمد بحوث .
10. في أصول التفسير، للدكتور فهد الرومي.
11. فصول في أصول التفسير، لمساعد الطيار .
12. علم صرف و نحوه / الأكاديمية الاسلامية .
13. كفايت المفتي .
14. فتاوي هنديه .
15. فتاوي اللجنة الدائمة
16. الدرمختار
17. شرح البدايه
18. بحر الرائق
19. سايټ: آن لاين اسلامي لاربښود
20. سايټ: الشبكة الاسلامية (اسلام ويب ) .
21. سايټ: الألوكة
22. سايټ: الأرقام